

# سیاسي مبارزه

فیض محمد ځلاند

دځوان کهول دسیاسي روښتیا د پاره



# لړلیك

د پیل خبرې ........................ ۷

ځوانان او سیاست؟ ........................ ۷

د بریالۍ مبارزې نهه گامونه ........................ ۱۲

مرکزي که فدرالي نظام! ........................ ۳٤

ځوانان او ټولنه ........................ ٤۰

د بدلون مدیریت ........................ ٤٤

د بابا په کور کې گل‌خان ........................ ٤۷

په ځان پورې خندا! ........................ ۵۱

د افغان ناسیونالېزم اېډیال طراح ........................ ۵٦

د نېسلن منډېلا ژوند او پیغام ........................ ٦۲

ملې اجماع په څه مانا ........................ ٦٦

د مورنۍ ژبې په اړه د پوهنې وزارت پخ دریځ ........................ ۷۰

د محکوم نظام باغي ولسمشر ........................ ۷۷

د نه تاوتریخوالي لار، د څه لپاره؟ ........................ ۸۱

ملي یووالی د اوسني نظام خلاف ........................ ۸٦

د ملي یووالي که انتقالي یا اېتلافي حکومت؟؟ ........................ ۹۲

ملي یووالی د گرنگ پر غاړه ........................ ۹٦

ملي وحدت د شعار تر بریده ........................ ۱۰۰

پاکستان سره څه ډول تړون ته اړتیا ده؟ ............................... ۱۰۴
سیاسي سقوط د چا لخوا؟ ............................... ۱۱۳
بې لومړیتوبه ولسمشر ............................... ۱۱۸
په ارګ کې له عامه ذهنیت سره لوبه ............................... ۱۲۲
په افغان حکومت د بې باورۍ منطق ............................... ۱۲۷
افغانستان د امنیتي رژیم په لومه کې ............................... ۱۳۱
پوتین د غچ په لټه! ............................... ۱۳۵
سمه لار، ملي ویښتیا ............................... ۱۴۰
سعودي د ترکستان په لار ............................... ۱۴۳
سیاسي نقد ............................... ۱۴۷
ټلواله د قومي سیاست په لومه کې ............................... ۱۵۱
د ټلوالې په خېټه درد دی ............................... ۱۵۵
ټرمپ، نړۍ او افغانستان ............................... ۱۶۱
په نړیوال سیاست د ټرمپ اغېز! ............................... ۱۶۳
د رهبرۍ په لور ............................... ۱۶۸
د افغانستان پر سر د امریکا او ایران پټې خبرې ............................... ۱۷۳
د افغانستان په بې ثباتۍ کې د امریکا کردار ............................... ۱۷۹
د افغانستان په شمال کې ویرونکې جګړه ............................... ۱۸۳
جګړه په پښتون - افغان تپل شوې ده ............................... ۱۸۸

د افغانستان راتلونکی ........................................................١٩٢

او افغان (ملت) جوړوني ته اړتیا ................................................١٩٢

اخځونه .........................................................................٢٠١

بودا له بامیانو کډه کېږي .......................................................٢٠٢

له پاکستان سره څه کول په کار دي؟؟ ..........................................٢٠٦

ډیورند لا ژوندی دی ............................................................٢١٠

کوکنار په ارگ کې! ............................................................215

رایه چاته ورکړو؟ ...............................................................٢٢٠

د غني او عبدالله ترمنځ نانندری ................................................٢٢٤

دپای خبرې ! ....................................................................٢٣٠

د ډاکتر فیض محمد ځلاند قلم او مبارزه .......................................٢٣٠

محمد نبي صلاحي ..............................................................٢٣٠

## د پیل خبرې

### ځوانان او سیاست؟

سیاست د انساني ژوند په هره برخه کې احساسېږي. د سیاست علم د همدې محسوس اغېز له مخې ورځ تر بلې خپل ارزښت غښتلی کوي. په یوویشتمې پېړۍ کې، د سیاست د علم او پوهې ارزښت له دې امله هم د پام وړ دی چې نړۍ ورځ تر بلې نږدې کېږي. د هېوادونو تر منځ د سرحدونو ماتېدل، د ګڼو سیاسي مفاهیمو بدلون او د هېوادونو د سیاسي تګلارو اغېز یو پر بل د دې لامل شوی چې نړۍ د سیاست علم ته له هر بل وخته زیاته پاملرنه وکړي.

جورج اوریل وایي، د انساني ژوند هېڅ حرکت، شی یا کړنه له سیاسته بې اغېزې نه ده، د انسان هر ډول کړنه، کردار او عمل سیاسي دی. له دې امله د سیاست زده کړه د انسان ژوند ته ارزښت ورکوي، انسان پیاوړی کوي او په ډېرو نالیدلو، نا ویلو یې پوهوي.

د چرچېل دا وینا ډېره مشهوره ده چې سیاست لوبه نه بلکې یوه جدي دنده ده، له همدې امله د سیاست په سمه توګه ترسره کول، د هر چا د وس خبره نه ده.

په ګران وطن افغانستان کې هم دا اړتیا احساسېږي چې افغان ځوان کهول د سیاست په ژورو ځان پوه کړي. په دې وروستیو کې، د دولتي پوهنتونونو د نوو څانګو، د ولایتي دولتي پوهنتونونو د پراختیا تر څنګ د خصوصي پوهنتونونو راتلل د سیاسي علومو د زده کړې د تندې د ماتېدو ښه مرکزونه ګڼلی شو، خو دا چې په سیاسي علومو کې ګڼ مفاهیم، تګلارې، تیوریانې لا هم موږ واردوو، اړتیا لیدل کېږي چې موږ ژباړو ته مخه کړو، د نورو هېوادونو د سیاسي تګلارو، څېړنو، ځېرنو او شننو څخه ځان خبر کړو.

په دې برخه کې د پوهنتونونو، څېړنیزو مرکزونو او ګوندونو تر څنګ د رسنیو کردار هم ډېر د پام وړ دی، څو ګڼ د کورني سیاست اړخونه علمي کړي، په خپلو ګردي مېزونو، تبصرو، سیاسي پروګرامونو کې د سیاسي زده کړو پوهانو ته ځای ورکړي، څو وکولای شو د سیاست پېچلو مسلو ته ګټورې حللارې پیداکړو.

په دې کتاب کې هڅه شوې چې د سیاست د علم ګڼ تیوریک بحثونه د ګران وطن په روان ناورین کې د عملي اړخ له ذکره سره را برسېره کړای شي، ځوانان وهڅولی شي چې څنګه د روانو حالاتو سیاسي پرتلیز جاج ته مخه کړي، څنګه ځوانان په ورکه کې لار پیدا کولی شي او څه باید وشي تر څو موږ له شته ستونزو د وتلو لار پیدا کړو.

کوښښ شوی چې له دې لارې هم د سیاسي علومو له محصلینو سره مرسته وشي او هم د سیاست د علم له لوستونکو سره، په دې

توګه کولای شو د لوستو افغانانو د پوهې کچه لوړه کړو، عامه پوهاوي ته لار اواره کړو او په افغان سیاست کې د رغنده کردار د لوبولو لپاره وړتیاوې برابرې کړو.

کتاب تر ډېره د نېټې له ذکره سره، د مقالو ټولګه ده چې د لسګونو مقالو له منځه د (سیاسي مبارزې) د عنوان د پاره د فرعي عنوانونو په توګه انتخاب شوي دي. تر ډېره کتاب کې کوښښ شوی چې پېچلي سیاسي تیوریې د سیاست د ډګر له عملي اړخ سره یو ځای بیان شي.

سیاست د سیاسي نظام او حکومت د زده کړې علم دی. کوم ولس چې په سیاسي علومو سمبال وي، هغوی کولای شي په کورني او نړیوال سیاست کې له بل هر چا ښه ولوبېږي. د سیاست معاصر علم لا هم پخپلو کلاسیکو بنسټونو ولاړ ګڼل کېږي. له دې امله د سیاسي علومو مطالعه له هرې زاویې تل د کلاسیکو فلسفو په څېړنه او مطالعه پیلېږي.

د سیاسي علومو معاصرې تیوریانې د نوي پېر د سیاسي لوبو چورلیز بحث ته لار اواروي. په دې توګه دا کتاب تاسو لوستونکو ته د سیاست د پېچلو مفاهیمو ژورې په اسانه او خوږه پښتو ژبه وړاندې کوي چې دا کار د دولت جوړونې، ملت جوړونې، سیاسي تیکاو او پرمختګ بهیر روښانه کوي، لوستونکو ته ګڼ درسونه په ګوته کوي چې په تاریخي لحاظ د هېوادونو له پرمختګ او سوکالۍ سره تړلي ښکاري.

د ډونلډ ټرمپ وروستۍ څرګندونې هم باید له یاده ونه باسو، هغه وایي نن سبا ښه خلک په حکومت نه ګډېږي، سیاست د بېکاره

خلکو په لومه کې بند شوي دي.په کتاب کې ځکه ځای، ځای له تریخ سیاسي نقد څخه استفاده شوې تر څو ځوانان د ولسي- مبارزې د نقد او سیاسي مقاومت له ار سره بلد کړای شي، کوښښ شوی چې ځوانانو ته په دې برخه کې نوې خبرې، نوې لېدونه وړاندې شي کوم وته چې باید افغان ځوان جدي پام وکړي، حکومت، دولت له بدو خلکو خلاص کړئ، پر ځای یې ښه خلک وګومارئ او یا یې ورته وټاکئ، څو د ګران وطن روانه غمیزه ژر پای ته ورسېږي.

سیاسي علوم د ټولنیزو پېښو، مسلو او کردارونو سیاسي اړخ تر مطالعې لاندې نیسي- د سیاسي علومو له لارې انسان کولای شي خپله نړۍ، چېرته چې ژوند کوي، په ښه او اغېزمنه توګه وپېژني، په دې توګه د سیاسي علومو زده کړیال کولای شي په هغو وړو او سترو بدلونونو چې د ده شاوخوا کې دي، مثبت اغېز وښندي.

له سیاسي اقتصاد څخه تر سیاسي فلسفې، جغرافیې، ستراتیژیکو موخو، دا هر څه د سیاسي افکارو څورلیز بحثونه راولاړوي، له دې امله د سیاست زده کړه لازمي ده، څو موږ له دې لارې د ژوند کولو حق تر لاسه کړو او د انساني ژوند د ټولو اړتیاوو په سم وېش کې برخه ولرو.

په پای کې لازمې ده چې د اکسوس کتابپلورنځي او وایګل چاپ څخه مننه وکړم چې زما تورو کرښو ته یې د کتاب سینګار په نصیب کړ، د ارنګه حتمي ده چې له ګران ډاکتر صیب رحیم هلال، قدرمن حبیب وقار او ذاکر جلالي صیب څخه مننه وکړم

چې د کتاب په اېډیټ، سم سمي او سمبالښت کې راسره له زړه مرسته وکړه.

له تاسو لوستونکو هم مننه چې د کتاب لوستلو ته خپل ارزښتناک وخت ورکوی. زما کار به نیمګړتیاوې ولري، هیله ده په سمون کې یې را سره مرسته وکړئ.

په مینه، په درنښت !

فیض محمد ځلاند

کابل، افغانستان

۲۰۱۷/۱۱/۲۷

## د بریالۍ مبارزې نهه گامونه[۱]

مبارزه له انساني ژوند سره تړلې هڅه، جد و جهد دی چې د سوکالۍ او پرمختګ په لوري د یون په مانا هم یادېږي. په نړۍ کې له مبارزې، خوشالۍ، سوکالۍ او بریالیتوب پرته ژوند ناشونی دی. مبارزه دوامداره حرکت مخ په پورته، خوځښت مخ په وړاندې او کوښښ د خنډونو لرې کولو ته وایي. مبارزه د خنډونو، دېوالونو او ګرنګونو له مخې لرې کول دي.

د بشري ژوند ټول پرمختګونه، سوکالي او رڼایي له انساني مبارزې او کوښښ سره نېښتي تکلونه دي. دا چې څنګه کولای شو پر ځای او سمه مبارزه وکړو، په لنډه توګه یې په لاندې نهو ګامونو کې را نغاړو:

### لومړی ګام: پرمختګ او بدلون

د پرمختګ او بدلون له پاره لومړی ګام له اوسني خراب، ناوړه او بد حالت څخه د خپګان او ناخوښۍ اظهار دی، له بېکاره، ناوړه او بې ګټې ژوند څخه ناخوښي ښکاره کړئ، د خپل بې کیفیته او بې ګټې ژوند د بدلون هوډ وکړئ. د نوې لارې د تاکلو په لټه کې

---

[۱] August ٤, ٢٠١٥

شي، پرته له دې امکان نلري چې روښانه او سوکاله منزل ته ورسېږئ. مخ په وړاندې بدلونونه تعریف کړئ او د دې بدلونونو د منلو له پاره ځان چمتو کړئ.

هله پرمختګ کولای شئ چې کله پرمختګ د ځان له پاره تعریف کړئ، خوشالي هدف نه دی، بریالی ژوند خپله د خوشالۍ د راتلو سبب ګرځي. پوښتنه دا ده چې څه ډول ژوند غواړئ؟ د دې پوښتنې د ځوابولو له پاره ځان ته هدف وټاکئ، د هدف د ترلاسه کولو له پاره ولوله، انګېزه او شوق وروزئ، د بدلونونو هیله او انرژي ځان کې را وټوکوئ.

## دویم ګام: ستونزې او فرصتونه

د فرصت او ستونزې تر منځ توپیر زموږ د سلوک او چلند ډول دی، هره ستونزه یو فرصت دی او هر فرصت له ځان سره ستونزې لري. تاسو باید ځان ته فرصتونه جوړ کړئ. دا کار باید پخپله وینه، مینه، اوښکو او خولو ترسره کړئ. کله چې تاسو د غرونو هومره ستونزې تر سترګو کوئ، دا په اصل کې د غرونو هومره لوړ او ډېر فرصتونه دي، هر غر په سر لار لري، بس لږ همت او هوډ ته اړتیا لرئ چې د لوړ غره څوکې ته وخېژئ او بېرته ترې اوارې ته را کوز شئ. کله چې په مخ کې ستونزې وینئ، هغو ته د فرصتونو په سترګه وګورئ، په دې توګه خپل خپګان په خوښۍ بدلولای شئ.

## دریم ګام: سخت کار او لاسته راوړنې

کله چې مو ستونزې لویې په نظر درځي، اړ یاست چې خپله حوصله او هوډ له ستونزو لوړ کړئ، خپل هوډ کلک کړئ او د مخ په وړاندې ستونزو د حل په لوري په زغرده او قوت سره حرکت وکړي. د سترو بریالیتوبونو د ترلاسه کولو له پاره کله هم لنډه لار موجوده نه وي، له سختو ګړنګونو، لوړو ژورو باید تېر شئ، څو لوړو ته ورسئ.

د کار په ترسره کولو کې کوښښ وکړئ، ګټورې او معقولې لارې د کار د ترسره کېدا له پاره را پیدا کړئ، باید په دې پوه شئ چې د ښه شي د جوړولو له پاره ظریف او له مینې ډک کار ته اړتیا ده. هر سهار باید خپل کارونه پلان کړئ او پلان شوي کارونه باید په منظمه توګه ترسره کړئ.

### څلورم ګام: تمرکز

کله هم چې غواړئ کوم کار ترسره کړئ، خپلې سترګې باید پرانیستې وساتئ، فکري تمرکز باید ولرئ، ځان ډاډمن کړئ چې پوه یاست په هغه څه چې تاسو یې غواړئ ترلاسه کړئ، خپل هدف په سمه توګه وپېژنئ. هېڅوک په پټو سترګو ښه نښې ویشتلای.

د ګڼو خلکو ستونزه د توانایي یا وړتیاوو له کمښت یا کمزورۍ نه را پیدا کېږي، بلکې د فکري تمرکز له نه شتون څخه ستونزې را ولاړېږي، موږ ټول څلور ویشت ساعته ورځ او اووه ورځې اونۍ لرو، که تاسو د کارونو په ترسره کولو کې پاتې راځئ، باید د خپل فکري

تمرکـز د سـمولو پـه اړه فکـر وکـړئ، ستاسـو فکـري تمرکـز ستاسـو د کـارونو پـه سـم تـرسره کولـو کـې لویـه مرسـته کـولای شي. د سـم فکـري تمرکـز لـه لارې تاسـو لـه خپلـو هلـو ځلـو او مبـارزې هغـه څـه تـر لاسـه کـولای شـئ، د کومـو پـه اړه چې تاسـو خوبونـه وینـئ، د کومـو چـې تاسـو غوښتنه او هیله لرئ، پرته له دې په ناسمه روان یاست.

## پنځم ګام: مثبت فکر

زموږ فکـري قـوه زمـوږ د شـتون پـه اړه پرېکـړه کـوي، خپـل فکـر د ځـان په اړه سم کـړئ، څـو د سمو کـارونو پـه تـرسره کولـو کـې بریـالي شـئ. تاسـو هغـه ډول ژونـد کـوئ، څنګـه چې فکـر کـوئ، کـوم څـه چـې نـن تجربـه کـوئ، هغـه ستاسـو د فکـر او سـوچ پایلـه ده. کـوم چـې تاسـو پـرون د نـن پـه اړه کـړي دي. کـه غـواړئ دې تـریخ حقیقـت تـه بـدلون ورکـړئ، یـوازینی لار یـې د خپـل فکـر د بـدلون لار ده. کـوم وخـت چې تاسـو پـه اندېښـنه، وېره او زړه نـازړه تـوب کـې تېـروئ، کـه د هغـه نیمایـي هـم د مثبـت فکـر پـه تـرسره کولـو تېـر کـړئ، کلـه بـه هـم پـه ژوند کې اندېښنه ونلرئ.

## شپږم ګام: تېروتنه

ګانـدي وایـي چـې خپلـواکي خپلـه مانـا هغـه وخـت لـه لاسـه ورکـوي کلـه چـې تاسـې د تېروتنـو خپلـواکي ونلـرئ. کلـه هـم چـې تاسـو کـار تـرسره کـوئ، لـه تېروتنـې سره بـه مـخ کېـږئ، ښـه خـبره دا ده کلـه چې تاسې لـه فکـر او زړه نـه د کـار پـه تـرسره کولـو کـې کـار اخلـئ، ستاسـې کـړې تېروتنـې بـه هـم تاسـې سـمې لارې او هـدف تـه د

رسېدو په لوري سموي. ژوند هغه دی، کوم چې تاسې غواړئ. د پرون تېروتنې هېرې کړئ، د هغو د نه تکرار هوډ وکړئ، نن ژوند وکړئ او د سبا له پاره روښانه او ښکلې هیلې له ځان سره خوندي وساتئ. ژوند همداسې دی او ژوند ښکلی دی.

## اووم گام: منل

د باران د ورېدو په وخت کې یوائینی کار چې تاسو یې کولای شئ، هغه دا چې باران اورښت ته پرېږدئ، د ژوند د ښکلي کولو او ښه کولو له پاره نور وخت ته اړتیا نه لرئ، ژوند همدا یو ځل دی، په همدې ځل یې باید ښکلی کړئ، ژوند وکړئ او خوند ترې واخلئ. تاسې که هغه څه چې غواړئ نلرئ، دا په دې مانا نه ده چې تاسې هېڅ هم نلرئ، څه چې تاسئ لرئ، هغه ډېر دي.

یوازې د هغو پېژندل او له هغو د خوند اخیستلو پام ته اړتیا ده. په څه چې پوهېږئ هغه ارزښت لرونکې دي. په څه چې نه پوهېږئ هغه لا ډېر ارزښت لري، ځکه هغه له ځان سره ستاسې د پرمختگ او ودې زېری لري. ژوند به مو تل نیمگړی وي، له ژړو او لوړو به جوړ وي، په دې باید له زړه ځان پوه کړئ، په همدې پوهه کې خوند دی. په یو وخت کې هم خوښ او خپه و اوسئ، لوړه تېره کړئ او مننه وکړئ، وارخطا، اندېښمن او هیله لرونکې و اوسئ، په دې ټولو رواني حالاتو ځان پوه کړئ او خوند ترې واخلئ.

## اتم ګام: باور او ډاډ

کله، کله خوشالي له داسې لورې راشي چې هېڅ فکر يې نشئ کولای، مور د خوښيو په ډول او سرچينو تل نه پوهېږو، خو موږ بايد په دې باور ولرو چې خوښي به راځي. دا سمه خبره ده چې د هرڅه په اړه پوښتنه وکړو، خو کله، کله د ځينو شيانو پوښتنه نه بلکې باور پرې په کار دی.

په دې باور وکړئ چې ډېر کم خلک قصدا نورو ته د زيان رسولو په تکل کې وي. په دې باور وکړئ چې هدف ته د رسېدو ډېرې لارې دي، پخپله پرېکړه باور وکړئ کله چې تاسې د دوو ټاکنو په اړه فکر کوئ. د ځوابونو او حللارو په اړه باور ولرئ، په دې باور ولرئ چې په ژوند کې به تاسې ډېر ځله ډېرې حيرانوونکې خوښۍ ولرئ. باور ولرئ چې سفر خپله ستاسو موخه ده، دا باور هم ولرئ چې دا هر څه په ژوند کولو ارزي. له همدې باورونو سره ژوند بريالی دی.

## نهم ګام: اوسنۍ شېبه

پرون ورځ تېره شوه. سبا ورځ لا هم نه ده را رسېدلې، موږ يوازې نن ورځ لرو، راځئ چې همدا نن، همدا شېبه خپل کار او ژوند پيل کړو. له دې پرته چې اندېښنه وکړو، پرون څه وشول، سبا به څه کېږي، موږ بايد هر نوی پيل همدا شېبه وکړو، موږ د پرون په اړه فکر کولای شو، زده کړه ترې کولای شو، خو پرون سمولی

نشو، مور د سبا په اړه فکر کولای شو، اندېښنه کولای شو، خو دا چې سبا به کله راځي، نه پوهېږو.

همدا شېبه، همدا شېبه چې تاسو دا مضمون لولئ، ستاسې ژوند دی، همدا شېبه مو ژوند ارزښت لرونکی دی، همدې لحظې ته هو ووایئ. خپل ټول پام همدې شېبې ته متمرکز کړئ.

پورته یاد شوي نهه گامونه د بریالی مبارزې، جد او جهد په لوري حرکت دی. مبارزه په دا وروستیو کې له غوسې، کرکې، زور او تاوتریخوالي څخه ډکه شوې ده، زمور هېواد او ګڼ نور هېوادونه په داسې حالت کې د پردیو د موخو، دسیسو او اهدافو ښکار کېږي چې د افغان انسان په واک کې ډېر کم څه پاتې دي، له دې امله، افغان انسان ته په کار ده چې د مبارزې واګې په لاس کې واخلي، د خپلو ارزښتونو، اړتیاوو او راتلونکې له پاره لاس په کار شي، ځکه مبارزه باید په انساني ارزښتونو، وپاړونو او معیارونو ولاړه وي. مبارزه باید د ژوند د پایښت له پاره وي، نه د ژوند د اخیستو په موخه. مبارزه باید له تاوتریخوالي خالي وي، لکه د فخر افغان باچا خان رح مبارزه. زمور د ستونزو په وړاندې بریالی مبارزه د فخر افغان د لارې مزل دی، د همدې لارې پالل دي، په همدې لارې کلک او هوډمن ګامونه اخیستل دي.

یا ربه توفیق !

## پېژندپانه او د افغانستان وجودي فلسفه[۲]

هېوادونه د ځانګړو اړتیاوو له مخې جوړېږي. په نړۍ کې ډېر هېوادونه د نژاد، ژبې، کلتور، مذهب او په دا وروستیو کې د اقتصادي موخو پر بنسټ جوړ شوي دي. سنګاپور د غربي نړۍ د اقتصادي تشبثاتو په ترڅ کې جوړ شو، خو چین د خپل لرغوني کلتور او تاریخ په بنسټ خپل جوړښت ټینګ کړی. پاکستان د اسلام د مذهب په بنسټ له هندوستان څخه بېل شو، خو بنګله دېش بیا د بنګالي نژاد له مخې له پاکستان بېل شو. د المان هتلر اریایي نژاد د برلاسۍ په موخه غوښتل ټوله نړۍ تسخیر کړي او د خپل نژاد لوړوالی په نورو هېوادونو یا ملتونو ومني.

د هېوادونو د وجودي فلسفې راز د همدې توکو په لرلو او نه لرلو یا پاللو او نه پاللو پورې تړلی دی. په یوویشتمه پېړۍ کې ډېری هېوادونه هڅه کوي د خپلې وجودي فلسفې د بیا تعریف لپاره نوي توکي را وړاندې کړي. تر څو د تاریخ له تکرار څخه ځانونه وژغوري. د ختیزې اروپا هېوادونه چې یو وخت یې وجود د پخواني شوروي تر یرغل لاندې خپل شتون له لاسه ورکړ، په دې وروستیو کې د نوو اقتصادي تګلارو په خپلولو غواړي ځانونه د

---

۲ January ۱۹, ۲۰۱٤

نړیوالتوب تر سیوري لاندې د اروپا په اتحادیه کې د بیا ځلې لپاره تعریف کړي.

دوی کور د ننه د اقتصادي تګلارو له لارې غواړي خپل اقتصادي بنسټونه داسې ورغوي چې د دوی د وجود فلسفه د اوږدمهال لپاره تضمین کړي، پخوانی چکسلواکیا چې اوس په چک او سلواک دوه بېلابېلو هېوادونو وېشل شوې، په حقیقت کې دا دواړه هېوادونه په اروپايي اتحادیه کې د نوي وجودي تعریف په خپلولو غواړي خپل وجود په نړۍ کې تضمین کړي.

په نړۍ کې د نوي استعمار[۳] په ځانګړې توګه د امریکا او اروپا د یرغلونو په پایله کې د هېوادونو وجودي فلسفې تر برید لاندې نیول شوې او بیا د نوموړو هېوادونو د شتمنیو د چور او تالان او یا هم له ستراتیژیک ارزښت څخه یې همدې ښکېلاګرو او نیواګرو هېوادونو د ځان په ګټه استفاده کړې ده.

په دې وروستیو کې د سوډان د هېواد وېش د مذهب له مخې د همدې لړۍ یوه ښه بېلګه ده. سویلي سوډان د عیسویانو د اکثریت په بهانه جوړ شو چې د نفتو سترې زېرمې لري، د کوریا وېش په شمالي او سویلي کوریا کې د خپل ستراتیژیک ارزښت ښکار ګڼلی شو.

---

[۳] Neocolonialism, *neo-colonialism* or *neo*-imperialism is the practice of using capitalism, globalization and cultural imperialism to influence a developing country in lieu of direct military control (imperialism) or indirect political control (hegemony).

د هر شي يا موجود ويش د هغه د اجزاوو په وېشلو تر لاسه کېدای شي. د همدې فلسفې په خپلولو سره تېرې دا دی د افغانستان د وېش او ماتولو کوښښ ته ملا تړلې ده. د افغانستان وجودي فلسفه په مذهب ولاړه نه ده ځکه چې (مور افغاني هندوان او سيکهان لرو او يو وخت مو يهود هم لرل) او نه هم اقتصاد افغانان يو له بله سره نښلوي.

افغانستان چې د کوشانيانو ، ساسانيانو، غزنويانو کوم پراوونه تر شا پرېښي د همدې لپاره ترڅو د خپلې طبيعي جغرافيې په خپلولو وکولای شي خپله وجودي فلسفه بشپړه کړي. لوی احمدشاه بابا د همدې حکمت په خپلولو کوښښ وکړ چې د ډهلي تخت ته شا کړي او د پښتونخواه غرونه او رغونه د افغانستان په جغرافيه کې را ونغاړي. دا ځکه چې د افغانستان وجود يوازې د افغانانو تر وجود پورې تړلی دی.

د افغانستان د وجود فلسفه په افغاني هويت پورې تړلې ولاړه ده، که د افغانستان مېشتو قومونو، پرګنو او مليتونو څخه د افغان هويت اخيستل کېږي، دا په لوی لاس په سيمه کې د پښتونستان، ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان جوړېدو ته لاره اواروي دی چې په دې توګه په اسانه او کمه بيه د افغانستان دښمنان کولای شي د افغانستان تجزيې ته لاره اواره کړي.

د افغانستان په پېژندپاڼو کې د افغان کلمه نه يادول، همدې بحث او سوچ ته لاره اواروي دې چې کولای شي په نږدې راتلونکې کې د افغانستان د وجودي فلسفې د جوړېدو تر ټولو ستر توکی له افغانانو وتروړي.

ځینې افغانـــان دا اســـتدلال کـــوي چـــې د افغانســـتان د اســـلامي جمهوریـــت ذکـــر د پېژنـــدپاڼې پـــه مـــخ پـــه دې دلالـــت کـــوي چـــې د پېژنـــدپاڼې لرونکـــی افغـــان دی. د دوی پـــه ځـــواب کـــې دوه دلایـــل وړانـــدې کـــوم، یـــو دا چـــې دا پـــه دې هـــم توجېـــه کېـــدای شي چـــې د افغانســـتان اوســـېدونکی دې افغانســـتانی وي او بـــل دا چـــې کـــه پـــه رښـــتیا هـــم لـــه تاســـې سره د افغـــان هویـــت د یـــاد غـــم وي او د یـــاد پـــه فلسفه یې پوهېږئ نو بیا یې د یادولو تاوان په څه کې دی؟

د نـــړۍ هـــېڅ داســـې تـــذکره نشـــته چـــې پـــه هغـــه کـــې دې د هغـــه ملـــت د هویـــت ذکـــر نـــه وي راغلـــی، پـــه دې وروســـتیو کـــې، ځینـــو هېوادونـــو داســـې تـــذکرې را وویســـتې چـــې پـــه هغـــه کـــې د ملـــت ذکـــر نشـــته ، هغـــوی دم لتـــوالي یـــا د مـــلي یـــووالي هغـــه کـــړکېچن او لانجمـــن پړاوونـــه تېـــر کـــړي دي، په کوم برید چې مونږ اوس ولاړ یو.

هغـــوی لا پخـــوا لـــه دې بریـــدونو بریـــالي تېـــر شـــوي دي. دویـــم دا چـــې اکـــثره داســـې هېوادونـــه بیـــا پـــه پاســـپورټ کـــې د ملـــت یـــادول غـــواړي ترڅـــو وکـــولای شي د خپـــل هویـــت د پېژنـــدګلو لپـــاره لـــه هېـــواده بهـــر د څرګندونې او ویاړ د ښکاره کولو رسمي سند په لاس ولري.

لـــه افغـــان ولسمشر- کـــرزي څخـــه هیلـــه کـــوو چـــې د مشرـــانو او ولسي- جرګـــې د ګـــډ کمیســـیون وروســـتۍ پرېکـــړه توشـــېح نـــه کـــړي او پـــه دې اړه یـــو ځـــل بیـــا لـــه سره غـــور وکـــړي. ســـتره محکمـــه او همدارنګـــه افغـــان حقـــوق پوهـــان او ټولنپوهـــان بایـــد پـــه دې اړه د عامـــه پوهـــاوي لپـــاره کـــار وکـــړي او هغـــه وګـــړي چـــې د پردیـــو پـــه لمســـون او اشـــاره د افغانســـتان د وېـــش او کمـــزورۍ کېـــدو لپـــاره کـــار کـــوي بایـــد عـــدلي او امنیتـــي څارنـــه یـــې وشي، ترڅو د داسې یو ستر ملي خیانت مخه ونیول شي.

یا ربه توفیق

## د افغان هویت په دفاع کې بې وسه غني[٤]

ملتونه د ځانګړو هویتونو پر بنسټ پېژندل کېږي، څنګه چې د انسانانو تر منځ د ځېرې او نوم توپیر موجود دی، همدارنګه د هېوادونو تر منځ د جغرافیې او ملي هویت له مخې د هغوی د حقوقي شخصیت استازولي کوي. کله چې له ملتونو هویت واخیستل شي، لکه له وجوده یې چې اروا و ایستل شي، مرګ او ورکاوی یې حتمي کېږي.

ملتونه د هویت د ساتلو په پار جګړې کوي[٥]، قرباني ورکوي او ان د نړیوالو جګړو د کېدلو سبب ګرځي. د افغان هویت په اړه له پېړیو را هیسې د وخت ښکېلاګرو او نیواکګرو هڅه کړې چې دا ملت بېل کړي او ایل یې کړي. له تېرې یوې لسیزې راهیسې په دې برخه کې ګڼ پرمختګونه شوي، کله د هېواد د جغرافیوي، سیاسي او فرهنګي وېش ډنډورې را پیل شوې، کله یې ملي

---

[٤] September ۳, ۲۰۱۵

[٥] Frank Bechhofer and David McCrone: IDENTITY, NATIONALISM NATIONAL CONSTITUTIONAL CHANGE AND

ترمینالوژي تر ګوابن لاندې نیولې، کله هم نېغ په نېغه پر افغان مېړني هویت برید شوی دی.

پخواني ولسمشر- کرزي د تذکرو قانون ولسي- جرګې او مشرانو جرګې ته د منلو لپاره ولېږه، هلته د ځینو کړیو له خوا په پوره بریالیتوب سره د ملت د ستون د یاد مخه ډب شوه. قانون چې څنګه د کرزي له کابینې تر پارلمانه رسېدلی و، په همغه ډول بېرته کرزي ته د توشېح لپاره ولېږل شو. افغان ولس چې د خپل هویت په محوه خبر شو. کرزي یې وننګاوه چې قانون باید توشېح نه بلکې تعدیل شي او د افغان ستون په کې ور زیات شي. کرزي چې د ولس په نبض پوهېده، د ولس په زور او ملي حساسیتونو ښه خبر و، د قانون توشیح یې وځنډاوه.

ملي یووالي حکومت ته له کرزي ډېرې ناخوالې، نیمګړې دندې او ستونزې ور پاتې دي، خو د ټولو په سر کې ورته حساسه سکالو له افغان هویت څخه دفاع شخړه لا ینحله پاتې وه، خو ډاکتر غني په ډېره بې پروایی، په ناویلې او ناسنجولې توګه یې د نفوس د شمېر قانون توشېح او په دې توګه یې د رسمي جریدې برخه وګرځاوه، ولس په غوسه شو، مدني نیوکې اوج ته ورسېدې، له دې امله غني مجبور شو چې د افغان هویت په برخه کې د مدني، سیاسي او ولسي خوځښتونو استازي ارګ ته ور وبولي.

زه هم د دې مجلس له ګډونوالو وم، ډاکتر غني په ډېر ښاخمن(مغرور) انداز وویل، زه وم چې ولسي- غبرګون مې د افغان هویت د ملاتړ لپاره را وخوځاوه، ځکه که ما دا نیمګړی قانون نه وای توشېح کړی، نو د ولس غبرګون به نه وای را غبرګ شوی، ما

غونډل چې په دې توګه ولس د دې قانون خلاف را وپاروم او بیا د دې قانون د بدلون لپاره له ولس سره په ګډه کار وکړم. زه حیران شوم، چې دې ته وايي دلیل، دې ته وايي لوی فکر!

ما ورغبرګه کړه چې اوس نو یو بل ستر کار هم وکړئ، هغه دا چې د تذکرو وېش ملي کار دی، دا باید له سیاسته جلا کړل شي. د کورنیو چارو وزارت په تخینکي او سیاسي لحاظ دا وړتیا نه لري چې د تذکرو وېش دې په عادلانه او سمه توګه وکړي، نو له دې امله باید له کورنیو چارو وزارت څخه دا مسوولیت کومې بلې خپلواکې ادارې ته بدل شي.

ډاکټر غني را غبرګه کړه لکه په پاکستان کې چې نادارا دا کار کوي. هغه ژمنه وکړه چې ډېر ژر به د یو تقنیني فرمان له لارې دواړه کاره وکړي، د افغان ستون به په تذکرو کې ور زیات کړي او همدارنګه د تذکرو د وېش او د معلوماتو د ښه خوندیتوب لپاره به تر خپلې مشرۍ لاندې یوه نوې اداره جوړه کړي چې دا کار به د ولسي جرګې د ژمنیو رخصتیو (سلواغې) په میاشت کې وکړي.

موږ یوولس (۱۱) تنه چې دې مجلس ته تللي وو، په ډېره خوشالۍ له ارګ رخصت شوو، خوشاله و چې ډاکټر غني د موضوع په ارزښت پوهېږي او کلکه ژمنه یې وکړه چې هر څه به سم شي. د سلواغې میاشت را ورسېده، ژمې په واوره او سړو کې تېر شو، په دې توګه د اشرف غني ګرمه وعده هم مخ په سړېدو شوه.

د ولسي- جرګې له پیل سره دا موضوع هم نیمګړې پاتې شوه، موږ به له ارګ سره وخت ناوخته اړیکه نیوله، د ارګ کشرانو او مشرانو

به ویل چې موږ ټول افغانان یو، له تاسو کلک او په خبره ولاړ افغانان یو، د دې موضوع غم موږ خورو، تاسو ورته اندېښنه مه کوئ.

ستونزه هغه وخت وپرسېده چې ډاکتر عبدالله د وزیرانو په شورا کې د وزیرانو په مرموزه او ډارنه خاموشۍ کې د نفوسو د احوال نیمګړی قانون د تذکرو د وېش بلکې د چټک وېش لپاره بنسټ وګاڼه او په پای کې ولس په دې پوه شو چې ډاکتر غني ورسره دروغجنه ژمنه کړې او باید خپل جدي غبرګون ته تیاری ونیسي. مدني خوځښتونه، سیاسي ګوندونه او په سل ګونه قومي او ولسي جوړښتونه په خوځښت شول، ټولو په یوه خوله د غني د وعدو خبره را غبرګه کړه، یو ځل بیا مو تر منځ د ارګ کشران او مشران غوږ او خوله شول چې د ډاکتر عبدالله له وسه لوړه خبره ده چې ډاکتر غني یې ونه غواړي هېڅوک نشي. کولای تذکرې ووېشي. موږ هم له عبدالله سره د لیدلو تابیا وکړه.

استاد یون او زه خپله له ډاکتر عبدالله سره ملاقات ته لاړو، د چنارو په شغ او شور کې د ارګ ښکلې ماڼۍ د ډاکتر عبدالله په سلیقه برابره راته ښکاره شوه. په دې ملاقات کې له موږ سره د تذکرو مشر- محتاط او د وېش د تخنیکي چارو د پروژې مشر- میرویس علیزي صیب هم ګډون درلود. ډاکتر عبدالله وویل چې دی او د ده ملاتړې د افغان کلمې له یاد سره هېڅ مخالفت نلري، خو دا چې قانون وار د مخه توشېح شوی، نو ښه ده چې قانون عملي شي.

د دې تر څنګ يې وویل چې که ډاکتر غني د کوم تقنيني فرمان له مخې کوم بدلون په کې راولي دی به يې مخالفت ونکړي.
موږ يو ځل بیا خوشاله شوو چې د ډاکتر عبدالله دا وينا به د ډاکتر غني لپاره يوه اسانتیا برابره کړي چې له مخې يې باید تقنيني فرمان صادر شي او د تذکرو ویش ته لار اواره شي.
له عبدالله سره د مجلس ټول جزیات مو خپاره او له ارګ سره شریک کړل. ارګ احوال را ولیږه چې د کابینې په غونډه کې به په دې اړه وروستی تصمیم ونیول شي. موږ د همدې تصمیم په انتظار ولس ته څو ځلي د لاریون نېټه له اونۍ څخه بلې اونۍ ته بدله کړه، په دې کې مو په لسګونه راډیويي، ټلويزيوني او چاپي مرکې او لیکنې وکړې.
بیاهم ارګ مشر- او کشر- د ولس په غوښتنه او اندېښنه هېڅ غوږ ونه ګراوه، څنګه چې موږ په ارګ فشارونه زیات کړل، بلاخره حنیف اتمر له اشرف غني سره په دې اړه لیدنه وکړه، اتمر وویل، ډاکتر غني وايي چې دی بې وسه دی او د افغان یاد کېدای شي سختې ستونزې ورته جوړې کړي. هغوی وړاندیز وکړ چې که د افغان یاد اختیاري شي، نو څنګه؟؟
موږ د لاریون د تدارکاتو کمېټې په ګډه تصمیم ونیو چې لاریون او ولسي- مبارزه لازمي ده، ځکه که نن هویت اختیاري شو، سبا د افغانستان نوم اختیاري کېږي او بله ورځ به مو ټول ملي ارزښتونه په اختیاري بڼه کارول کېږي.
د ډاکتر غني دا بې وسي ګنې پوښتنې ولاړوي چې خپله يې باید په راتلونکي کې ځواب ووایي. څوک چې د هېواد د ولسمشر- په

توګه د خپل ملت د هویت د یاد په وړاندې بې وسه وي، څوک چې نشي- کولای خپلې کړې ژمنې له ولس سره عملي کړي، څوک چې په ولس هېڅ باور نلري، څوک چې هر څه، هر واک او هره پرېکړه تر خپل څادر لاندې راولي او بیا هېڅ پرېکړه نشي- کولی، څوک چې د افغانستان د تاریخ په ټول حساس وخت کې یو ملګری هم ونلري، څوک چې د ولسواکۍ په نامه د بلواکۍ خبرې را پورته کوي، تاریخ به یې په ښه نوم یاد نکړي.

افغان مېړنی ولس به د سپټمبر په پنځم د ولسي- غبرګون د لړۍ لومړی ګام (په کابل کې لاریون) پیل کړي، که ستونزه حل نشوه، د حکومت ستونزې به زیاتې شي، که د لوی څښتن ج رضا وه.

یا ربه توفیق !!!

## بې هویته ملت؟![6]

یوویشـتمه پېـړۍ د جګـړې پېـړۍ نـه ده، پـه دې پېـړۍ کـې د یرغلونـو، جګـړې او زور لـه لارې د هېوادونـو د اشـغال او اېـل کولـو وړاندوبینـــه د تامـــل وړ ده. د اســـتعمارګرو هېوادونـــو لپـاره پـه یوویشـتمه پېـړۍ کـې د اسـتعمار یـوازینۍ لار هغـه د دیپلماسـۍ، اقتصـادي برلاسـۍ، رسـنیزو هلـو ځلـو، معلومـاتي تکنـالوژۍ او د عامـه افکارو د اړولو له لارې شونې ده.

پـه دې پېـړۍ کـې د هېوادونـو د جوړښـت کلاسـیک تعریفونـه نـور بدلېـدونکي دي. پـه دې پېـړۍ کـې د هېوادونـو تـر مـنځ د سرحـدونو د لـه منځـه تلـو لـه لارې د سـیمه ییـزو جوړښـتونو د راتللـو لپـاره لـه هر بل وخت ډېره خوشبیني موجوده ده.

المـان، فرانسـې او ایټالیـا وار د مخـه خپلـې تربګنـۍ شـاته پرېښـې او د یـو لـوی سـیمه ییـز جوړښـت (اروپـایي اتحـادیې) د راتلـو لپـاره لاس پـه کـار شـوي، خـو وکـولای شي د چـین، هندوسـتان، روسـیې، برازیـل او ختیـزې اسـیا د چټـک پرمختـګ پـه وړانـدې خپـل اقتصـادي تـوازن څـواکمن او پیـاوړی کـړي، خـو لـه پورتـه یـاد شـوو ټولـو پرمختګونـو سره، سره دا پـرمختللي هېوادونـه وېـره لـري چـې دوی د ټـولنیز یـا مـلي هویـت لـه کـړکېچ سره مخـامخ کېـدونکي دي، ځکـه یـو المـانی

---

[6] November ۳۰, ۲۰۱۳

په هېڅ صورت دېته نه دی تیار چې د اروپايي په توګه دې خپل هویت په نړۍ کې تثبیت کړي او نه هم یو فرانسوی دې ته زړه ښه کوي چې د اروپا د اوسېدونکي په توګه دې پېژندپانه ولري او د فرانسوي هویت څخه دې ورته تېر شي.

اخر دا ملي هویت ولي دومره مهم دی؟ په حقیقت کې، ملي هویت د انسانانو د ګډو تاریخي، کلتوري، ټولنیزو، مذهبي او سیاسي لوړو ژورو پېژندګلوي ده چې په یوه پېژندل شوې، ځانګړي جغرافیه کې د کلونو لپاره په ګډه اوسېدلي دي. د ژوند ترخې او خوږې شپې ورځې یې په ګډه تېرې کړې دي، ځان ته یې دولت او نظام جوړ کړی او په پای کې یې له نړۍ سره د یو ملت (د یو ستر ګډ کور) په توګه معامله کړې.

کله چې ملت خپل همدا هویت له لاسه ورکوي، هغه په اصل کې خپل تاریخې ویاړونه، کلتوري او فرهنګي ارزښتونه، مذهبي محدودیتونه او په پای کې سیاسي معیارونه له لاسه ورکوي. د نړۍ د هرې کچې هېواد (پرمختللي هېوادونه، مخ پر ودې هېوادونه او وروسته پاتې هېوادونه) ټول د ملي هویت لرونکي دي او د دې هویت د ښکارولو لپاره پېژندپاڼې (تذکرې) لري چې د هر ملت د پېژندپاڼې لرونکی کس په حقوقي لحاظ د خپل ملي جوړښت، نظام، دولت له امتیازاتو (زده کړې، په حکومت کې دندې، ټاکنو کې ګډون، رایه اچول، پاسپورټ لرل، ملکیت او داسې نورو) څخه په برابره توګه ګټه واخلي.

کله چې په یو ملت کې د هویت کړکېچ پیداشي، نو پوه شه چې د ملت د وېش او د نړیوالو استعمارګرو جالونو تر اغېز لاندې راغلی

دی. د هویت بحران د هېوادونو د جغرافیو د بدلون سبب ګرځي، په ۱۹۷۱ مېلادي کال د بنګله دېش هېواد د بېلېدو تر ټولو ستر لامل هغه د بنګالي هویت د بحران مسله وه، د بلوڅانو شاوخوا شپېته کلنه مبارزه د همدې هویت د ترلاسه کولو لپاره ده.

د پخواني شوروي اتحاد له پاشل کېدو سره د پنځلسو هېوادونو جوړېدل د ملي هویت د وېش پر بنسټ وه، ازبکستان د ازبکو، تاجکستان د تاجکو، ترکمنستان د ترکمنو او همدارنګه دا پاتې نورو دوولسو هېوادونو د خپلو ملي هویتونو له مخې خپلواکي تر لاسه کړه.

د ملي هویت د ښکاره کولو یا پېژندلو لپاره نړیوال منل شوی معیار هغه پېژندپاڼه ده چې د نړۍ هېڅ داسې پېژندپاڼه نشته چې له ګڼو ملتونو سره دې شریکه وي، بلکې ټول ځانګړي ملتونه چې په ځانګړې جغرافیه کې، د خپلواک نظام تر چتر لاندې ژوند کوي خپله محدوده (منحصره) پېژندپاڼه لري، د پېژندپاڼې لپاره معیاري جوړښت هغه د ملي هویت څرګندول یا ذکر دی.

په نړۍ کې هېڅ داسې هېواد نشته چې د خپل ملي هویت پر ځای دې د کوم بل ملت هویت لیکلی وي د مثال په توګه تاجکستان د ملي هویت د څرګندولو لپاره (تاجک) کلمه استعمالوي. هغوی کله هم (افغان) نه لیکي، همدارنګه ازبک، بنګله دېشي یا پاکستاني. هو، د ځینو ملکونو ملي هویت د هغه هېواد له نوم سره یو شی وي لکه د پاکستان تابعیت لرونکی پاکستاني بلل کېږي خو د قزاقستان یا ترکمنستان تابعیت لرونکی ترکمنستاني یا قزاقستاني نه دی، هغه ترکمن او قزاق

دی، نـو پـه پېژنـدپاڼو کـې بیـا د مـلي هویـت ذکـر پـه ورتـه توګـه یـادېږي، امریکایـان پخپـل مـلي هویـت امـریکن او د انګلسـتان تابیعـت لرونکـي د بـریټېش هویـت پـه لرلـو ویاړي. لـه بـده مرغـه، پـه افغانسـتان کـې پـه دا وروسـتیو کـې پـه پېژنـدپاڼو کـې د مـلي هویـت (افغـان) پـه یـاد لـویې نانـدرۍ را پورتـه شـوي چـې پـه هـېڅ صـورت، د نړیوالـو او ګاونـډیو هېوادونـو د اسـتخباراتي او اسـتعمارګرو ادارو لـه اغېزو څخه بې برخې نه دي.

د افغانسـتان د ماتېـدا، ایلولـو او مسـتعمره کولـو تـر ټولـو اسـانه لاره د افغانـانو پـه ځـانګړې توګـه پـه قومونـو یـا ملیتونـو وېشـل دي، ځکـه تاجـک افغـان لـه تاجکسـتان، ازبـک افغـان لـه ازبکسـتان، تـرکمن افغـان لـه ترکمنسـتان سره پـه پولـه پراتـه دي چـې پـه اسـانه کېـدای شي د سـیمه ییـزو اسـتخباراتو د اغېـز پـر بنسـټ د افغانسـتان د کمزوري کولو او د دې هېواد د وېشلو سبب شي.

د اسـاسي قـانون پـه څلورمـه مـاده کـې پـه ښـکاره د مـلي هویـت سـتونزه حـل شـوې «د افغانسـتان ملـت (افغـان) لـه پښـتون، تاجـک، هـزاره، ازبـک، تـرکمن، بلـوچ، پشـه یـي، نورسـتاني، ایـماق، عـرب، قرغیـز، قزلبـاش، ګـوجر، براهـوي، او نـورو قومونـو څخـه جـوړ دی. د افغـان کلمـه د افغانسـتان پـه هـر فـرد اطـلاق کېـږي، د ملـت هـېڅ یـو فـرد د افغانسـتان لـه تابعیـت څخـه نـه بـې برخـې کېـږي، پـه تابعیـت او پناه ورکولو پورې اړوندې چارې د قانون له لارې تنظمېږي.»

پـه تېـره څـه لـه پاسـه یـوه لسـیزه کـې د افغانـانو تـر مـنځ د قـومي، مـذهبي او کلتـوري تعصـباتو لپـاره د سـیمې او نـړۍ د اسـتخباراتي

ادارو له خوا ډېر ژور کار شوی چې افغان روڼ اندي، مدني ټولنې، رسنۍ او په پای کې باید دولت ورته جدي پام وکړي.

د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل د ملي ترمینالوژۍ د بدلون هلې ځلې پیل شوې دي. د افغانستان د فدرالي کېدو شومه مبارزه پیل شوه او په پای کې د افغان ملي هویت د له منځه وړو په وړاندې په قانوني اسنادو (د تابعیت پاڼو) په جوړښت کې یوه لویه ظالمانه پرېکړه وشوه. که افغانان دا هر څه په پټو سترګو او تېتو سرونو په ځان مني، نو دا په لوی لاس د افغانستان د ماتېدو، کمزوري کېدو او په پای کې وېش ته لاره اوارول دي چې دا به د افغانانو ټول تاریخي ویاړونه او د افغانستان د روښانه راتلونکي خوبونه له خاورو سره خاورې کړي.

## مرکزي که فدرالي نظام!

هېوادونــه د خپلــو مــلي ګټــو، مــلي سیاســت او ولسيــ غوښــتنو لــه مخــې د خپلــو نظـامونو ډول ټـاکي. پـه نـړۍ کـې هـېڅ داسـې نظام نشـته چـې پـه مطلقـه توګـه د انسـانانو ټـولې اړتیـاوې پـوره کـړي. یا ملتونــو تــه د ځــان بســاینې، پرمختــګ او ســوکالۍ اســاسي تــوکې برابر کړي.

مــوږ پــه یوویشــتمه پېــړۍ کــې، پــه نــړۍ کــې د ګټــو نظـامونو شـاهدان یــو - چــین چــې د نــړۍ پرمختللــی هېــواد او پــه ځــان بســیا ملــت لــري، د کمونېســـتي نظــام لرونکــی دی. ســـعودي عربســـتان چـــې مطلــق مســـلمانان دي، د آل ســـعود د کـــورنۍ لـــه لـــوري اداره کېـــږي چـــې مطلقــه شــاهي نظــام لــري. امریکــا چــې د نــړۍ زبرځــواک هېــواد او د ولسواک نظام لرونکی دی.

سره لــه دې چـــې د نظــامونو ډولونـــه د هېوادونـــو لـــه پرمختــګ او د ولســونو لــه هوســاینې ســره نېــغ پــه نېغــه اړیکــه نــه لــري، خــو بیــا هــم د نظــامونو ډولونـــه او د ولـــس د ارادې تمثیـــل، د ولسيـــ حاکمیـــت د رامنځتــه کېــدو تومنــه او د مــلي ګــډون پــه ځېــر مســایل دي چــې د نظامونو ترمنځ اساسي توپیرونه پیدا کوي.

ملتونه د همدغو سترو ارزښتونو له مخې هڅه کوي، داسې نظام ته لار اواره کړي چې د دوی ملي ګټې، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا په ښه توګه خوندي شي. د شلمې پېړۍ په پای کې د ولسواکو نظامونو زیاتوالی د همدې دلیل له مخې بلل کېږي او ولسونه تر ډېره هڅه کوي چې په دولتي دندو کې ملي اراده او ولسي ګډون زیات شي.

ولس باید په ټولو سیاسي بهیرونو کې ګډون ولري او د ولس له خوښې او نبض سره سم باید دولتونه خپلې چارې په مخ بوزي، په هر ستر او واړه تصمیم کې باید ولس ګډون ولري، نو ځکه د ولسواکو نظامونو ملاتړي ورځ تر بلې زیاتېدونکي دي. په ولسي- نظامونو کې د مرکزي او غیرمرکزي بحث یا د فدرالي او مرکزي بحث حتمي دی.

تامس جفرسن[7] چې د امریکا د اساسي قانون او ملي حاکمیت له بنسټ اېښودونکو څخه دی د ولسواک نظام له پاره د غیرمرکزي اداري شته والی لازمي ګڼي. چرچل هم د انګلېستان د پرمختګ او ولسي- بسایني بنسټ له غیرمرکزي نظام سره تړلی ګاڼه، ګاندي هندوستان ته د غیرمرکزي اداري شته والی د اقتصادي پرمختګ او په ځان بسیا هندوستان بنسټ ګاڼه، د همدې ارزښتونو له مخې تر ډېره هڅه کېږي چې په یاد شوو هېوادونو کې د غیرمرکزي فدرالي نظام ستنې غښتلې شي. (Terchek, ۱۹۹۸ Wiseman)

---

[7] Thomas Jeferson USA's ۳rd President (۱۸۰۱-۱۸۰۹)

خو د دې هېوادونه فدرالي جوړښتونه، ولسي- ګډون او په لويه کې د ولسواکۍ پياوړتيا د پېړيو اصلاحاتو، سياسي بدلونونو او سترو ستراتيژيو پايله ګڼلی شو.

په نړۍ کې هيڅ هېواد له پيل څخه د ولسواکۍ يا کوم بل نظام د خپلولو پرېکړه نه ده کړې. په افغانستان کې د ولسواک نظام شاوخوا دوولس کاله پوره کېږي. په ۲۰۰۴ مېلادي کال د افغانستان اوسنی اساسي قانون د لويې جرګې له لوري په رسمي توګه ومنل شو. سره له دې چې افغانان د ولسواکو جوړښتونو مخينه لري، د جرګې شتون، په کلتوري توګه د ولسي- ګډون بحثونه له پخوا څخه د افغانستان په سياسي تاريخ کې ثبت دي، خو بيا هم د خلکو په رايه د ولسمشر- ټاکل، د کابينې جوړول، د مشرانو، ولسي- جرګې ټاکنې، د ولايتي او ولسواليو شوراګانو ټاکنې هغه څه دي چې په افغانستان کې ولس ته نوي او د تجربې وړ ښکاري.

په داسې حالت کې چې افغانستان لا هم په جګړه کې ښکېل دی، د جګړې لوری په قومي، ژبنيو او ان مذهبي پاړکيو وېشلی کېږي، د نړۍ ستر استخباراتي شرکتونو د افغانانو په کور، کلي او کهول کې پراخې ريښې غزولې دي.

په دې حالاتو کې د سياسي ګډون، د ولسواکۍ د بنسټونو د پياوړي کېدو، د سياسي اصلاحاتو د رامنځته کېدو سخته اړتيا ليدل کېږي. زموږ سياسيون د دې پر ځای چې د ولسواکۍ د بنسټونو د پياوړي کېدو بحث ته لار اواره کړي، په لوی لاس د

ملي وېش، د واک او سیاسي اقتدار د وېشلو او د انارشۍ د پیاوړي کېدو بحثونه کوي.

د فدرالي افغانستان د رامنځته کېدو تجربه کېدای شي افغانستان کې د وېتنام، کوریا، سومالیا، ان د المان ترخې تجربې تکرار کړي. په کوریا کې سره له دې چې سل سلنه د یو توکم، یوې ژبې، یوه مور او پلار اولاده په خاوره او تاریخ ګډ وو، د فدرالي جوړښتونو، د کاواکه ولسواک نظام او جګړې په پایله کې د نړیوال استخباراتي جال په لومه کې رانښکېل او ووېشل شول. ایا افغانستان چې له بېلو توکمونو، ژبو، کلتورونو او ان مذهبونو جوړ ملت دی، د وېشلو چاره به یې سخته یا ناشونې وي؟

د فدرالي جوړښتونو تر ټولو سخت ګذار په ملي یووالي یا د ملي یووالي په روحیه وي. په دې مانا چې فدرالي جوړښتونه په هېواد کې دننه بېلو بېلو کورګیو ته زمینه برابروي، چېرته چې جګړه واکمنه وي، زور زیاتی وي، تاوتریخوالی په کلتور بدل شوی وي، هلته فدرالي جوړښتونه ملي بنسټونه نړوي.(Wiseman)

دویم لوی تاوان یې د اکثریتي استبداد رامنځته کېدل ګڼل کېږي، په دې مانا چې د فدرالي جوړښتونو په سیمو او ولایتونو کې د اکثریت واکمنۍ ته لار اوارېږي، اقلیتونه له پامه غورځول کېږي او د بشري ناورین د جوړېدو دلیل ګرځېدی شي. د دې تر څنګ د اکثریتي استبداد له کبله فساد ته لار اواروي، د اقلیتونو شته او ګټې له ګوانښ سره مخ کېږي او په دې توګه د اداري، اخلاقي او اقتصادي فساد بېلګې په کې ډېرېږي.

درېیم، د فدرالي جوړښتونو بل ډېر ستر تاوان چې تر سترګو کېږي هغه د بډای او نادار ترمنځ واټن دی، په فدرالي جوړښتونو کې د سیمو ترمنځ اقتصادي توپیر ته لار اوارېږي. کوم ولایتونه چې ستر ګمرکي عواید ولري، پیاوړي کسان او د عوایدو د رامنځته کېدو له پاره زېرمې او شته ولري، له هغو سیمو سره چې د ګمرکي عوایدو کچه یې ټیټه وي، د طبیعي زېرمو، کانونو څخه بې برخې وي، په اقتصادي لحاظ یې واټن ډېرېږي چې دا په ملي کچه د یو هېواد د ملت ترمنځ د اقتصادي واټن د زیاتوالي او د ملي یووالي د وېشلو دلیل ګڼل کېږي.

د پورته دلایلو له مخې ګڼ هېوادونه کوښښ کوي چې د فدرالي جوړښتونو له جوړېدو څخه د مخه د اداري چارو، سیاسي کړنو او اقتصادي فعالیتونو او ظرفیتونو د جوړېدو له پاره کار وکړي. غیرمرکزي اداري جوړښتونه کولای شي د سیمو په کچه د وړتیاوو د لوړېدو دلیل شي. همدارنګه د سیمې په کچه د ولایتي، ولسوالیو شوراګانو تاکنې د سیاسي غیرمرکزي پیاوړي کېدو، د مشارکت د لوړېدو او د مشروعیت له زیاتېدو سره مرسته کوي. همدارنګه د بودیجوي پلانونو له غیرمرکزي کېدو سره د اقتصادي ببخ بنسټ د جوړېدو او په ځان بساینې سره مرسته کوي.

افغان ولس، سیاسیونو او حکومت ته په کار دي چې په پیل کې د ولسي- ګډون، سیاسي پوهې، د ملي یووالي روحیې او د ولسواکۍ د بنسټونو د غښتلي کېدو فکر وکړي، داسې لارې چارې پیدا کړي چې جګړه ختمه او سوله حتمي شي.

ملي يووالی وساتل شي. د ولس لومړيتوبونه په نظر کې ونيول شي او له هغه وروسته د نظام د بدلون او فدرالي جوړښتونو د رامنځته کېدو له پاره فکر وکړي. ما ته ښکاري افغان سوله، افغان پرمختګ او ځان بساينه به لسيزې ونيسي- څو موږ د دې جوګه شو چې د يو فدرالي نظام په اډانه کې ګډ ژوند جوړ کړو.

يا ربه توفيق

## ځوانان او ټولنه

دا یو منل شوی اصل دی چې د ځوانانو د تحرک او خوځښت قوه د ټولنې، ملتونو او هېوادونو د پرمختګ او د سوکالۍ مشین او څواک ګڼلی کېږي. د نننۍ نړۍ ټول پرمختګونه د ځوانانو د سپېڅلي احساس، څواک او پوهې پایله ګڼلی کېږي. پرمختللې نړۍ د ځوانانو روزنې او پالنې ته ډېر پام کوي، خو په وروسته پاتې او سنتي ټولنه کې بیا د ځوانانو کردار له نظره غورځول کېږي. کلتوري، دودیزې او ټولنیزې ستونزې په وروسته پاتې ټولنې او هېوادونو کې د ځوان څواک له زیرکتیا او غښتلتیا څخه بې برخه وي. د وروسته پاتې هېوادونو د مهاجرتونو د کچې لوړوالی یو علت له ځوانانو څخه پر ځای ګټه نه پورته کول دي، د ځوانانو د تقویه کولو او د هغوی د پیاوړي کولو د پروګرامونو نه شتون دی چې هره ورځ په سلګونه زره ځوانان له وروسته پاتې نړۍ د پرمختللې نړۍ په لور د سختو لوړو ژورو څخه تیرېږي، د کاهل بحر په مرګونو څپو کې هره ورځ ځوانان د روښانه راتلونکې په یار خپل ژوند له لاسه ورکوي.

د دې تر څنګ په وروسته پاتې هېوادونو کې سیاسي مشران، د جګړې اتلان او د پردیو غلامان د ځوانانو له څواک څخه د ځان په ګټه په جګړه کې ګټه پورته کوي. له بده مرغه، پورته تولې

بدمرغې زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې هم له کلونو تر سترګو کېږي، دلته ځوانان د اردو، پولیسو په لیکه کې د حکومت په ګټه او د حکومت د مخالفینو په ګټه په جګړې کې خپل سرونه قربانوي، له دواړو لوریو د دې سربښندنو قدر نه کېږي. په افغانستان کې لا هم ځوانان د سنتي سیاست، قومي جوړښتونو او د پردیو په مټ رامنځته شوي سیاسي تکیدرانو په مټ له سیاست، تولنیزو دندو او مسوولیتونو او نورو اغیزمنو دندو څخه لرې ساتلی کېږي.

له ګران هېواده هره میاشت په سلګونه تکړه او غښتلي ځوانان اروپا ته له سختو لارو ګودر مهاجرت یا کډوالي ته مجبوره کېږي. د ځوانانو د غښتلتیا یا پیاوړتیا د منظمو پروګرامونو نشتون دا ستونزې ورځ تر بلې غوښنې کړې دي، Youth Empowerment نظریې[٨] له مخې ځوانان باید په اخلاقي، تشکیلاتي او کتلوري لارو چارو له مخې ورزلی شي، د هغوی صلاحیتونه، مسوولیتونه او دندې باید معلومي شي، د دندو او مسوولیتونو د موثره ترسره کیدا دپاره هغوی ته د ښوونې او روزنې زمینه برابره شي. د Youth Empowerment پروګرامونو له لارې ځوانانو ته د تصمیم نیولو او عملي کولو لارې چارې په ګوته کېږي او په دې توګه هغوی د هېواد په پرمختګ، رغونه او سوکالۍ کې د خپل ځواک د پرځای استعمال وړتیا پیدا کوي. د

---

[٨] د لا زیات معلوماتو د پاره : http://www.youthempoweredsolutions.org/wp-content/uploads/۲۰۱۳/۱۱/Youth_Empowerment_The_Theory_and_Its_Implementation_YES-۱۱-۱۳-۱۳.pdf (Meredith King Ledford, Bronwyn Lucas, Jeanne Dairaghi, & Ravelli, ۲۰۱۳)

همدې پرواګرم له مخې په نړیواله کچه هېوادونه یو له بل سره سیال ګرځي، د هېوادونو پرمختګ کوټلی کېږي او ولسواکۍ ته لار هوارېږي. (Meredith King Ledford, Bronwyn Lucas, Jeanne Dairaghi, & Ravelli, ۲۰۱۳) (Team, ۲۰۱۱)

د ځوانانو په روزنه کې چاپي او غیر چاپي رسنۍ، ښوونځي، پوهنتونونه، مدني او کلتوري ټولنې، سیاسي ګوندونه او پخپله حکومتونه لوی لاس لري. عامه پوهاوی، د ځوانانو د روزنیزو پروګرامونو، جوماتونو او اسلامي تاریخ د دروسونو له لارې افغان حکومت او ملت کولی شي د ځوانانو د پیاوړتیا پروګرام په ټول هېواد کې په ښه توګه ترسره کړي، خو د دې کار د پاره دولتي هوډ او د ملت مرسته او غوښتنه په کار ده. په پرمختللي نړۍ کې ټول سیاسي ګوندونه د ځوانانو د روزنې ځانګړي څانګې لري، چې د هېواد د راتلونکي د پاره په ملي روحیه سمبال لیډران یا رهبران روزي، زموږ په هېواد کې له بده مرغه لومړی خو ملي سیاسي ګوندونه نشته، که شته هغوی ورته پروګرامونو ته هیڅ پام نلري.

د ځوانانو مسولیت د ټولنې په اصلاحاتو کې، د ادارو په تصمیم نیونه کې، د ټولنیزو چارو په ترسره کولو کې او دارنګه د پرمختګ د پروګرامونو په ترسره کولو لازمي ګڼل کېږي، افغان حکومت او مدني ټولنې باید دې مسولیتونو ځانګړی پام وکړي، تر څو د افغانستان د راتلونکي تضمین ترسره شي. ځوانان د هېوادونو د پرمختګ، سوکالۍ او روښانه راتلونکي یواځیني ضمانتونه دي، چې هېوادونو یې په ډېر پام او جدي توګه ترسره کوي .د ارنګه په

نړیواله کچه باید د افغانان ځوانانو د روزنې د پاره افغان حکومت پام وکړي، په نړۍ کې ګڼ روزنیز پروګرامونه او علمي مراکز شته چې د ځوانانو د سالمي روزني او پیاوړتیا دپاره وخت ناوخته سیمنارونه او روزنیز پروګرامونه ترسره کوي، افغان حکومت باید په دې غونډو او سیمنارونو کې د افغان ځوانانو ګډون لازمي کړي .

د سوکاله، پرمختللي او لوی افغانستان په هیله!

## د بدلون مدیریت[٩]

بدلون د بشري پرمختګ یوازینۍ لار ده. له پېړیو راهیسې بشري ټولنې، انسان خپله او ان هغه چاپېریال چې انسان په کې ژوند کوي وخت ناوخته د بدلون د منلو په پایله کې دا دی د ټکنالوژۍ او پرمختګ یو داسې پړاو تېروي چې د بشري ځواک وړتیا په کې له ورایه را ښکاره ګندېږي.

ټولنیز بدلونونه د یو منظم جوړښت په رامنځته کولو سره ترسره کېدای شي. په معاصره نړۍ کې د بدلون اسباب او علتونه ډېر دي. نړیوالتوب یا ګلوبلایزېشن، د ټکنالوژۍ پرمختګ او په پای کې د هېوادونو او انسانانو تر منځ بې سرحده تړاو او اړیکې د دې سبب ګرځېدلې دي چې مونږ باید څټکو بدلونونو ته اماده وو. له دې امله په ټولنو کې د بدلونونو د منلو او جذب قوه یو لازمي فکتور دی چې کولای شي د معاصرې نړۍ له بېلابېلو پروګرامونو او پروژو څخه په استفاده دا بدلونونه د ځان په ګټه تمام کړي.[١٠]

---

[٩] March ٢٤, ٢٠١٤

[١٠] د لانورې مطالعې دپاره: ,Change Management: Leadership Guide ولولئ.

په اوسنۍ پرمختللې نړۍ کې بدلونونه عموما د بهرنیو فکتورونو په پایله کې راځي، نسبت دې ته چې د بدلون داخلي فکتورونه دې په نظر کې ونیول شي. هغه ټولنې یا جوړښتونه کولای شي له دې بدلونونو څخه لویه ګټه واخلي چې بدلون ته تیاری ولري. د بدلونونو د رامنځته کېدو څلور منل شوې لارې په لاندې توګه دي:

١. ستراتیژي، موخې او پړاوونه؛
٢. د اندازه اخیستنې د سېستم لرل؛
٣. د لومړیتوبونو لرل؛
٤. د بدلون د مدیریت د وړتیاوو لرل.

د دې له پاره چې مونږ د بدلون د ډول او لارې په اړه فکر وکړو، ښه دا ده چې د بدلون د مدیریت په اړه پوه شو. د بدلون مدیریت په لاندې څلورو لارو ترسره کېدای شي:

١. په لویه کې د رامنځته کېدونکو بدلونونو پېژندنه؛
٢. د خپلې ټولنې یا اداري جوړښت له اړتیاوو سره سم د بدلونونو د رامنځته کولو میکانېزم؛
٣. د رامنځته کېدونکو بدلونونو له پاره د لازمو روزنیزو پروګرامونه ترسره کېدل؛
٤. د بدلون د رامنځته کېدو له پاره د لازمي چاپېریال او ولسي ملاتړ رامنځته کول.

د هر بدلون د رامنځته کولو له پاره باید وار د مخه یوه ټولنیزه ارزونه وشي، څو د بدلون د لازمي کېدو او یا هم د بدلون اړتیا وارزول شي. بدلون باید په ټولنه کې د پرمختګ، هوساینې او سوکالۍ سبب شي. د بدلون د مدیریت له مخې باید د بدلون پروسه، اهداف او تګلارې په منظمه توګه په ګوته شي. که مونږ تمه لرو چې د بدلون لار دې په سمه توګه ترسره شي، نو باید لاندې ارزونې له ځان سره ولرو:

- د ځانګړو اهدافو ټاکل، کوم چې باید د بدلون په پای کې رامنځته شي؛
- د بدلون ټول پړاوونه باید په منظمه توګه همغږي او منظم شي، ترڅو د بدلون پروسه په سمه توګه ترسره شي؛
- د بدلون د منلو له پاره لازم روزنیز پروګرامونه باید ترسره شي؛
- د بدلون د رامنځته کولو له پاره باید چاپېریال برابر شي؛
- د بدلون په اړه باید عمومي هوکړه موجوده وه.

که مونږ د بدلون تمه لرو، باید تر ټولو د مخه ځان د بدلون له پاره تیار کړو، همدا د بدلون سمه لار ده.

## د بابا په کور کې گل‌خان[١١]

د ای ایس ای په مټ جوړ شوی، د پنجابي ټلویزون چې د ویاړلي (خیبر) نوم یې پرې بدرنگ کړی، تل یې د لوی افغانستان په خلاف دسیسو، پروپاګند او سپکو، سپورو ته کار ویلی دی. په دې وروستیو کې یې د اسفندیار ولي‌خان له زوی ایمل اسفندیار سره مرکه کړې چې دې (ماشوم گل‌خان) په کې د پښتنون بابا ( فخر افغان) او خپل نیکه ولي‌خان د نظریې، تګلارې او اند په خلاف داسې اوتې بوتې ویشتلې چې د ګڼو څوانانو، د لوی افغانستان د مبارزو حوصلې یې را تنګې کړې دي.[١٢]

خیبر ټلویزون د اګست په څوارلسمه د پاکستان د خپلواکۍ د ورځې جشن په لوی لاس په پښتنو منلو ته لار اواره کړې، ګڼ پښتانه هنرمندان یې په کې په دې نامه کېنولي چې ګواکي

---

[١١]گل خان: د پښتون افغان دپاره په پاکستان کې استعمالیدونکی سمبولیک نوم دی چې د پنجاب تر نیواک لاندې د پښتون ـ افغان په فکري غلامۍ را څرخي.

[١٢]د ایمل ولي خان د خبرو د اوریدو د پاره لاندې پته.
https://www.facebook.com/search/str/%D٨٪.A٧٪.DB٪.٨C%D٩٪.٨٥٪.D٩٪.٨٤+%D٩٪.٨٨%D٩٪.٨٤٪.D٩٪.٨A+%D٨٪.AE%D٨٪.A٧٪.D٩٪.٨٦+%D٨٪.AF+%D٩٪.BE%D٨٪.A٧٪.D٨٪.B٣٪.D٨٪.AA%D٨٪.A٧٪.D٩٪.٨٦+%D٨٪.A٨٪.D٨٪.A٧٪.D٨٪.B١٪.D٩٪.٨٧+%DA%A٩٪.DB٪.٩٠/keywords_blended_videos

پښتو ژبې، کلتور او فرهنگ ته به گډ کار کوو، حال دا چې دوی غواړي نړۍ او سیمې ته پښتانه د پاکستان د چوکیدارو په توگه وراندې کړي.

د خیبر ټلویزیون د پښتونخوا له گل خانیانو ډک دی، گل خان د پښتونخواه هغه کرکټر دی چې د پنجاب چوکیدارۍ او مزدورۍ ته یې د ژوند تر ټولو ستر رسالت او کار ویلی دی. گل خان د پنجاب د هر امر تابعدار دی، گل خان د خپل د پلار کور افغانستان دښمن پښتون دی چې د پاکستان په استخباراتو، پوځ او حکومت کې د پاک سرزمین ترانې ته لاس په نامه ولاړ وي.

گل خان هغه پښتون دی چې برېتونه غټ کړي، نو ځان ورته نر ښکاري او بیا د لاهور په هېرا منډیي کې لکه سخوندر شخوند وهي. گل خان هغه تعلیم یافته پښتون دی چې د اسلامیه کالج، پېښور پوهنتون او د پاکستان په حکومت کې د پنجاب هر سرکوزي ته یس سېیر، یس سېیر ناره په خوله راوړي، په اردو ویلو ځان ورته متمدن او په پښتو ویلو ورته ځان سپک ښکاري، گل خان د پښتونخوا د خپلواکۍ، د لوی افغانستان د مسولیت او د ازاد پښتون دښمن دی. گل خان د پنجاب پیداوار دی چې ورځ تر بلې ځان په یو نوم او بل نوم شرموي.

گل خان یوازې په پښتونخوا کې ژوند نه کوي، گڼ گل خانیان نن سبا په کابل، ننگرهار، خوست، کندهار، هلمند، کندز او د افغانستان په گڼو سیمو کې ژوند کوي، دا گل خان د پښتونخوا د گل خان په پرتله ډېر مضر- او خطرناک دی، ځکه دا گل خان د پښتو

د اصلي ټاټوبي افغانستان په زړه کې د لوی افغانستان له داعیې او مبارزې سره دښمني کوي. دا ګل‌خان د پښتونخوا پښتون ته د پاکستاني په سترګه ګوري، د لوی افغانستان دعوه ورته بابېزه او بېځایه ښکاري، پاکستان ورته له تورخم پیلېږي، دا ګل‌خان د پېښور افغان ورور پردی ګڼي، دا ګل‌خان له پاکستان سره د ښو اړیکو په پلمه غواړي د ډیورند کرښه په رسمیت وپېژني. د دې ګل‌خان کار په کابل کې د سیاسي مصلحت تر نامه لاندې ملي خیانت ته زړه ښه کول دي، دا ګل‌خان د مضر- احتیاط تر نامه لاندې د پښتو قدرمنې ژبې په ستوني پښه ږدي، دا ګل‌خان دري - فارسي ویل ورته ویاړ او پښتو ویل، لیکل او پالل ورته تعصب او سپک کار ښکاري، دا ګل‌خان ډېر خطرناک دی، ډېر مضر- ورځچاری، ځانچاری، مړغوږی او ټېر دربی دی.

خو زه راځم نېغ په نېغه د اسفندیار ولي‌خان او په لویه کې پر عوامي نشنل ګوند باندې غږ کوم چې دا تمه له تاسې نه کېده چې په دې غټه قواره دې ګل‌خان په کور کې را لوی کړي، د پښتون په ټبر کې دې داسې کار وکړي چې پښتون ولس پرې وشرمېږي.

دا تمه ترې هم نه کېده چې د ایمل‌خان په جامه کې به ګل‌خان افغان ولس ته وړاندې کوي، داسې کورنۍ چې په کابل، ننګرهار، پکتیا، خوست او کندز کې د فخرافغان (باچا خان) په فکر او اند سر ورکوي، هره ورځ یې په نوم ټولنې، بهیرونه، ښوونځي او حتی پوهنتونونه جوړوي. د فخر افغان په کورنۍ کې د داسې خام، ساده او ګل‌خان را پیدا کېدل په رښتینې توګه د بابا له فکر، زیار او جد وجهد سره ظلم او په پښتون ملتپالو پورې خندا ده.

اسفندیار ولي‌خان او همدارنګه د عوامي نشنل پارټۍ (ګوند) مشرانو او کشرانو ته په کار دي چې د ایمل‌خان د دې ستغو سپورو (بښکنځلو) بښنه له ټولو پښتنو ملتپالو وغواړي او سر له ننه دا ګل‌خان پرې نږدي چې په کومه غونډه، کنفرانس او یا هم مرکې کې ګډون وکړي.

مخکې له دې چې دا ګل‌خان د بیا ځلې له پاره له کوره را بهر شي، باید ښه وروزل شي، د باچا خان کتاب (زما ژوند او جد و جهد) د ولي خان کتاب (رښتیا، رښتیا)[13] دې پرې حفظ کړي او بیا دې د سیاست ډګر کې خاپوړي وکړي، که دا کار نه کېږي، نو اسفندیار ولي دې خپله پارټي تر چارسدې محدوده کړي، که نه له چارسدې بهر به یې پښتانه داسې مېلمستیا وکړي چې انګریزان او پنجابیان به یې هېر شي.

**قدرمنو پښتنو مبارزو ځوانانو!**

د ګل خانیانو رسوا کول، سپکول او چغه کول زموږ ملي دنده او مسولیت دی، دوی چې په هر کور، ټبر او کهول کې را پیدا کېږي باید له افغاني ټولنې لرې وساتل شي، د دوی له دسیسو پرده پورته کړو، د سپکو سپورو ځواب یې باید ووایو او د دوی په وړاندې په ډګر مبارزه وکړو، د لوی افغانستان جوړول، زموږ د ټولو د ژوند موخه او د جد و جهد وروستی پړاو دی، موږ به دا اغزن مزل په ګډه تر مرګه وهو!!

یا ربه توفیق

---

[13] د ولي خان کتاب په اینګلیسي ژبه کې له لاندې ادرس څخه تر لاسه کولی شي:
http://www.awaminationalparty.org/books/factsarefacts.pdf

## په ځان پورې خندا![۱۴]

کابل، د تاریخ په اوږدو کې د بېلابېلو تمدنونو مرکز (ټاټوبی) پاتې شوی دی. کابل له عبرت، نوښت او زده کړې ډک لرغونی تاریخ لري. د زمبورک شاه دېوال، د کابل بالاحصار، د ارگ ماڼۍ، د دارالامان ماڼۍ، تاج بېگ ماڼۍ، د فتح الله کلا، د بي بي مهرو تپه، د نادرخان تپه، د زاړه کابل سیمه، شور بازار، د تیمورشاه مقبره (تیمور شاهي)، د عبدالرحمان خان مقبره، د بابربڼ، د بابر مقبره، نو ځکه خو باید له کابل ښاره یو وخت دیوال تاو شي او په ټول ښار به د تاریخي ارزښت له مخې د موزیم لوحه را ځوړنده شي.[۱۵]

دې ښار په خپل وخت کې ستر تمدنونه زېږولي، زموږ لپاره یې په زړه پورې تاریخ پرېښی دی، موږ یې په سترو کارنامو نازېږو. نړۍ ته یې په زغرده او غرور وړاندې کوو. د کابل د ښکلا کیسې هم ډېرې مشهورې دي، د کابل د هوا زړه را ښکونکې ښکالو هم له ځان سره ډېرې خبرې لري چې تل یې بهر مېشتي افغانان په خپلو مجلسونو کې ستایي.

---

[۱۴] January ۱۸, ۲۰۱۵

[۱۵] خوانان دې د قدرت الله حداد صیب کتاب ( د افغان ملي تاریخ) لوستل حتمي کړي.

هسې ما ویل د دې ښکلي ښار، د ښکلي تمدن او ښکلې هوا ساتنه مونږ څومره په احتیاط کړې؟ څکه له مونږ وروسته کوم نسلونه چې راځي، هغوی ته به مونږ او زمونږ همدا پېر تاریخي ارزښت ولري یا نه؟



له بده مرغه، معاصر افغان د کابل پورته ذکر شوي ارزښتونه ټول تر پښو لاندې کړي دي. د کابل بالاحصار ړنګ شوی دی، د لیدو کتو یې څه نه دي پاتې، د فتح الله کلا اوس د اوسېدو سیمه ده، د زمبورک شاه دېوال را غورځول شوی دی او په اوږدو کې یې کورونه جوړ شوي، ان ګنې لارې یې لا هم په ماینونو پوښلې دي، زوړ کابل اوس د پوډریانو او کفتر بازانو په مرکز بدل شوی.

شور بازار بې شوره او څوړه دی، شېرپور په شېرچور بدل شوی، تپې مو په مقبرو بدلې کړې دې او په پای کې د کابل هوا دومره ککړه شوې چې که په شنه سهار یا ناوخته ماښام ورته څېر شئ، نو د کابل په سر د ګرد، غبار او دوړو داسې یو پوښ به ترسترګو کړئ، لکه د زاړه سړي په سر توره چترۍ اېښې وي.

د کابل په ښار کې وروستیو بې پلانه او بې نقشې کورونو، ښارګوټو، اسمان څکالو جوړښتونو داسې بدرنګي جوړه کړې چې

په ښار کې له ګرځېدا د سړي زړه را ډک شي، زما ګڼ ملګري چې له نورو ولایتونو کابل ته راشي، په کابل کې له پاتې کېدو ډډه کوي، وايي ډېر زړه تنګی ښار دی؟



د کابل چارواکي هم د ټولو پخوانیو چارواکو پر خلاف د کابل په بدرنګیو پسې را اخیستې ده. د دې پر ځای چې د کابل ښکلا ته کار وکړي، ورځ تر بلې د لارو په سر د اوسپنیزو او سیمټي بندونو په جوړېدو، د پولیسو د تلاشیو په پلمه د پوستو او چیک پوستونو بدرنګ جوړښتونه او د بې حسابه او بې کنټرول ټرافیکو له کبله کابل نور په لویه کې د ښار بڼه یو بې عنوانه او بې مضمونه ځنګل ته پرېښې دی، چېرته چې د ونو پر ځای لوړ بدرنګه سیمټي جوړښتونه، د حیواناتو پر ځای ګړندي بې لګامه ګاډي ګرځي.

د کابل چارواکي که همداسې له ښاره او ولسه بې پروا د ارګ په میوزیم کې د ولاړو بوټانو او بې نوښته مجسمو په شکل ژوند وکړي، ژر دی چې د دې ښار اوسنی بڼه یو ځل بیا د سیمې او هېواد د بدرنګۍ لامل وګرځي. تېره ورځ مې یو وار بیا د کابل موزیم انګړ ته ورغلم، چېرته چې د کابل او ګران افغانستان له دوو

څخه تر پنځو پېړیو پخواني (له میلاده مخکې) تاریخي اثار خوندي شوي دي.

هر اثر یې د ځانګړي پیغام لرونکی دی، هر اثر یې ځان ته یو پرمختګ او تمدن په ځان کې نغاړي، د بودا جوړښتونه، د وخت سیکې، د جګړې وسایل، د خوراک او څښاک لوښي، د سینګار ګانې لنډه دا چې له موږ مخکې دلته ډېر باتمدنه، ارام او بشردوسته انسانان اوسېدلي دي، داسې خلک چې موږ ته یې له ځانه ښکلا او د ژوند پیغام پرېښی دی.



هر دهلېز او خونې ته چې سړی د ننه کېږي، په وړاندې یې وړې او غټې مجسمې له خندا شنې وي، سړی وننګوي چې تاسو خو د ټکنالوژۍ په عصر- کې ژوند کوئ، څه به له ځانه پرېږدئ، څوک به مو یاد کړي، څه به درنه په موزیم کې خوندي شي؟

اوسني حالت ته چې ګورم، د مرګ پیغام، د کرکې ناره، د وروسته پاتې والي څرکونه او د بې وطنه ژوند هره شېبه راته په ځان او

ژوند د زړا او خنـدا سـبب ګرځـي. د کابـل مـوزيم د تـاريخي (افغـان) د ليدو او کتو له امله په وار وار ورتګ ارزي.

د کابـل ميـوزيم پـه ځـان پـورې د راتلـونکې خنـدا او د حـال د ژړا لپـاره پـه کتـو ارزي. د کابـل مـوزيم يـوازې د پنجشـنبې پـه ورځ ټوله ورځ او د جمعـې پـه ورځ لـه دولـس بجـو وروسـته بنـد وي، د اونـۍ پـه اوږدو کـه هـر څـوک د شـلو افغـانيو پـه بـدل کـې (د جمعـې پـه ورځ وړيـا) ورتـلای شي. کابـل ميـوزيم تـه لاړ شـئ پـه ځـان پـورې خنـدا او د راتلونکې ژړا تر غوږه کړئ.

يا ربه توفيق

## د افغان ناسیونالېزم ایډیال طراح[١٦]

دا چې وخت کم و او له ما سره د خادم صیب د کتابونو زېرمه هم نشته، نو ومې نشوای کولای چې د ارواښاد خادم د سیاسي نظریاتو غورچاڼ ورانديې کړم. بناء پر دې مې يواځې د وېش ځلميانو د کتابونو چې بخرکي او زرملوال صیب ليکلي د هغوی په مطالعه او همدارنګه د خادم د کتاب (ټولنپال افغان مونوفست) په لوستلو بسنه وکړه.

د ارواښاد خادم د ليکنې سبک بيخي خپل او جلا دی. هغه لومړی ځان ته مخاطبين په نښه کوي او بيا هغوی ته د خپلې ليکنې موخه او لاره ټاکي، ترڅو مخاطب د هغه په ليکنه، دلايلو او وړانديزونو کې ځان وګوري او د هغه له ليکنې سره تر پايه ملګری شي.

بل دا چې په سياسي ليکنو کې د پرتليزو ليکنو ( Comparative Analysis)[١٧] ليکنه تر ټولو سخته ليکنه وي، ځکه چې ډېرې مطالعې او کره معلوماتو ته اړتيا موجوده وي ترڅو مور وکولای شو دوه بېل سياسي نظامونه، تيوري يا نظريات او همدارنګه اشخاص

---

[١٦] September ١٣, ٢٠١٣

[١٧] د پرتليز جاج د پاره لاندې مضمون لوستلی شي(Mandela, ١٩٩٤) : http://eprints.ncrm.ac.uk/٥٧/١/chrispickvance.pdf

مطالعه کړو او بیا یې په وړاندې لیکنه یا خپل نظر وړاندې کړو.
خادم په خپل دې کتاب کې هغه ټول مهم ټوکي په پام کې نیولي چې یو ښه لیکوال، سیاست پوه، ټولنپوه او همدرانګه سیاستوال یې باید په نظر کې ونیسي.
ټولنپال مونوفسټ په ۱۳۴۳ ز کال کې لیکل شوی، چې له نن څخه کابو ۴۳ کاله د مخه د ګران افغانستان په سیاسي کړکېچ، د سیاسي فعالانو په نظریاتو او هلو ځلو یو ځغلنده خو ژور نظر غورځوي. له بده مرغه، ۴۳ کاله وروسته هم افغانستان له ټولو هغو بدو حالاتو او لا هم له بدترو حالاتو سره مخ دی، کوم چې څلور لسیزې د مخه موجود وو.
اروابښاد څلور لسیزې دمخه د افغانستان د ستونزې حل په ناسیونالېزم (ملي واکمنۍ کې وړاندې کوي) او نن هم د افغان غمیزې یوازینی حل د افغان ملي واکمنۍ په رامنځته کولو کې ترسترګو کېږي.
هغه د افغاني ټولنې د وروسته پاتې والي دلایل داسې په ګوته کوي:
0 . افغانانو ځانونه نه دي جوړ کړي. ځانته یې پام یا توجه ډېره کمه کړې؛
1 . د ملي ژبې د پیاوړتیا لپاره کمې هلې ځلې او پښتو پالنې ته شا اړول؛
2 . د لوی غربي استعمار له فتنو سره عنودانه او په ډاګه جنګ ته مجبورېدل؛

3 . پـه خپلـه پـه ځـان د نشر، علـم او فـن ، فکـر او عمـل دروازې بندول.

هغـه د ناسـيونالېزم اصـلي بنـه او بنسـټ پخپـل کتـاب کـې بيـانوي او هغـه د ټولـو سـياسي بنسـټونو مـور بنسـټ گڼـي. هغـه د ملـت د جوړښت لپـاره اتـه مهـم ارکـان لازم بـولي. وطـن، ټبر، ديـن، ژبـه، ملي حکومـت، اقتصـادي گټـه، کلتـور، تـاريخ، گـډ اداب او رسـوم. هغـه پـه دې ټولـو کـې د خلکـو گـډه اراده يـا ناسـيونالېزم دی چـې د ارنسـت رينـان پـه شـان يـې اروابنـاد خـادم هـم د ملـت جـوړوني لپـاره لازمي برخه گڼي.

د افغـان قـوم د لوېـدلو او انحطـاط دليـل هـم لکـه د نـورو قومونـو پـه شان دنيـا تـه کتـل او عـبرت نـه اخيسـتلو کـې نغښـتی، کـوم ملت چې د خپلـو کـړو ټېروتنـو لپـاره د اصـلاح لاره نـه خپلـوي هغـه لا پسـې لـوېږي او ورکـېږي. د ملـت د ژونـدي پـاتې کېـدا لپـاره دا لازمـي بـولي چـې بايـد خپـل مـلي هويـت وسـاتي او مـلي هويـت پـه اتـو يـادو شوو ارکـانو کـې خلاصـه کـوي، کـوم ملتونـه چـې دې مسـايلو تـه جـدي پام کوي هغوی تلپاتې او سرلوړی ژوند لري.

اروابنـاد غـربي اسـتعمار د افغـاني ناسـيونالېزم تـر ټولـو سـتر دښـمن بـولي، هغـه بـوروکراسي د اسـتبداد يـوه نـوې بنـه بـولي او د غنـې لـه جـال سره يـې پرتلـه کـوي چـې خپلـه خـو پـه کـې نـه نښـلي خـو ښکار ورڅخـه وتلـی نشي. هغـه د ځلور لسيزې مخکنـي سـياسي حالـت تـه داسې اشاره کوي لکه په ننني ورځ کې چې ژوند کوي.

کـوم وخـت چـې يـو ملـت د ځرگنـد اسـتبداد لـه عصر تېـر شي، نـو د قـانون پـه شـکل اسـتبداد تـه نوبـت رسـېږي، پـه ښـکاره خـو قـانون،

شوری، عدلیه او حکومت موجود وي، مګر دا ټول د ملت د سر او مال د چور او چپاول لپاره د یوې ډلې په شکل متفق وي - چې له بده مرغه دا یوه لسیزه همدا بڼه د استبداد په موږ مسلطه ده.

دا چې زمونږ په سیاسیونو لا هم دا مفکوره سپره ده چې که د غربیانو په رنګ کې رنګین شو نو دوی به پرې ووهو، خادم دا د نوي غربي استعمار زېږنده نظریه او دسیسه ګڼي.

- دا چې افغانستان په ۲۰۱۳ میلادي کال کې له دوو دښمنانو سره

په ګډه جبهه کې را ښکېل دی نو د مستقیم او غیرمستقیم دواړو استعمارونو تر اغېز لاندې دی، خادم صیب لیکي چې استعمار له مستعمر څخه دا ډول استفاده کوي:

- د مستعمرې د سوداګرۍ کنټرول؛
- د مستعمرې کانونه او اومه توکي په خپله ولکه کې راوستل؛
- په مستعمره کې د خپلو مالونو د خرڅلاو لپاره بازار جوړول؛
- له مستعمرې څخه په ارزانه بیه مزدوران په کار اچول؛
- په مستعمره کې نظامي اډې جوړول؛
- له مستعمرو څخه ارزانه سرتېري جلبول؛
- په مذهبي تاوتریخوالي کې د مطلوبې مذهبي ډلې پلوي کول؛
- د کډوالو په واسطه منفعت طلبي او اغتشاش پیداکول.

کوم خلک چې استعمار ته کار کوي، د هغوی ځانګړنې داسې بیانېږي، داسې کسان چې استعمار ته کار کوي، طماع، خپل چاري، د پیسو بندګان، بې رحمه، بې عاطفي او د ملي روحیې څخه په بشپړه توګه بې برخې وي.

د نوي استعمار په اړه هغه د ګانا د رئیس خبره کټ مټ را اخلي چې
ویلي یې دي: «نوی کالونیزم هغه سیاسي حالت دی چې د هغه له
مخې استعمار په یوه لاس ازادي ورکوي او په بل لاس یې اخلي.»

د دې ټولو استعمارونو او دسیسو پر وړاندې د مبارزې حللاره هغه په
ناسیونالیزم کې خلاصه کوي. ناسیونالیزم د ملت سنګر بولي
استعمار او استثمار لپاره ډېر نادر تعریف وړاندې کوي هغه دا چې
یو به مري، بل به یې د سر لاندې ډوډۍ لټوي.

په پای کې قدرمن ارواښاد خادم صیب لیکي چې کله یو ملت د
بهرنیانو ښکار شي، د هېواد په شرف او ناموس، دین او ایین، مفاد او
اقتصاد کې پخپله خوښه لاس وهنه پیل کړي، نو یوه شی چې
استعمار او استثمار پخپل ټول قوت راغلي او متمرکز شوی دی، د
ملت او ولس جرړې به باسي. دغه وخت د نوابغو د څرګندېدو وخت
دی، هغه وخت د ګټلو او له لاسه د ورکولو دی. د هغه د بریا او ماتې
وخت دی او هغه د قرباني او جهاد وخت دی.

خادم صیب د څلورو واړو سیاسي طریقو یا مسلکونو بنسټ
ناسیونالېزم ګڼي:

١. ناسیونالېزم ملت پالنه؛
٢. کاپیټالېزم پانګه پالنه؛
٣. سوسیالېزم ټولنپالنه؛
٤. کمونېزم وګړپالنه.

د دې ستونزو په وړاندې د حللاره:

- کومکونه دې له ملګرو ملتونو څخه واخیستل شي؛
- ملي ایمان او په ځان اتکا دې په هېواد کې پیاوړې شي؛

- حکومتونه دې د خان د ملاتړ لپاره له ولسواکو لارو د ملت ملاتړ تر لاسه کړي؛
- ښوونه او روزنه دې په هېڅ صورت پردو ته نه پرېښودل کېږي؛
- بهر ته دې تر هغې ځوانان نه لېږل کېږي، څو چې ځوانان پخپل کلتور او ملت کلک نه وي روږدي شوي؛
- د بهرنیو خپرونو او مطبوعاتو دې په کلکه څارنه وشي؛
- ملي فنون او هنرونه دې د اصلاح په نامه مخلوط نشي؛
- بېکاري او بدکاري هم کلتور وژنه او هم اقتصاد دی؛
- دا متل باید په یاد وساتو چې له پردي زوی خپله لور ښه ده.

تر هرڅه د مخه باید ملت جوړ کړای شي او بیا دې نور کارونه وشي او د دې لپاره د لنېن او ماوزي تونګ بېلګه وړاندې کوي. که روس او چین ملت نه وای نو دې دواړو به څه کړي وای؟

هغه بې لارې حکومت د ټولو بدمرغیو لامل ګڼي - بې لارې حکومت ملت هم بې لارې کوي او چې ملت بې لارې شي دا نو بیا داسې خساره ده چې په اسانۍ سره یې تلافي ناشونې ده.

هغه د ځوانانو لپاره لیکي - هغه کسان چې نوي بې تجربې ځوانان په خان را غونډوي او د تشدد نارې وهي، ساده ګان به تېرباسي، خو کار مې یقین نه دی چې ویې کړي. دوی غواړي چې نهضت په نطفه کې شنډ شي.

په پای کې خادم صیب د نننۍ افغانستان په اړه داسې لیکي - نننۍ افغانستان د پخواني لوی افغانستان وړه بېلګه ده څنګه چې لوی ووړ شو، نو که همدغه علل او اسباب چې لوی یې د ووړ حد ته را ورساوه، موجود وي. نو دا ووړ وړکولای او چور محوه کولای هم شي.

## د نېسلن منډېلا ژوند او پیغام[۱۸]

نېسلن منډېلا د لومړۍ نړيوالې جګړې له پای سره سم نړۍ ته سترګې پرانيستلې. هغه د ۱۹۱۸ د جولای په اتلسمه د سویلي افریقا د مېزو په کلي او د اومتاتو په ولایت کې وزېږېد. په ماشومتوب کې یې د رولیهلهلا (Rolihlahla) نوم پرې کېښود چې د ستونزو پاروونکي یا جوړوونکي په مانا دی. وروسته هغه د خپل قوم ماډیبا په نوم وپېژندل شو، د منډېلا غور نیکه (Ngubengcuka) د خپلې قبیلې پاچا یا مشر و. د هغه یو زوی منډېلا نومېده کوم چې د نېلسن منډېلا نیکه و. د منډېلا مور او پلار بې تعلیمه وو، هغه یې له خپلو دوو خویندو سره را لوی کړ. (Mandela, ۱۹۹٤)

منډېلا یې مور او پلار د سیمې په یو ډېر ښه ښوونځي کې شامل کړ او هلته هغه ته د استاد لخوا انګرېزي نوم (نېلسن) ورکړل شو، منډېلا نهه کلن و چې پلار یې وفات شو. منډېلا یې مور د خپلې قبیلې مشر ته د ښوونې او روزنې لپاره ولېږه. منډېلا هلته د قبیلې له مشرانو د انګرېزي استعمار ضد زده کړې وکړې او همدارنګه یې انګرېزي ژبه، د خپلې قبیلې ژبه او همدارنګه د سویلي افریقا تاریخ او جغرافیه زده کړل.

---

[۱۸] December ٦, ۲۰۱۳

منډېلا په جوهانسبرګ کې خپلې زده کړې د قانون په برخه کې بشپړې کړې. هغه لا ځوان و چې د اوږد واټن په منډه او همدارنګه یې په سوک وهنه کې د ورزش لیوالتیا پیداکړه او وخت نا وخت به یې په سیالیو کې برخه اخیسته. د زده کړو په اوږدو کې د کمونېستي کړیو له خوا جذب شو.

په ۱۹۴۲ مېلادي کال یې د افریقا په ملي کانګریس African National Congress کې غړیتوب واخیست. د هغه د مبارزې ډول د عدم تشدد په اساساتو ولاړ و، خو کله چې په ۱۹۶۰ مېلادي کال کې د حکومت لخوا د تور پوستو په لاریون برید وشو او په لسګونو بې ګناه کسان په کې ووژل شول، منډېلا له عدم تشدد مبارزې څخه په وسله وال مقاومت او مبارزې لاس پورې کړ.

هغه د کانګرېس د وسله والو ځوانانو د ټولي مشر- وټاکل شو او په دې توګه یې د حکومت په خلاف په وسله واله مبارزه لاس پورې کړ. منډېلا په ۱۹۶۲ مېلادي کال کې ونیول شو او په پنځه کاله بند محکوم شو، په ۱۹۶۴ مېلادي کال کې د دویم ځل لپاره محاکمه شو او په عمري بند محکوم شو.

منډېلا (٦۴/۴٦٦) د افریقا په بدترینه بندیخانه کې Robben Island Prison اووه ویشت کاله بندي و. منډېلا په ۱۹۹۰ مېلادي کال د فبروري په یولسم له بنده خلاص شو، له دې سره د افریقا د ملي کانګرېس ګوند په وړاندې حکومتي بندیز پورته شو او په رسمي توګه د یو سیاسي ګوند په توګه وپېژندل شو.

(Mandela, ۱۹۹٤)

منډېلا د افریقا د ملي کانګرېس ګوند له خوا په ۱۹۹۴ میلادي کال په ټاکنو کې ګډون وکړ او د افریقا په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره یو تورپوستی ولسمشر- وټاکل شو. هغه تر ۱۹۹۹ میلادي کال پورې د افریقا ولسمشر و.

په ټاکنو کې یې له بریالیتوب سره سم د ملي یووالي په ورانديز عملي ګامونه واخیستل، هغه د تور پوستي او سپین پوستي افریقایي تر منځ د یووالي لپاره هلې ځلې پیل کړې. هغه Klerk (ده کلارک) پخوانی سپین پوستی ولسمشر- او په ټاکنیزو مبارزو کې د ده سیال د لومړي مرستیال په توګه په دنده وګوماره.

په خپله کابینه کې یې هم سپین پوستو افریقایانو ته ځای ورکړ. په ۱۹۹۵ میلادي کال یې د رګبې په نړیواله لوبه کې (د افریقا د رګبې لوبډلې چې یوازې له سپین پوستو جوړه وه) د ملي یووالي لپاره کار واخیست او په دې توګه د افریقا ملي لوبډلې په لومړي ځل وکولای شوای نړیوال جام وګټي، په دې توګه هغه په بریالیتوب سره له ورزش څخه د ملي یووالي لپاره کار واخیست.

هغه په ۲۰۰۰ میلادي کال د ګڼو مرستندویه ادارو مشرې واخیسته او د نړۍ د سولې لپاره یې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې وکړې. منډېلا په ۲۰۰۲ میلادي کال امریکا د نړۍ د جګړه مار هېواد په توګه ونوموله او جورج بوش ته یې توصیه وکړه چې په عراق دې برید نه کوي.

نوموړي د افریقا بشپړه خپلواکي د فلسطین له خپلواکۍ سره تړلې وبلله او تل یې د اسراییلو د ظلمونو غندنه وکړه. نیلسن منډېلا له خپلې لومړۍ او دويمې مېرمنې د خپلې مبارزې د

بریالیتوب په لته بېل شو او له خپلې درېیمې مېرمنې Graca Machel (ګراسا مېچل) سره یې تر مرګه ژوند وکړ. هغه د ۹۵ کلنۍ په عمر د ډسمبر په دولسم له نړۍ سترګې پټې کړې.

نېلسن منډېلا د Event Leadership (هغه مدیریت چې د یوې واقعې په ترخ کې رامنځته کېږي) تر ټولو ښه بېلګه و. منډېلا د اپارتاید (د توکم پالنې چې له مخې یې تورپوستي افریقایان له ټولو حکومتي امتیازاتو بې برخې کړای شول) په وړاندې د یو نشنلېست افریقایي په توګه بریالۍ مبارزه وکړه. د هغه د مبارزې تر ټولو مهم توکی د افریقایي نشنلېزم ایډیالوژي وه.

منډېلا د کپیټالېزم او ازاد بازار سخت مخالف و، هغه غوښتل چې د ټولنې ښېګڼې او بدګڼې دې شریکې وي، تر ډېره برېده یې له سوشلېزم سره مینه لرله او کوښښ یې کاوه چې د سرمایې سرچینې د خلکو تر منځ شریکې کړي ترڅو د افریقایانو د ژوند تفاوتونه له منځه لاړ شي.

منډېلا په انساني برابرۍ باور درلود، د علم او پوهې په عاملو یې غوښتل خلک د خپلو بشري حقونو په ترلاسه کولو پوه شي او په دې توګه یې د انساني خپلواکۍ او کرامت پیغام خپراوه. د منډېلا مړینه د یو انسان د وجود مړینه بلل کېږي، د هغه ایډیالوژي، پیغام او مبارزهبه تل په نړۍ کې ژوندۍ وي.

## ملي اجماع په څه مانا

د ملي یووالي د حکومت د جوړېدو فلسفه له ملي اجماع سره تړلې ښودل شوې ده. کله چې د غني او عبدالله تر منځ د ټاکنو د پایلو په اړه ناندرې را ولاړې شوې، په منځ کې کنو سیاسیونو، په ځانګړې توګه د وخت حکومت (د حامد کرزي په مشرۍ) د روغې جوړې بحثونو ته لار اواره کړه.

په پای کې، د جان کري په وجود کې، د ملي اجماع د روحیې له مخې، دواړه ډاکتران په افغان ولس وتېل شول. د ملي یووالي حکومت ته که پام وشي نو د معاصر افغانستان ټول سیاسي لوري په کې په یو نه یو ډول ځای پر ځای شوي دي.

جمعیت، لوېدیځ پال تکنوکراتان، حزب اسلامي، وحدت اسلامي، حرکت اسلامي، محاذ ملي، اتحاد اسلامي، افغان ملت، د ټولو ګوندونو، سیاسي خوځښتونو استازي په کې شته، له دې امله، کله هم چې موږ له حکومت پلوو کسانو سره د حکومت په بدلون، یا د لویې جرګې په اړه بحثونه کړي، دوی به ویل چې د ملي یووالي حکومت د ائتلافي او لندمهاله حکومت او په لویه کې د ملي اجماع د حکومت تر ټولو اغېزمنه بڼه ده.

تـر ډېـره بریـده د دوی، دلایـل معقـول هـم دي، ځکـه د افغـان معـاصر سیاسـت ټـول لوبغـاړي پـه کـې لـوبېږي، ټولـو تـه پـه کـې د ښـه ویلـو او ښه خرابولو موکه په لاس ورکړل شوې ده.

د پورتـه بحـث تـر ښنـګ، پـه دا وروسـتیو کـې چـې د مـلي یـووالي د حکومـت درې کالـه پـوره شـوي، ځینـو کړیـو یـو ځـل بیـا د مـلي اجماع بحـث تـه زړه ښـه کـړی دی، لـه دې بحـث ښخـه د مخـه د لـویي جرګـې بحـث ښـه پـه شـور او ځـوږ روان و، نړیـوالي ټـولنې، د مـلي یووالي د حکومت پښدتانو د لویې جرګې بحث رد کړ.

دوی ویـل دا یـو ناقانونـه کـار دی، مـوږ کـه لویـه جرګـه را غـواړو نـو د اساسي قـانون لویـه جرګـه بایـد را وغـواړو، ځکـه د اسـاسي قـانون لویـه جرګـه کـولای شي پـه قـانون کـې تعـدیل او د نظـام د ادلـون، بـدلون پـه اړه تصـمیم ونیسي.، لـه دې پرتـه، د مـلي یـووالي ناسـور بایـد ادامـه پیـدا کـړي، ترڅـو خپلـه پنځـه کلنـه دوره پـوره کـړي او بیـا د ټـاکنو لـه لارې د حکومت بدلون ته لاره اواره شي.

خـو داسـې ښـکاري چـې نـور د مـلي یـووالي د حکومـت د دوام بحث غیرمنطقـي او د افغـان انسـان لـه ژونـد سره پـه ټکـر کـې تـر سـترګو کېږي، د نـاامنۍ زیـاتوالی، د فسـاد اوج، د حکومـت پـه داخـل کـې د پټـو معـاملو شـته والـی، د حکومـت د لـوړ پـوړو چـارواکو تـرمنځ واټـن، ژور اخـتلاف او د دې حکومـت دوام، نـور خپلـه د مـلي خیانـت او لوی فسـاد پـه مانـا دي، ځکـه خـو د حکومـت لـه د ننـه د غنـي لـه خـوا د مشرـوط پـاتې کېـدو خـبره او د عبـدالله لـه خـوا د مـلي یـووالي د حکومت د ناکامۍ خبره راغبرګېږي.

ځینې کسان، په پوه یا ناپوهه ډول د دې پر ځای چې د ملي یووالي له ناکام حکومت څخه د خلاصون بحث ته لاره اواره کړي، پر ځای یې مخکې له وخته تاکنو، د سولې د بهیر د پیل او د لنډ مهالي حکومت بحث ته زمینه برابري.

د ملي اجماع تر عنوان لاندې یو بل سیاسي سرکس ته لار اواروي چې نه یوازې د ملي یووالي د ناکام حکومت د عمر د غزېدو کار به ترې واخیستل شي، بلکې د ګڼو سیاسي، حقوقي، قانوني ستونزو د زیاتوالي سبب به شي.

موږ باید د ستونزې د اواري لپاره د نوو ستونزو د جوړېدو دلیل نه شو، ملي اجماع هېڅ قانوني حیثیت نه لري، هېڅ اجرایوي پرېکړه او توان نه لري، که د اساسي قانون لویه جرګه نه شو رابللی، نو لويې جرګې د سیاسي سنت په توګه زموږ ګڼې تاریخي ستونزې حل کړې دي.

د تاریخي سنت، دود شتون خپله حقوقي بحث ته لار اواروي چې د قانوني ستونزو له حل سره مرسته کوي. له دې امله، که روان کړکېچن حالات د وطن په تاوان ارزول کېږي، باید حللار یې په افغاني، ملي روحیه سمبال ترسره شي. نه دا چې د ملي اجماع له مخې یو بل (بن) ته ورته جوړښت ته لار اواره شي.

په لوی لاس د ټوپک د شپېلۍ په زور، د افغان سیاسي جوړښت خلاف ځینې ابن الوقت، ځانخوښي، ورځچاري او پردیپال ترې د عامه ذهنیت د تېرباسلو لپاره کار واخلي، د افغانستان اصلي ستونزې له حل پرته پاتې شي او دوی د پردیو په لمسون د قومي، مذهبي او سمتي وېش ته لار اواره کړې ده.

په دې وروستيو کې له شمال، لوېديځ، سويل او ختيځ څخه ګڼو ټوپکيانو، ورڅچارو او سولېدلو کاذبو شخصيتونو د حلالرو په توګه د ملي اجماع او ورته بحثونو د را پورته کېدو تکل کړی دی. افغان ولس، په تېره بيا ځوانان بايد دې ته متوجه شي چې ملي اجماع زموږ د ستونزې حقوقي او قانوني حل نه شي وړاندې کولای.

د ملي يووالي حکومت که ځان پړ ګڼي، ناکام ځان بولي، يا پخپلې مشروطی باور لري، د مخکې له وخت ټاکنو ته دې لار اواره کړي. د ولسي- جرګې او ولسمشرۍ ټاکنې دې يو ځای وکړي. د دې تر څنګ که د سولې د بريااليو هڅو په لټه کې وي، له طالبانو سره دې د بې طرفه اشخاصو په منلو، لنډ مهالي حکومت ته زړه ښه کړي، د لويي جرګې په را بللو دې په اساسي قانون کې لازم بدلون ته زمينه مساعده کړي، سوله دې حتمي کړي او په دې توګه دې د افغان انسان په وړاندې خپل تاريخي مسوليت په سمه توګه ادا کړي.

که نه وي د ملي اجماع تر نامه لاندې دې، په ملي مسايلو ملنډې نه وهي، دا شته نيم ژواندي ملي يووالي ته دې نور خندقونه نه کيندي، سياسي مداريتوب دې نه کوي، د ځان د خپلو غلو ملګرو د سياسي ژوند د پايښت لپاره دې د ملي اجماع تر نامه لاندې سياسي ټېکه دران د ولس په مرۍ خپه نه ږدي.

تاريخ دا هرڅه ځاري، هېڅوک به د تاريخ له قضاوت څخه په امان نه شي، مګر هغوی چې د افغانستان او افغان مظلوم ولس ګټې، ارزښتونه يې له ځانه ړومبې ونه ګڼل.

يا ربه توفيق!

## د مورنۍ ژبې په اړه د پوهنې وزارت پخ دریځ[۱۹]

د مورنۍ ژبې په اړه د پښتنو د حق د اعادې او ترلاسه کولو مبارزه په (نن ځوانان) د ژوند تر اخرې سلګۍ پورې همداسې تانده ساتي.

خو د پوهنې د وخت وزیر! د بېنوا ګورت پاڼې ته د نن ځوانانو او نورو ملاتړو مدني خوځښتونو د غوښتنو په غبرګون کې یو مخ لیکنه کړې وه، دا لیکنه د همدې خپرې شوې لیکنې په ځواب کې نشر ته سپارل شوې ده.

د ښاغلي وزیر د لیکنې پیل د مورنۍ ژبې د ارزښت او په دې برخه کې د اړونده قومونو د مورنۍ ژبې د حق د اعادې او ورکړې په کلیشه یې خبرو سره شوی دی. د پوهنې وزیر د شپږو ژبو لپاره د تعلیمي نصاب د جوړښت خبره پخپله لیکنه کې کړې حال دا چې مسلکي معین یې بیا په کابل نیوز کې د لسو ژبو د کتابونو د چاپ او وېش خبره ښه په نره زمزمه کوله.

د پوهنې وزارت ټول چارواکي او ورسره وزیر صیب پخپله لیکنه کې په وار وار وایي چې د مورنۍ ژبې غوښتنه دې سیاسي نشي-او له دې موضوع دې سیاسې ګټه نه اخیستل کېږي.

---

۱۹ February ۲٤th, ۲۰۱۳

له بلې خوا موږ وايو چې ستا دنده سياسي ده، ستاسو پوست سياسي دی، ستا پاسپورت سياسي دی، نو ته له سياسته ولې تښتې او همدارنگه پخپله زموږ مدني غوښتنه له سياسي اړخه څوابوې. زموږ هڅې په دې معنا نه دي چې موږ پښتانه دې له ټا خپل بشري حق په دې تر لاسه نکړو چې گواکې موږ په لوی لاس خپله غوښتنه سياسي کړې ده.

د مورنۍ ژبې حق مدني او بشري دی او موږ يې په مدني او بشري هلو ځلو تر لاسه کوو، نن يې له بده مرغه له تاسې غواړو او که ټا زموږ دا حق رانکړ سبا چې ستا پر ځوکۍ هرڅوك ناست وي او که د هر قوم او گوند وي بيا يې له هغه غواړو.

دريغه زما دا ليکنه په دري ژبه وای، يو خو به يې د پوهنې په وزارت اغېز ډېر زيات وای، ځکه ښاغلي مرستيال وزير په خپله وروستۍ ليکنه کې دري ژبې ته د مارکېټ ژبه ويلې، بل دا چې د وزارت دا پلمه به هم ورکه وای چې گواکي دا مسله اوس سياسي شوې ده، ځکه دري ژبي چې هر څه کوي هغه د هغوی مدني او بشري حق دی. هغوی د مزار پوهنتون لوحه ښکته را وغورځوله او پر ځای يې (دانشگاه مزار) لوحه نصب کړه، هغه سياسي نه وه، خو زموږ هڅې سياسي دي.

هغوی د افغانستان د تاريخي دښمن ايران د جاسوسانو په نامه د مزارشريف واټ ونوماوه او په نره يې لوحه په سرکونو او لارو کې ولگوله، هغه سياسي کار نه دی؟ همداراز د بدخشان والي د بدخشان د پوهنتون لوحه په (دانشگاه) بدله کړه هغه سياسي خبره نه ده، خو کله چې خوار، مظلوم پښتون د خپلې ژبې حق په

کابل، مزار، کندز، بغلان، هرات، سمنگان، فراه، نمیروز، بادغیس، غور، فاریاب ، پروان، او کاپیسا کې غواړي دا نوبیا سیاسي غوښتنه ده او د ملي یووالي خلاف ده.

د نن ځوانانو مدني ټولنه د پوهنې وزارت او د افغان حکومت له کابینې څخه په کلکه غوښتنه کوي، نه یوازې په لومړنیو دریو وړاندیزونو غور وکړي، بلکې په دې برخه کې دې عملي گامونه هم واخلي کومو ته چې د ښاغلي وزیر صیب په لیکنه کې اشاره شوې ده:

- د دري او پښتو ژبو شیفتونه ( وختونه) دې بېل شي؛
- ټولگي او څانگې دې په هر مکتب کې بېلې شي؛
- دواړو ته دې بېل بېل ښوونځي جوړ شي.

تر دې دریو ور هاخوا په څلورم وړاندیز نه جدي غور او نه هم کار په کار دی ځکه چې دا کار به بیخي پښتانه وځپي. له پښتو سره به لا لوی ظلم وشي او پښتانه به په لوی لاس د تند غبرگون ښودنې ته وهڅېږي او لا به د پښتنو د مورنۍ ژبې د حق غوښتنې تتوالی او محرومیت را برسېره شي. د ښاغلي وزیر صیب د څلورم وړاندیز څخه چې دی او د ده د ټلوالې ملگري ورسره ملاتړي دي داسې را غبرگ شوی دی:

– په دواړو ژبو دې تدریسي- کتابونه په نصاب کې شامل او عملي شي چې له دې سره به نه زده کوونکي بېلېږي، نه به نوی ښوونځي جلا جلا جوړېږي او نه به هم شیفتونه ( وختونه) بېلېږي.

موږ یوه پوښتنه لرو؟؟ هغه دا چې وزیر صیب پخپله لیکنه کې په وار وار وایي چې دا یو شعاري او سیاسي غوښتنه نه ده، بلکې د حق غوښتنه ده. موږ ته دې یو دري ژبی کس را په گوته کړي چې د خپلې مورنۍ ژبې حق یې غوښتی وي؟ د دري ژبو خو حق ندی تلف شوی، هغوی خو په هېواد کې ۲۵ سلنه دي او ژبه یې سل په سلو او یا کم تر کمه اتیا په سلو کې په دفترونو ولکه لري، په ښوونځیو او پوهنتونو ولکه لري نو بیا په وار وار پخپله لیکنه او وړاندیزونو کې د پښتو او دري ژبې یو ځای ذکر څه مانا لري؟

د پوهنې د وزارت مسلکي مرستیال د کابل نیوز په مرکه کې د مورنۍ ژبې په اړه جوړه شوې وه، داسې وویل: ژبه پرېږدئ چې طبیعي وده وکړي، ژبه باید سیاسي نه شي(؟) د خدای په پار، دا خبره هم په پښتو کوي چې ژبه دې سیاسي نه شي - کاش دا خبره یې په دري کولای نو موږ به ویلي وای چې هو دا سړی سم غږېږي، د سیاست د مخنیوي لپاره یې پښتو په دري بدله کړه او بل دا چې په طبیعي ډول کومه ژبه ژوندۍ ساتل شوې، سانسکریټ او که پخوانۍ اریایي؟!

طبیعت د انساني بدلون جوگه دی او طبیعت انساني کار او زیار ته اړتیا لري ترڅو د انسان په گټه تمام شي کنه د کابل په ساړه طبیعت (ژمي) کې به اوس ټولو خپل ژوند له لاسه ورکړي وو. په هر صورت، که ژبې ته کار ونشي- ژبه د دفتر، ښوونځي، مارکېټ او کاروبار برخه ونه گرځول شي کله به هم وده ونکړي. ژبه د هویت، شخصیت او سیاست تر ټولو ستره وسیله گڼل کېږي،

څوک په نړۍ کې داسې سیاستوال پېژني چې د یو داسې ملت استازیتوب وکړي چې د هغه ملت په ژبه ونه غږېږي؟

د دې پوښتنې بل پخ ځواب چې ولې پښتو د ښوونځیو ژبه نه ګرځوئ؟ ننګ ورته داسې وفرمایل: ولې ټول خصوصي ښوونځي په دري ژبه دي، ځکه چې مارکیټ لري، خو همدا ځای موږ ځوروي چې دري د مارکېټ ژبه شوه او پښتو ترهګرۍ ته پاتې شوه؟ (نن ځوانان) په زغرده وایي چې پښتانه له پوهنې وزارت څخه خپل حق غواړي، که داسې ونه کړي نو ومنئ چې د نن خاموشي زموږ د سبا د تباهۍ په مانا ده.

د خوشال بابا او رحمان بابا لیسې د وخت حکومت د قبایلو د پوهنې د ستونزې د حل لپاره جوړ کړي وو، خو د قبایلو زده کوونکي وکولای شي پخپلې مورنۍ ژبه د کابل په هوسا او ارامه چاپېریال کې زده کړې وکړي او په دې توګه د خپل هېواد او هېوادوالو د چوپړ او خدمت جوګه شي. نن د وردګو ترڅنګ د سویل او سویل ختیځ زیات ښوونځي بند دي، خو دوی ورته هېڅ جدي پام ونه کړ.

د سویل، سویل ختیځ او همدارنګه دوردګو، لوګر او کاپیسا ټول هغه زده کوونکي چې د نا امنۍ له امله کابل ته را کډه شوي په دري ژبه زده کړو ته اړ شوي. هغه استعدادونه چې تېره ورځ یې په همدې ولایتونو کې د خپلو هېوادوالو شملې جګې کړې وې نن په کابل کې ټیټې سترګې ګرځي او نشي- کولای له خپلو همزولو سره سیالي وکړي، ځکه دلته په کابل کې لومړی دوی باید دري

ژبه زده کړې او بیا په نورو درسونو کې له خپلو همزولو سره سیالي وکړي.

زه غواړم د درخانۍ د لیسې، فاضل بېګ او پکتیا کوټ د نجونو د لیسې ځینې ژوندي ترخې بېلګې درنو لوستونکو ته وړاندې کړم: د درخانۍ لیسه په کارته مامورین کې ده چېرته چې د پښتو ټولګیو د زده کوونکو لپاره هېڅ پښتو کتابونه نه دي وېشل شوي او پر ځای یې بنه پرېمانه دري کتابونه ورکړل شوي دي.

د فاضل بېګ لیسه په ورته حالت کې قرار لري، کله چې مو د لیسې له مدیر څخه پوښتنه وکړه چې ولې؟ وایي، دا زموږ کار نه دی د وزارت کار دی، وزارت موږ ته یوازې دري کتابونه را لېږلي دي.

د پکتیا کوټ د نجونو ښوونځي چې د سیمې ټول اوسېدونکي یې پښتانه دي، خو استاداني بیا ورته دري ژبې مقررې شوي دي، حال دا چې کتابونه پښتو ورته وېشل شوي خو تدریس ورته په دري کوي. د بېلګې په توګه د یوې استادې د نوم ذکر کوم چې شبانه نومېږي او د خپلې لور په واسطه لږ او ډېره په پښتو پوهېږي د پکتیا کوټ په ښوونځي کې د درېیم ټولګي لپاره له مور سره یو ځای د پښتو ژبې په تدریس کې مرسته کوي.

نو څکه زموږ وړاندیز دی چې په لومړنیو دریو وړاندیزونو دې د پوهنې وزارت کار وکړي، د وزیرانو کابینې ته دې بل هېڅ وړاندیز نه کېږي او د دې تر څنګ زموږ نور وړاندیزونه دا ډول دي: د وزارت په اداري چوکاټ کې دې د مورنۍ ژبې لوی ریاست جوړ کړای شي، د نا امنو سیمو لپاره دې په کابل او ټولو لویو ښارونو

(مـزار، کنـدز، کنـدهار، هـرات، خوسـت، ګردیـز او ننګرهـار) کې ځانګړې لیلیه ښوونځي جوړ شي.
په نـاامنو ولسـوالیو او ولایتونـو کـې دې د دارالمعلمینـو شمېر زیات شي. پـه کابـل ښـار کـې دې د پښـتنو ماشـومانو لپـاره ځـانګړي ښـوونځي سر لـه اوسـه معلـوم کـړای شي، د پښـتنو اسـتادانو د روزنـې پروګرامونـه دې برابـر شي. (د نـن ځوانـان) دې نـه مجبـوروي چـې د کابـل پـه شـمول پـه ټولـو لویـو ښـارونو کـې د پـوهنې وزارت پـر ضد سـتر لاریونونـه وکـړي او د کابـل پـه شـمول د هېـواد ټـول لـوی ښـارونه د پوهنې وزارت په ضد د لاریونونو په غوغا بدل کړي.

## د محکوم نظام باغي ولسمشر [۲۰]

په هېوادونو کې تر هر څه دمخه د نظام د مشروعیت مسئله د بحث او اندېښنې وړ ده. چېرته چې د نظام مشروعیت په کوردننه تر پوښتنې لاندې وي، هلته د بهرني مشروعیت یا نړیوال مشروعیت ستونزه هم موجوده وي.

افغانستان هم له تېرو څه له پاسه دریو لسیزو راهیسې د نظامونو د کورني او بهرني مشروعیت له پوښتنو سره مخ دی. مشروعیت د انګرېزي کلمې Legitimacy معادل استعمالېږي. Legitimacy یوناني کلمه ده چې د قانونیت مترادف ګڼل کېږي.

افلاطون په خپل مشهور کتاب (جمهوریت[۲۱]) کې د نظام د مشروعیت لپاره اساس عدل او انصاف یاد کړی. امریکایي سیاستپوه Lipset[۲۲] لیپسېټ د حکومت مشروعیت د حکومت په ظرفیتونو (وړتیاوو) پورې تړلی دی. لیپسېټ زیاتوي، کله چې

---

[۲۰] October ۲۲, ۲۰۱۳

[۲۱] د افلاطون کتاب په لاندې پته لوستلی شي:
http://www.idph.net/conteudos/ebooks/republic.pdf

[۲۲] Seymour Martin Lipset )(۱۹۲۲-۲۰۰۶

حکومتونه پخپلو کړنو د خلکو باور نشي- راوړلی، نو د حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راځي.(Lipset, ۱۹۶۰)

له بل لوري د مشروعیت لپاره بیا تر ټولو روښانه او ټول منونکی تعریف الماني مکس ویبر وضع کړی. مکس ویبر وایي، مشروعیت د ټولنې یا خلکو په ذهني او اروایي توګه د واکمنې ډلې د قدرت د منلو په مانا دی. مشروعیت په اسلامي سیاست کې د مشروع (مفعول اسم) څخه اخیستل شوی او د شرعې په مانا دی. هر هغه څه چې له شرعې سره برابر وي، هغه مشروعیت لري چې دا خپله اوږد بحث ته اړتیا لري.

راځو خپلې اصلي موضوع ته، په ۲۰۰۱ میلادي کال د ولسمشر کرزي په مشرۍ د ولسواکۍ پر بنسټ د نوي نظام راتلل، تر ډېره بریده د نړیوالو غوښتنو او فشارونو په وجود کې ترسره کېږي. په پیل کې د خلکو لپاره د نظام بدلون او د ولسواکۍ اساس ډېر ښکلی او د باور وړ ښکارېده، خو د وخت په تېرېدو د نظام د مشروعیت ستنې مخ په کمزوري کېدو شوې.

د نظامونو د مشروعیت لپاره په کورد ننه تر ټولو مهمه سرچینه هغه د خلکو باور دی چې دا باور د قانون په برلاسۍ، د حکومت د ورتیاوو په لوړوالي او د عدالت او نیاو په پایله کې جوړېږي چې دا ټول ورځ تر بلې په افغانستان کې مخ په ځوړ روان دي.

افغانستان له دوه زره او پنځم څخه په ۲۰۱۳ کال کې د لا زیات اداري فساد لرونکي هېواد په توګه پېژندل کېږي. د اداري اصلاحاتو نه شتون یې بله لویه ستونزه ده، نا امنۍ وار د مخه د خلکو ژوند له کړاو سره مخ کړی.

ټوپکسالار او جنګسالار په قانون لا برلاسي شوي چې دې ستونزو افغان نظام په کوردننه محکوم کړی او په پای کې دې ټولو کارونو په کوردننه د افغانانو او په نړیواله کچه د نړیوالو باور په افغان نظام را کم کړی چې دا کار پخپله د افغان نظام مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي.

افغانان له پیل څخه تر ننه په ولسمشر- کرزي د مصلحتي سیاستوال په توګه بې باوره دي، په پیل کې د افغان ملت د لږکیو باور په کرزي نسبتا زیات و، چا چې له همدې مصلحت څخه ډېره ګټه اخیسته، خو په وروستیو کې د افغان ملت د لږکیو تر نیوکو لاندې هم راغی، ځکه چې د لږکیو ټول حقوق یې په څو تنو ټوپکمارو او جګړه مارانو تالا ترغه کړل، خو ولسمشر- کرزي کله هم د خپل مظلوم ملت نیوکو ته ونه کتل او تل یې له تش په نوم ملي سیاست څخه د یو باغي سیاستوال په توګه دفاع وکړه.

د همدې بغاوت پایله ده چې نن د افغان نظام د دریېمې دورې ټاکنو لپاره هم نوماندان د اهلیت پر ځای په پښتون، تاجک، هزاره او حتی ازبک مرستیالانو پسې لالهانده دي. د کپیټلېزم په اړه مشهوره ځېرنه داده چې کپیټلېزم د ارزښتونو پر ځای ګټو ته ډېر پام کوي.

نن د افغان نظام په جوړښت کې د نظام د مشروعیت د ارزښتونو پر ځای چې د خلکو باور، د قانون برلاسي، عدالت (نیاو) او اهلیت ګڼل کېږي، په سیاستوالو کې ارزښتونو ته نه بلکې ګټو ته تمایل ډېر دی. که محمد محقق ډېر ټوپکي ملاتړي (رایه) لري، نو باید د بل اهل افغان پر ځای هغه ته ترجیح ورکړل شي. که دوستم ملېشه

جګړه مار ډېره ملېشه لري (رایه)، نو د اهل افغان پر ځای هغه ته باید غاړه کېږدو. دا هر څه ځکه چې د خلکو له باوره پورته په سیاستوالو کې د واک د تر لاسه کولو لپاره کورنی او نړیوال بغاوت موجود دی.

د ولسمشر- کرزي د بغاوت بله بېلګه په نړیوال سیاست کې تر سترګو کېږي، په دې مانا چې د افغان حکومت ټول دارو مدار په بهرنیو مرستو او د امریکا په ځانګړي ملاتړ پورې تړلی دی. افغانستان د سیمې یوازینی هېواد دی چې د څه له پاسه نوي سلنه سوداګریز کڅر سره مخ دی او خپله ټوله (سل سلنه) د پرمختګ بودیجه د بهرنیانو له خیرات او مرستو تر لاسه کوي.

همدارنګه څه له پاسه پنځوس سلنه عادي بودیجه یې د بهرنیانو په رحم او کرم ولاړه ده، خو د سیمې د هېوادونو په پرتله په نړیوال سیاست کې تر ټولو باغي سیاستوال هم همدا مظلوم هېواد (افغانستان) لري. افغان ولسمشر- حامد کرزی په زغرده په امریکا او ناټو د نا امنی، اداري فساد، نا انډوله سیاست او د افغان غمیزې پړه اچوي.

له لوی اختر د مخه (۲۰۱۳ د اکتوبر ۳) له بي بي سي انګرېزي[۲۳] سره یې په مرکه کې د افغانستان د نا امنی، وروسته پاتې والي او ټولو ناکامیو پړه نېغه په زغرده د ناټو په غړو هېوادونو او امریکا ور واچوله چې دا بیا پخپله له بهر څه د افغان نظام د محکوموالي په مانا ده او له همدې امله د انګلېستان او ناټو له سخت غبرګون سره مخ شو.

---

[۲۳] د کرزي صیب د مرکې د لیدو دپاره:

https://www.youtube.com/watch?v=izZaYgW۲HVQ

## د نه تاوتریخوالي لار، د څه لپاره؟

افغانان له هر بل چا زیات له تاوتریخوالي سره مخ دي. د څلورو لسیزو تېل شوو جګړو د افغان ځوانانو فکر، باور او هوښ له تاوتریخوالي، جګړې، دهشت او وحشت سره مل کړی دی. ملتونه د ښارونو، سرکونو او واټونو په جوړولو د نیکمرغۍ خاوندان نه شي کېدای، بلکې د فکري رغوني او پرمختګ پر مټ ملتونه د نیکمرغیو او نېکبختیو لرونکي کېږي.

د نه تاوتریخوالي (عدم تشدد) تګلاره منل شوې فلسفه یا ستراتیژي ده(Mazmudar, ۲۰۰۳) چې د فزیکي شخړې په مقابل کې د نه تاوتریخوالي پر بنسټ را ولاړېږي یا دا چې د نه تاوتریخوالي لار ټولنیزه تګلاره ده چې له فزیکي تشدد پرته د ټولنې په هوساینې او پرمختګ کې ترې کار اخیستل کېږي.

د دې ستراتیژۍ یا فلسفې لارویانو ثابته کړې چې پرته له فزیکي شخړې، ورانۍ، تجاوز او کړاو کولای شو ټولنیزې بدمرغۍ له منځه یوسو، ټولنې خپلواکه، په ځان بسیا او سوکاله کړو. د ټولنیزو اصلاحاتو په برخه کې د نه تاوتریخوالي له تګلارې کار اخیستل لوی زړه، پراخ زغم او اوږد مهالې مبارزې ته اړتیا لري.

نېلسن منډېلا، ګاندي، مارتین لوترکینګ او فخر افغان باچاخان له هغو سترو مشرانو څخه دي چې د نړۍ سترو بدلونونو، د

توکومونو د حقونو، د ملتونو د خپلواکۍ او سوکالۍ لپاره یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.

د لوترکینګ بریالیو هلو، ځلو پایله شوه چې په سپین او سور پوستي امریکا تور اوباما اته کاله پاچاهي وکړه، کمزوري ګاندي، لوی هندوستان د انګرېز د ښکېلاک ملا ماته کړه، تور نېلسن منډېلا د سویلي افریقا نیواک ته د پای ټکی کېښود او ستر باچاخان نړۍ ته د پښتون - افغان څېره را برسېره کړه چې پښتون - افغان د تاوتریخوالي قهرمان نه بلکې د نه تاوتریخوالي رهبر دی. په پښتون - افغان د نړۍ زبرځواکونو تاړاکونه کړي، جګړې یې پرې مسلطې کړې، پښتون افغان د چا کور ته نه دی اوښتی، په چا یې له شا ګذار نه دی کړی او کله یې هم په حق سترګه نه ده پټه کړې.

د باچاخان بېلګه د عدم تشدد په فلسفه کې د لمر په څېر روښانه ده، د هغه د ژوند ډېره برخه د خپل ټبر د ښېګڼې، نیکمرغۍ او خپلواکۍ لپاره د انګرېز - هندوستان او را پاتې بلواک پاکستان په جېلخانو کې تېر شو، د عمر تر پایه یې په پښتون - افغان خاوره د بل واک ته سر ښکته نه کړ، د نه تاوتریخوالي فلسفه یې افغان خاورې ته په داسې متانت او ستروالي بنسټیزه کړه چې راتلونکي نسلونه به هم پرې ویاړي او ګټه به ترې اخلي.

د ایمل همدرد صیب دا زیار چې د (عدم تشدد لارویان )کتاب یې ترتیب کړی، یوه ارزښتناکه علمي زیاتونه ده چې د ځوان کهول په فکري رغونه کې به ډېر ارزښتناک کردار ولوبوي. زه ترې مننه کوم چې د دې کتاب په خپرولو سره به مونږ وکولای شو د

خپلې ټولنې فکرې روزنه، له تاوتریخوالي څخه د خلاصون بریالیو هڅو ته لار پیدا کړو.

د نه تاوتریخوالي تګلاره په کوم توکم، مذهب، پاړکي او پرګنې پورې تړلې یا موښلې تګلاره نه ده، بلکې د هر انسان د اساسي حقونو د ترلاسه کولو او د سوکاله، بریالي او بسیا ژوند د خپلولو تګلاره ده. په دې تګلاره د نړۍ ګڼ ملتونه، ولسونه نېکمرغه شوي او ګڼ نور لا هم له دې مبارزې څخه په ګټې اخیستنې خپل بخت ازمايي.

په دې کتاب کې د نه تاوتریخوالي د تګلارې څلور ستر مخکښ لارویان یاد شوي چې د دوی ژوند، اند او زیار کولای شي زموږ د فکري روزنې او ټولنیز عدالت د راوړلو د تګلارې د خپلولو او پر ځای بدلون دلیل وګرځي.

د نه تاوتریخوالي تګلاره له درېو لارو ترسره کېدای شي:

I. د نه همکارۍ له لارې؛

II. د چارو د بندښت او ترون له لارې؛

III. د غندنې او مخالفت له لارې.

په لومړي ډول کې، د نه تاوتریخوالي لارویان هڅه کوي چې د وخت له مستبد، ظالم او ناکاره سرکار یا حکومت سره د نه همکارۍ له لارې په ټولنیز (عدم تعاون) فکر وکړي، کله چې اداري له بې عدالتۍ کار اخلي، د ولس حق نه ور پر ځای کوي نو له ولس په ټولیزه توګه له دې تګلارې څخه کار اخلي. (ارچیوال, ۲۰۱۶)

په دې بڼه کې په ټولنیزه توګه ولس د برېښنا یا ټلیفون د بېل له نه ورکولو کار اخلي. د ښوونځیو، پوهنځیو ته د نه تګ، د مالیاتو د نه تادیې او داسې ګڼو نورو لارو څخه په استفادې حکومت اړ کوي چې د ولس غږ واوري او د دوی حق پر ځای کړي.

په دویمه برخه کې، ټولنه هڅه کوي چې د حکومت یا ادارو ورځنۍ چارې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي، لکه د لارو په اوږدو کې کېناستل، د نه خوراک له لارې او یا هم ورته نورو لارو، چارو کوښښ کوي چې د حکومت ورځنۍ چارې له بندښت، خنډ او ځنډ سره مخ کړي او په دې توګه په حکومتي چارواکو خپلې ټولنیزې غوښتنې ومني.

په درېیم ډول کې، ټولنه کوښښ کوي چې د حکومت چارې وغندي، لاریونونو ته مخه کړي، په رسنیو کې د حکومت چارې نقد کړي، د هغوی د ناقانونه تګلارو په خلاف غږ پورته کړي او په دې توګه حکومت مجبور کړي چې د ولس غوښتنې ومني.

تاسې په دې کتاب کې د پورته لارو چارو، ګڼې بېلګې لوستی شئ. د نړۍ مخکښو مشرانو د خپلو مبارزو په اوږدو کې له پورته یاد شوو دریو تګلارو څخه وخت نا وخته ګټه اخیستې او په دې توګه یې خپله هڅه بریالۍ کړې ده. د نه تاوتریخوالي مبارزه له کړاو، تکلیف او زحمت څخه ډکه ده چې پراخ زغم، لوړې پوهې، ټولنیز ملاتړ، د ولسي- ذهنیت پوهاوي یا لوړې کچې ملاتړ ته اړتیا لري، پرته له ولسي- ملاتړه د دې تګلارې بریالي کېدل ډېر ستونزمن دي.

موږ به په دې ښکلي کتاب کې دا زده کړو چې څنګه کولای شو ستړو موخو ته پرته له تاوتریخوالي ورسېږو او له موږ د مخه چا دا کار په بریالی توګه کړی دی.

قدرمن همدرد صیب ته د دې ښکلي کتاب د تالیف مبارکي وایم او هیله لرم چې ورته ګڼ نور کتابونو تاسو قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کړي.

یا ربه توفیق!

## ملي یووالی د اوسني نظام خلاف[۲٤]

د نظامونو د جوړېدو لپاره ملي اجماع حتمي ګڼلی کېږي، چېرته چې په ملت په زوره نظام منل کېږي هلته به یا استبدادي نظامونو او یا هم کورنیو خونړیو جګړو ته لاره پرانیستل کېږي. د نظامونو جوړول د جغرافیې، نفوس او واکمنۍ ترڅنګ قانونیت او مشروعیت ته هم لازمي ګڼل کېږي.

افغانستان چې له جګړې وروسته د رغېدونکو هېوادونو (Post War Reconstruction)[۲۵] په سر کې راځي، د نظام له منل شوي تعریف څخه لا هم برخمن نه دی. دلته د ولسواکۍ تر نامه لاندې ویش شوی، د جنګسالارانو په لومو کې راښکېل داسې یو سیاسي جوړښت په افغانانو تپل شوی چې د هېواد په هر ګوټ کې ترې بېل تعریف، ګټه او تاوان اخیستل کېږي.

د اوسني نظام په تعریف کې د بن د غونډې نیمګړی او په وېش ولاړ جوړښت اساس ګڼل کېږي. د بن له جوړښت د انتقالي او لنډمهالو ادارو له تېرېدو وروسته هڅه وشوه چې د اساسي قانون

---

[۲٤] June ۹th, ۲۰۱۵

[۲۵] له جګړې وورسته د بیارغووني، نظام جوړوني پروسې ته وایې چې تر ډېره د نړیوالو مرستندویه ادارو، ټولنو لخوا ترسره کېږي چې د بهرنی دولت جوړونې پروسه یې هم بللی شو.

په چوکاټ کې نظام تعریف شي او په دې توګه نظام د ملي اجماع له مخې جوړ شي.

دا کار له ټولو نیمګړتیاوو سره، سره کولای شو، ټاکنې وشوې او نوی حکومت جوړ شو. حکومت د نظام د حرکت، هېنداري او د واکمنی د پلي کولو بنسټ ګڼل کېږي. په نظام کې د درې ګونو قواوو (اجراییه قوه، قضایه قوه او مقننه قوه) تعریف د ولسواکۍ د بنسټ له مخې جوړ شو. د هرې دورې د ټاکنو، انتخاب او دندو لپاره په قانون کې ځانګړې تعریفات وضع شول. حامد کرزي د همدې اساسي قانون د تعریف له مخې دوه ځلې په افغان ولس ولسمشرې وکړه او په دې توګه یې د قانون له مخې د درېیم ځل کاندېدا حکم ته په درناوي درېیم ځلي ټاکنو ته لاره اواره کړه.

د ټاکنو په لومړي پړاو کې ډاکتر عبدالله تر ټولو ډېرې رایې واخیستې، ډاکتر غني ورسره دویم پړاو ته لاره پیداکړه. په دویم پړاو کې د ډاکتر غني محبوبیت، سیاسي تفکر او په ولس کې ژور کار!!! له ډاکتر عبدالله ډېر مخکې کړ، خو ډاکتر عبدالله د ولس پرېکړې ته غاړه کېنښوده او د موازي حکومت د جوړولو ګواښ یې وکړ.

په دې توګه ډاکتر غني د جان کري په منځګړیتوب ډاکتر عبدالله دېته راضي کړ چې له حکومته بهر د موازي حکومت د جوړولو هڅه ونه کړي، بلکې په دننه د حکومت کې موازي حکومت جوړ کړي. د ډاکتر غني په خوښه او د ولس په خلاف د واک وېش ته لاره برابره شوه چې دا د اساسي قانون د تعریف شوي نظام په خلاف لومړنی ګام و.

د دې ګام په اخیستلو نظام کاواکه شو، په حکومت کې حکومت ګوتې جوړ شول، عطا محمدنور هلته وپرسېده، تورن اسماعیل خان هرات ته وززونه وکړل او په دې توګه نظام په وېشلې بڼه دومره کمزوری شو چې ډاکتر غني په دې لټه شو چې کېدی شي هېواد ووېشل شي.

کله کله چې د ارګ له لوړو پوړو سلاکارانو سره مخامخ شم نو هغوی په خدای او رسول راته قسمونه خوري چې د حکومت هېڅ درک خرک نشته، په ارګ کې هېڅوک د پریکړې واک نلري، په هېڅ هم نه یو خبر، نه هم راسره مشوره کېږي بس ورځ سبا کوو، اندېښنه په زړه تېروو، خوبونه تښتېدلي او د بدې ورځې په انتظار شپې سبا کوو.

د ملي یووالي په راتګ سره د نظام مشین کاواکه، هېنداره ماته او حرکت ټکني شو. وزیران د میاشتو لپاره سرپرستان شول، د اساسي قانون خلاف یې له دوو میاشتو وخت په وار وار واوښت، والیان ټول بې واکه شول، حکومت خپل اجرایوي ارزښت له لاسه ورکړ. طالبانو له دې موکې په ګټه اخیستو د حکومت تر ټولو مهم جوړښتونه (ولسوالۍ او ولایتونه) په نښه کړل. دا ځل یې د هېواد هغه سیمې په نښه کړې چې په تېرو دوولسو کلونو کې یې لاسرسی نه ورته درلود لکه بدخشان، مزار، سرپل، فاریاب او نور.

د ملي یووالي د اوسني نظام خلاف دویم ګام د قضاییه قوې پر بنسټونو و. د ملي یووالي مشر- (ډاکتر غني) پخپلې لومړنۍ وینا کې د قضایي او څارنوالي جوړښتونه په اداري فساد تورن کړل. له قاضي‌القضات څخه یې په کلکه غوښتنه وکړه چې په دریو میاشتو

کې باید د فساد ټولې دوسیې تر ارګه ورسوي، څارنوال یې په فساد او درغلۍ تورن کړ او هغه ته یې امر وکړ. ورځ په خیر تېره شوه، خلکو چکچکې وکړې، په رسنیو کې ډنډوره جوړه شوه چې ډاکتر غني ډېر قاطع سړی دی اوس به محکمه او څارنوالي له غلو پاکه کړي، بې ګناه بندیان به خوشي کړي، د باګرام بندیخانه به بنده کړي او په دې توګه به دولت یو لوی سکتور له فساده پاک شي.

په سبا قاضي القضات پوهاند سلام عظیمي رسنیو ته وویل چې د ملي یووالي مشر- د داسې څرګندونو یا ورته احکامو د صدور حق نلري. ډاکتر غني چې پخپله احساساتي وینا پوه شو، اعظمي ته یې د سیدجمالدین لوړ مډال ورکړ او په دې توګه پوهاند د تقاعد په ترلاسه کولو قضایه قوه بې مشره پرېښوده. ورته کیسه له الکو (لوی څارنوال صیب) سره هم تکرار شوه.

هغو په ارګ کې د ډاکتر غني او سرور دانش سره وخوړل، ښکنځلې یې یو بل ته وکړې، څارنوال چې له ارګه را ووت، مزار ته لاړ او هلته د عطامحمد نور په فرمان مخ په امریکا لاړ، حال دا چې ډاکتر غني یې د عدم خروج حکم اړونده امنیتي ادارو ته صادر کړی و.

د اوسني نظام یوه بله مهم ستنه چې د حکومت نظارت او څارنې، د بودیجې د جوړېدو، د کابینې د ټاکلو، د قوانینو د جوړولو او په پای کې په لویه کې د ولس د استازولۍ دنده لري، مقننه قوه (ولسي- جرګه) له لوی ګواښ سره مخ کړه. د ملي یووالي حکومت په لوی لاس د ولسي- جرګې د ټاکنو د ترسره کېدو مخه ونیوله. د

حکومت د تاکنو د خپلواک کمیسون په سر سر ملي یووالي حکومت د تاکنو د خپلواک کمیسون په سر سر وېشلی دی.

د اصلاحاتو تر نامه لاندې غوارې یوې بلې سیاسي معاملې او ګډوډۍ ته لاره برابره کړي او په دې توګه پرې نږدي چې ولس خپل استازي ولري، په حکومت د څار او نظارت دنده ولري. د حکومت په بهرني سیاست کې ولس دخیل کړي، د ولس رایه او نظر د ولسي- جرګې له لارې په غیرمستقیمه توګه منعکس کېږي. لنډه دا چې اوسني نظام ته چې څومره ګواښ له ملي یووالي څخه ور له غاړې دی ماته نه ښکاري کوم بل ځواک دې دومره تاوان ور رسولی وي.

دوی له پیله تر دې دمه همغه خاښ په تبر وهلی په کوم خاښ چې دوی دواړه ( ډاکتر غني او عبدالله) ناست دي د ولس او د حکومت تر منځ ورځ تر بله واټن په ډېرېدو دی، ورځ تربلې ولس د بې باورۍ خواته روان دی، ورځ تر بلې بې روزګاري او ناامني ډېرېږي، دا څوک کوي؟

د ملي یووالي د حکومت په راتلو سره د ولس د هیلو په خلاف عمل وشو. ولس نهیلی شو، د ولس ربښتني استازي باید د دې ولس سپېڅلې هیلې پوره کړي. موږ د نظام د ساتنې لپاره زړه خورو موږ وایو چې دغه ډانچه مو په ډېرو خواریو جوړه کړې، موږ سره د همدغې ډانچې وېره ده چې د ملي یووالي مشران دا راڅخه خرابه نه کړي او موږ هېچاته د دې کار کولو اجازه نه ورکوو.

یوه خبره چې رانه پاتې نه شي غواړم د خپلې لیکنې په پای کې ورته اشاره وکړم هغه دا چې تاسې به خبر یاست چې غني، عبدالله ته ژمنه ورکړې چې دوه کاله وروسته به د صدراتي نظام د راوستو لپاره لویه جرگه راغواړي ځکه چې عبدالله له خپلو خلکو سره ژمنه کړې وه تاسې د دې دواړو اوسنیو حالاتو او تجربو ته په کتو لږ شان فکر وکړئ چې دوی اوس داسې دي منم! نه منم! نو که صدارتي نظام راشي نو بیا به څه کېږي؟

یا ربه توفیق

## د ملي يووالي که انتقالي يا ايتلافي حکومت؟؟[۲۶]

کله چې د حکومتونو پر وړاندې قانوني موانع موجود وي، حکومتونه د قانونيت او مشروعيت له پوښتنې سره مخ کېږي، د حکومت په سر کې مشران ځانونه کمزوري، يوازې او د هېواد د چارو په سمبالښت کې پاتې راغلي ويني. په داسې حالاتو کې عموما حکومتونه د قانون د بدلېدو په لټه کې کېږي.

عموماً د قانون د بدلولو دوه لارې خپلېږي، لومړی د استبدادي يا زورواکي حکومتونو په جوړولو سره هڅه کېږي د ولس د غوښتنو په خلاف، د زور په کارولو او د قانون په بدلولو سره د حکومت د مشروعيت او قانونيت ستونزه حل کړي.

په دې برخه کې هېوادمشر- ته نسبي ولسي- سياسي قوت، نظامي قوت او نړيوال ملاتړ لازمي ګڼل کېږي، څو د ځان په ګټه په قانون کې بدلونونه راولي چې د نظامي کودتاوو په پايله کې رامنځته کېدونکي حکومتونه عموماً له همداسې سناريو سره مخ کېږي او د ځان په ګټه همدا لار اختياروي.

دويم دا چې حکومتونه بله چاره نلري، ترڅو د انتقالي دولت په توګه دنده مخکې يوسي. په انتقالي دوره کې د عامه ذهنيت په رغونه او سمبالښت لاس پورې کېږي. د تاکنو لپاره لاره اوارېږي او

[۲۶] June ۲۸, ۲۰۱۵

په پای کې د ټاکنو په پایله کې حکومتونه ځانته مشروعیت یا قانونیت ورکوي. د لومړني سناریو بېلګه په ۱۹۹۹ میلادي کال په پاکستان کې د پرویز مشرف د حکومت د جوړېدو منطق وو او د دویمي سناریو بېلګه په مصر- کې د سیسي- د حکومت د جوړېدو فلسفه وه.

د ملي یووالي حکومت چې د ایتلافي حکومت یوه مسخه شوې نسخه ده، له ورته یو حالت سره مخ دی. ډاکتر غني او عبدالله ونشوای کولی چې د قانون له مخې د حکومت جوړولو ته غاړه کېږدي، دوی د سیاسي معاملې په پایله کې د ملت د غوښتنو خلاف او له اساسي قانون سره په ټکر کې حکومت جوړولو ته زړه ښه کړ. د حکومت تجربه نوې او د هېواد سیاسي حالت ډېر کړکېچن دی.

دواړه مشرانو په ګډه له تېر یو کال راهیسې د ګډ کار روحیه ایجاد نشوای کړی. دواړه لوري په ژورو اختلافونو کې یو بل ته په کمین کې ناست دي، د هېواد امنیتي، سیاسي او اقتصادي وضعیت ورځ تر بلې د کړکېچ په لوري روان دي.

که دواړه مشران په لوی لاس د اوسني وضعیت دوام ته زړه ښه کړي، د ملت له سخت غبرګون او انقلابي بدلون سره به مخ شي. ددې کار لپاره ډېر لاملونه او وسایل شته چې کېدای شي دا حالت د هېواد او همدارنګه د دواړو مشرانو د سیاسي ژوند په خلاف وي.

له دې امله د ملي یووالي حکومت اوسنی بڼه تر ډېره بریده د انتقالي حکومت د دندې د ترسره کولو یوه دوره ده. دواړه مشران،

افغـان سیاسـیون او نړیوالـه ټولنـه بایـد د حکومـت د اوسـني ځرنګـوالي پـه اړه ځـان پـوه کـړي، دوی بایـد پـه دې پـوه شي چې ملـي يـووالی د غنـی او عبـدالله پـه يـو ځـای کېـدو نـه راځـي، بلکې د ملـي يـووالي لپـاره د حکومـت د مخـالفينو، پـه لويـه کـې د سـياسي متنفذينو او روڼ اندو ننوتل لازمي ګڼل کېږي.

د اوسـني حکومـت د پنځـوس ورځـو پنځـوس وېـش د وزارت لـه کچـې اوس د معينيتونـو کچـې او د کليـدي رياسـتونو کچـې تـه را کـوز شـوی کـړکېچ دی. يـو کـال د وزارتونـو پـه وېـش تېـر شـو، روان کـال د معينيتونـو پـه تقـررۍ او وېـش او پـاتې وخـت بـه د کليـدي رياسـتونو پـه وېش او ګومارنـه کـې تمـام شي، ولـس چـې د بېـوزلی، بېکـارۍ، نشـه يـې توکـو د اعتيـاد او نـاامنۍ لـه سختو ګـذارونو سره مخ دي، نه شي کـولای د راتلونکـو څلـورو کلونـو لپـاره اوسـني وضـعيت تـه غـاړه کېـږدي. د اسـنادو لـه مخـې همـدا شـېبه د دفـاع وزارت ټـول کليـدي رياسـتونه د سرپرسـتو رئيسـانو لـه لـوري اداره کېـږي چـې د روانـو نـاامنيو يـو سـتر لامـل پـه حکومـت کـې د جګـړې د مـديريت او رهبرۍ د وړتيا نشتوالی دی.

د ملـي يـووالي ناکامـه تجربـه کـه پـه سـمه توګـه د انتقـال دنـده ترسره نـه کـړي، کېـدای شي د کـورنۍ جګـړې د رامنځتـه کېـدو سـبب وګرځـي. د مـلي يـووالي د حکومـت پـه راتـګ سره د دولـت وجـودي فلسـفه لـه ګـواښ سره مـخ ده -قضـايه قـوه او ولسي- جرګـه ( مقننه قـوه) لـه سرپرسـتۍ سره مـخ شـوي دي. دا پـه دې مانـا چـې مـلي يـووالي د افغانسـتان معـاصر نظـام لـه ماتېـدا او شړېدا سره مـخ کـړی دی.

ډاکټر غني او عبدالله د ځینو ملت ضد عناصرو په ولکه کې دي، د هېواد له حقیقي وضعیت څخه یې په لوی لاس بې خبره ساتي او په دې توګه روان بحران لا ژورېدا ته بیایي، له دواړو مشرانو هیله کېږي چې د ګران وطن سیاسي، اقتصادي او ټولنیز حالت په سمه توګه و ارزوي. د انتقالي سیاست طرحه رامنځته کړي او بو پراخ بنسټه افغان شموله دولت ته زمینه برابره کړي، په دې توګه به دواړو مشرانو د افغان تاریخ له شرم او عار څخه ځانونه ژغورلي وي.

یا ربه توفیق !

## ملي یووالی د ګرنګ پر غاړه[۲۷]

هېوادونـه د مـلي یـووالي د جوړښـت یـا ارزښـت لـه مخـې جـوړېږي. د هېـواد د جوړېـدو او پرمختـګ لپـاره د ملـت پـه کچـه د ارزښـتونو او ګتـو ګـډ تفـاهم شرط دی. د وروسـته پـاتې هېوادونـو سـتره سـتونزه د مـلي ګټـو د تعریـف تتـوالی، د مـلي ارزښـتونو کـم رنګـه کېـدل او د ملي یووالي په وړاندې د سترو خنډونو شته والی دی.

نومـوړي هېوادونـه د کورنیـو جګـړو، اسـتعمار او د بهرنیـو هېوادونـو د لاس وهنـو پـه لومـه کـې پـه اسـانۍ سره بنـد پـاتې کېـږي. لـه بـده مرغـه، افغانسـتان لـه تېـرو څلـورو لسیزو را هیسـې د مـلي ګټـو، ملي ارزښـتونو، ځمکنـۍ بشـپړتیا او مـلي حاکمیـت د تعریـف او شـتون لـه کمرنګۍ او ماتېدا سره مخ شوی هېواد دی.

د افغانســتان دښــمنان د افغــان هېــواد د ســتونزو او ماتېــدونکو جوړښـتونو نسـبتا ښـه مطالعـه لـري، پـه افغانسـتان کـې د قومونـو، ژبـو، مـذهب او فرهنګـي وېـش تـه پـه کتـو د معـاصر افغانسـتان دښـمنانو پـه دې ټولـو برخـو کـې افغـان ذهنیـت د پخـوا پـه پرتلـه څـو چنـده زیـات وېشلی او مغشوش کړی دی.

پـه تېـره یـوه لسـیزه کـې، پـه ځـانګړې توګـه د بـون پـه دسیسـه کـې د قـدرت وېـش د پښـتون، تاجـک او هـزاره تـر مـنځ د همـدې مطـالعې او

[۲۷] January ۱۰, ۲۰۱۵

دسیسې یوه کرغېړنه پیلامه وه. په سلګونو میلیونه ډالره، په سلګونه پیاوړي روزل شوي استخباراتي او نظامي (کورني او بهرني) ځواکونه، په سلګونه نړیوال او افغاني کدرونه، مدني جوړښتونه، رسنۍ او سیاسي جوړښتونه ټول په کار واچول شول، څو د دې وېش د راتلو او لا ژورېدو لپاره اګاهانه او نا اګاهانه کار وکړي.

په تېره یوه لسیزه کې د ټاکنو تر نامه لاندې تش په نامه ډرامه او بیا د ټاکنو له لارې د واک د انتقال (پښتون، تاجک، ازبک او هزاره ته) پروسه هم د افغان وېشنې لپاره یوه له نیمګړو طرحو څخه وه. نوی حکومت چې د وروستیو ټاکنو د پایلو په خلاف جوړ شوی، په اصل کې د ملي یووالي نه بلکې د ملي یووالي د ارزښتونو او بنسټونو په خلاف جوړه شوې دسیسه ده چې له پیل سره سم یې د اساسي قانون حیثت تر پوښتنې لاندې کړ.

د نوي حکومت بدرنګه څېره د بون له غونډې را په دې خوا ترسیم کېدې شوای، خو دې انځور کښلو ژور فکر، سیاسي ژمنه او په روانه غمیزه د درد احساس ته اړتیا لرله چې له بده مرغه زمونږ په سیاستوالو کې نه تر سترګو کېږي.

سیاست له فرصتونو د معقولې استفادې په مانا دی، کله چې په سیاستوالو یا حاکمه ډله کې د پېښو د مدیریت او وړاندوېینې وړتیا موجوده نه وي، هلته هر څه د بخت، ناسمو اټکلونو او په پای کې له ستونزو څخه نویو ستونزو ته د رسېدا په مانا تعبیر کېږي. د حکومتونو په وجودي فلسفه کې تر ټولو مهم ارزښت هغه د مشروعیت د لرلو یا نلرلو ارزښت دی. په ولسواکو حکومتونو

له لاندې سرچینو یا لارو څخه ترلاسه کېږي:(Chu, ۲۰۰۵)

- د ټاکنو بهیر؛
- د قانون واکمني؛
- د قانوني مراجعو له جوړښت او طرحو څخه.

له بده مرغه، نوي حکومت (د ملي یووالي) تر نامه لاندې د پورته ټولو سرچینو پر خلاف خپل شتون اعلان کړ، له دې امله يې د مشروعیت کچه بیخي ټیټه ده.

که په رښتیا سره زمونږ اوسنی حکومت د ولسواکۍ د نظام یو برخه وي، نو په ولسواکۍ کې لکه څنګه چې پورته یاد شول، د ټاکنو، د قانون د واکمنۍ، د قانوني مراجعو د تفسیر او په پای کې د تصمیم نیوونکو پروسو له لارې د حکومت د راتلو مشروعیت سرچینې په کار اچول کېږي. د ملي یووالي تر نامه لاندې چې کوم جوړښت موږ ډنډوره کوو، په ولسواکۍ کې د مشروعیت کومه دریځه نلري.

نو څکه د نوي حکومت د ړنګېدو وېره باید ډېره هېښوونکې یا حیرانوونکې نه وي، خو له نوي حکومت سره د (ملي یووالي) د ارزښت پیوند ډېر د اندېښنې وړ دی. د ملي یووالي تر نامه لاندې د ازبکو نوې ملېشې، د ټلوالې زور واکې او د رورا بکر او د فدرالېزم د ملاتړو خپلسرې کتنې او دسیسې وار د مخه ملي یووالی د ګړنګ پر غاړه درولی دی. که روان سیاسي کړکېچ لړ نور وغزېده، کېدای شي د ملي یووالي ارزښت مو له دې ګړنګه وغورځوي، نو څکه خو افغان سیاستوالو، روڼ اندو او ملتپالو ته په

کار دي چې ژر په یو تغر را ټول شي، د پورته یاد شوو اندېښنو شننه او ځیرنه وکړي. حللاره یې په سوله کې ده، کنه بیا به په تللو اوبو پسې بېلچه ګرځوو.

یا ربه توفیق

## ملي وحدت د شعار تر بریده[۲۸]

په یوشتمه پېړۍ کې لا هم له افغانانو څخه ځینې نړیوال منل شوي مفاهیم او معیارونه د څو لار ورکو، پردي پالو او بې ننګو له لاسه خطا شوي ښکاري. په هغو شته مفاهیمو کې یو هم د ملي یووالي معیار دی. لومړی دا چې که افغانان په تاریخي توګه یو ملت نه وای - ملي یووالی یې نه لاره، نو بیا د نولسمې، شلمې او دا دی د یوویشتمو پېړیو سترو اشغالګرو، نیواکګرو طاقتونو ته ماتې چا ورکړه؟

د افغانستان د جغرافیې تر نامه لاندې دا هېواد چا ساتلی؟ ورنه په لس ګونو نورې پوښتنې به مو ذهن ته راشي. د هېوادونو تر ټولو ستر شاخص یا ټاکونکی معیار هغه په یوه ټاکلې جغرافیه کې د یوګوني ملت شته والی دی. په تېره یوه لسیزه کې تر ټولو کم کار هغه د ملي یووالي د راټګ لپاره دی، یا د افغان ملي یووالي د ملي هویت د ساتلو لپاره شوی. په حقیقت کې، په تېره یوه لسیزه کې د افغان ملت وېش ته نسبت ملي یووالي ډېر کار شوی.

د ۲۰۰۱ میلادي کال په ډسمبر کې - د المان د بن. د غونډې جوړښت د ملي وېش تر ټولو ستره دسیسه وه. د ملي یووالي لپاره تعریفوونکي واړه شاخصونه (ښکارندې - Criteria) هغه د قومي

---

[۲۸] December ۵, ۲۰۱۳

تناسب، ملي مشراکت، متوازن پرمختګ او د حقونو تساوي یا د قانون په وړاندې مساوات دي چې باید په یو هېواد یا دولت کې ورته ارزښت ورکړای شي څو په رښتني توګه د ملي یووالي ستنې په کوردننه پیاوړې کړای شي. ایا هغو شاخصونو ته په تېره څه له پاسه یوه لسیزه کې په رښتینې توګه کار شوی؟

ملي یووالی شعار نه دی، په عملي توګه د یو ملت د افرادو تر منځ د متقابل درناوي، ګډ کلتور، د شریکو ګټو، وېشلی غم او زغم وجود ته ویل کېږي. چیرته چې افراد د خپلو سمتي، ژبنیو، شخصي، مذهبي او په پای کې د پردو د ګټو پالنه کوي هلته ملي یووالی له ګواښ سره مخ کېږي. په تېره یوه لسیزه کې یو غل، رهزن، قاتل او پردي پال ته د اتل لقب ورکړل شو، یو بې تعلیمه، بدرنګه، بد شکله ته د مارشال لقب ورکړل شو، یو افغان وژونکي ته د سولي د سالار لقب ورکړل شو، یو لوټمار، غل او درغلګر ته د میلیونر منصب حاصل شو، خو یو بل ته تش په دې چې سپین پاج یې په سر دی، اوږده ږیره لري، په سوچه او خوږه پښتو خبرې کوي، ښکلی او سپېڅلی زړه لري له طالب او القاعده سره منصوب شو، د باګرام، کندهار، څرخي پله او ان د ګوانتانامو په بندیخانو کې شکنجه شو.

په دې شعار چې خاین ته خاین مه وایئ، غل ته په غل ویلو یووالی خرابېږي، قاتل باندې سترګې پټې کړئ، نه ملي یووالی راتلای شي او نه یې هم ساتلی شو !! که غم مو شریک دی، نو باید خوښي مو هم شریکه وي، که تاوان د ټولو دی، نو باید په ګټه کې هم ټول برخه ولري!! څو چې دا توپیرونه په افغاني ټولنه

کې له منځه نه وي تللي، د ملي يووالي خبرې يوازې د شعار تر بريده پاتې کېدلای شي او بس هېڅ عملي اړخ به ونلري.

راځو ملي تناسب ته، يوازې له پنجشير څخه ۲۰۰ جنرالان په ملي امنيت، کورنيو چارو وزارت او دفاع وزارت کې په دندو او د امتيازاتو د اخيستلو په بدو بوخت دي. حال دا چې له ټول سويل او ختيځ افغانستان څخه دا شمېره سلو ته نه رسېږي؟ لويه بدبختي دا چې قومي تناسب (لويو او وړو) ته پام نه دی شوی، بلکې په لوی لاس قومي برابرښت ته کار کېږي.

د ملي مشارکت له کبله يوه وړه ولسوالي په ولايت بدله شوه، خو د شينوارو لويه ولسوالي، د اورګون لويه ولسوالي د ځدرانو اته پراخې او سترې ولسوالۍ لا هم د ولسوالۍ قانوني امتيازات نشي‐تر لاسه کولای؟ ملي مشارکت په حکومت کې د يو څو لنډغرو، لوټمارو او ټوپکمارو د اغېز تر سيورې لاندې سلګۍ وهي.

متوازن انکشاف د پورته ياد شوو ولسواليو او ولايت د کچې له وېش څخه ښه معلومېږي، يوه وړه ولسوالي د درېيمې درجې ولايت (پکتيکا، خوست، کنړ او نورستان) امتيازات اخلي. د حقوقو تساوي يې هم په ورته اور سوځولې ده چې اوس په کې د ملي يووالي ناره کوونکي يوازې د شعار تر بريده ژوند کولای شي او په عملي توګه د ملي وېش، ملي يووالي د سپکولو او له منځه وړونکو اتلانو د پردو په لمسون د ملت په ستوني پښه ايښې ده.

**حللاره**

يوازينۍ حللاره هغه د پورته ياد شوو توپيرونو له منځ وړل دي. په تيوريکه توګه چېرته چې د ملت د وګړو ترمنځ د متقابل درناوي او

منښې (Integration)، د یـو بـل پـه وړانـدې د جـذب او زغـم (Assimilation) او پـه پـای کـې د یـو بـل د حقوقـو، امتیـازاتو او منلـو (Naturalization) پروسـې پـه عمـلي او سـمه توګـه تـرسره نشي-، ملي یووالی نشي- تامینـدلای. پـه دې برخـه کـې افغـان ځوانـان سـتر رسالت او دنـده لـري چـې بایـد د مـدني خوځښـتونو او جوړښـتونو لـه لارې پـه حکومـت او نړیوالـو فشـار راوړي څـو قـومي انـډول، مـلي مشـارکت، متـوازن پرمختـګ او حقـوقي برابرښـت تـه لاره اواره شي.

(J, ۱۹۶۳)

## پاکستان سره څه ډول تړون ته اړتیا ده؟[۲۹]

پاکستان له خپل جوړښت څخه را په دې خوا د کمزوري، نسیم ژواندي او ماتېدونکي افغانستان لپاره په وسله وال مخالفت لاس پورې کړی دی. پاکستان د خپل شوم تاریخ په اوږدو کې تل د افغان حکومت د مخالفینو ملاتړ کړی، دا کار یې د اوږدمهال لپاره په خپله سیمه ییزه تګلاره کې ځای پر ځای کړی دی چې د ستراتیژیک عمق (Strategic Depth[۳۰]) تر نامه لاندې یې یادوي.

د پخواني شوروي له یرغل څخه را پدې خوا د پاکستان ناپاک نیت او نیابتي جګړې د پاکستان په ګټه رنګ راووړ. په لومړي ځل یې افغانستان دومره کمزوری ولید چې د خوراک په چل یې نه

---

[۲۹] May ۲٤, ۲۰۱۵

[۳۰] د ستراتیژکې ژورتیا تیوري په جګړه کې استعمالیدونکي تکتیک دی چې د ملکي هدف او د دښمن سره د جګړې د لومړې کرښې ترمنځ واټن په ګوته کوي. د پاکستان او هندوستان په جګړه کې پاکستان غواړي له افغانستان څخه د ستراتیژیکې ژورتیا په توګه کار واخلي په دې مانا چې د افغانستان له جغرافیې څخه په هندوستان د جګړې او سیاسي فشار په توګه ګټه پورته کول دي تر څو د پاکستان جغرافیه او نفوس د هندوستان له فشار او جګړې څخه خوندي وساتلی شي. د پاکستان پوځ د نویمې لسیزې را هیسې د همدې تیورې له مخې په افغانستان کې سیاسي او نظامي مداخلې کوي تر څو نه یوازې هندوستان بلکې سیمه هم د افغانستان د جیو-ستراتیژیک موقعیت څخه په ګټه اخیستنې تر فشار لاندې وساتي.

پوهېده. خپل صادرات يې په لومړي ځل د ګران افغانستان له خاورې تر ترکمنستان، ازبکستان پورې پرته له محصول تېر کړل.

له ۱۹۹۱ څخه تر ۲۰۰۱ ميلادي کلونو پورې پاکستان په خپله ملي بوديجه کې د افغانستان لپاره هم ځانګړې بوديجه تياروله، افغانستان ته يې تل د پنځمې صوبې په سترګه کتل، افغانان يې د غلامانو په توګه د خپلو سيمه ييزو سياستونو لپاره ګومارل. د هندوستان الوتکه يې د کندهار په نړيوال هوايي ډګر کې راښکته کړه. د اسلام په نامه يې د يو انسان وژونکي، قاتل او کرغېړن مخې د جيش محمد د مشر (مسعود ازهر) ورور د همدې الوتکې په بدل کې له هندوستان څخه را خلاص کړ. لوبه پاکستان وکړه؛ خو پور يې مونږ پرې کړ. پاکستان له افغانستان څخه د کشمير جګړه، د ايران پر خلاف د جندالله جګړه، د روس پر خلاف د چيچن جګړه، د منځنۍ اسيا پر خلاف د شرقي ترکستان جګړه، د چين پر خلاف د يوغوريانو جګړه، د امريکا او ناټو پر خلاف يې د القاعدې جګړه تمويلوله. پاکستان په دې ټولو جګړو ژورې پانګونې وکړې. پاکستان د نړۍ د هر ستر طاقت لرونکي هېواد لپاره د کب د خولې د ازغي حيثيت پيدا کړ او په دې توګه پاکستان ځان د نړۍ د طاقتونو د بيلانس د مرکز په توګه مطرح کړ. چين يې په يوغور، ايران په جندالله، هندوستان په کشمير، روس په چيچن، امريکا او په لويه کې ناټو يې په القاعده وننګول.

افغانستان او افغانان ډېر مظلوم دي. د حديث مفهوم دی: «د مظلوم له ښېرا ځان وساته، ځکه چې د هغه او الله تعالی تر منځ هېڅ خنډ نشته. صحيح بخاري.» الله ج د افغانانو ښېراوې

پوځونـه د ترهګـرۍ تـر نامـه د جګـړې پـه لټـه واوړېـدې، د نـړۍ سـتر
کې پاکستان او افغانستان ته راغلل. د پاکستان لوبې رسوا شوې.
په دې برخـه کـې پـه تېـرو دیارلسـو کلونـو کـې افغانـانو پـه لـس ګونـه
زره شـهیدان ورکـړل. کورونـه یـې ړنـګ شـول، بمبـار شـول، لاس او
پښـې یـې پرې شوې، خـو لـه پاکسـتان سره یـې دښـمني یـو پـه سـل
چنـده بلکـې زر چنـده شـوه. د پاکسـتان تـر ټولـو مشـهور لیکـوال
احمـد رشـید مجبـور شـو د پاکسـتان د خـراب وضـعیت او کـړکېچ پـه
اړه کتـاب ولیکـي (Pakistan on the Brink)، دا کتـاب مـا پښـتو تـه
وژباړه (پاکستان د ګړنګ پر غاړه).
احمـد رشـید پـه ۲۰۱۲مـېلادي کـال د مـارچ پـه میاشـت کـې د
پاکسـتان وضـعیت د پاکسـتان د تـاریخ پـه اوږدو کـې تـر ټولـو
کمـزورې او ماتېـدونکی را پېـژني، د دې لپـاره یـې درې مهـم لاملونـه
په ګوته کړل:
لومړی: د پاکستان خراب اقتصادي وضعیت؛
دویـم: د پاکسـتان کـورنی امنیـت (د پاکسـتاني طالبـانو ورځ تـر بلې
ځواکمنېدل)؛
دریم: د بلوچستان د جګړې تودېدل.
احمـد رشـید د پاکسـتان د ماتېـدا درې واړه علتونـه پـه افغانسـتان
پورې تړلیـو بلـل. احمـد رشـید پـه دې بـاور و چـې افغـان اسـتخباراتي
ادارې، افغـان حکومـت (پخـوانی ولسمشرـ کـرزی) د پاکسـتان
خـلاف سـتراتیژیو پاکسـتان داسـې رسـوا کـړی چـې نـور نـو پـه
سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه انزوا کې پروت دی.

کله چې حامد کرزي د ملي امنیت د مشر- په توګه اسدالله خالد ونوماوه، احمد رشید نیویارک ټایمز ته لیکنه وکړه او دا کار یې د پاکستان د ماتېدا په مانا وګاڼه، خالد یې د پاکستان لپاره د سترګوانښ او ډار په توګه معرفي کړ، د پاکستان استخبارات یې دېته متوجه کړل چې د خالد مخه باید ونیسي-، همدا و چې اسدالله خالد د پاکستاني استخباراتو د حملې ښکار شو.

اوس راځم دې ته چې تر کله به دا د پیښو او موږک لوبه روانه وي؟

د زمري یوه ورځ ژوند د ګیدړ له سل کاله ژوند څخه بهتر دی.

افغانانو د پاکستان په مقابل کې ټولې قربانۍ د خپلې خپلواکۍ لپاره ورکړې، افغان ملت تر هغو نه شي پوره کېدلی چې موږ د لوی افغانستان خوب رښتیا نکړو، څو چې پاکستان په دې پوه نه کړو چې افغانستان خپلواک، سرلوړی او بسیا هېواد دی.

په ولسواکو هېوادونو کې چې کله ګوندي سیاست کمزوری وي، کله چې ولسمشران په کې د ګوند استازولي نه کوي، هلته ولسمشران د زورواکو پېښې کوي، هلته د مشورې او تګلارې تر نامه لاندې پروسو باندې ملنډې وهل کېږي.

د ملي یووالي د حکومت نه پوهېږم دا څووم کار دی چې له کولو وروسته پرې مشورې را بلل کېږي. له فرمان صادرولو وروسته بېرته په صادر شوي فرمان فکر کېږي، د فرمان له صادرېدو سره سم په دننه کې د ملي یووالي د مخالفت غږ پورته کېږي.

د فرمان د صادرېدو لومړی مخالف د ولسمشر- د اجرایوي رئیس ګوانښ وي، دې کار افغان ملي حیثیت په نړۍ او سیمه کې

ریشخند کړي. کله چې هم له دې وروسته اشرف غني د کوم کار کولو پرېکړه کوي، لومړی یې باید ښه وشاربي، له اړونده کسانو سره دې پرې مشوره وکړي، عبدالله دې پرې خبر کړي، ځان دې پرې پوه کړي له هغه وروسته دې د پرېکړې اعلان وکړي.

زمونږ چوپه خوله په دې نه ده چې د دې تش په نوم حکومت په کمزوریو نه پوهېږو، بلکې زمونږ چوپه خوله په دې مانا ده چې تاسو نور د نیوکې، کره کتنې او سموني ارزښت له لاسه ورکړی دی. نور باید ستاسو د رغونې په لټه کې ونه اوسو، بلکې انتظار وباسو چې څه وخت خپله د ملت پښو ته را لوېږئ، پخپلو کړنو پښېمانه کېږئ، سر ټیټی کېږئ، ځان درته نور بد ښکاري او له مظلوم افغان ملته بښنه غواړئ، دا کار به ډېر ژر وکړئ.

له پاکستان سره د عملیاتي پروسو د معیاري کولو (Standard Operating Procedure)[31] اړتیا نه لیدل کېږي، بلکې د دې پر ځای باید له پاکستان سره د نه لاسوهنې (Non interference) تر نامه لاندې پرېکړه لیک لاسلیک شي.

دا څومره د خندا وړ موضوع ده چې طالبان له اسلام اباده قطر، ایران او چین ته سفرونه کوي، مونږ ورسره د خبرو لپاره زړه ښه

[31] SOP ایس اوپي د فعالیتونو (کړنو) ټولګه ده چې هدف ته د رسېدو لار اسانوي، دا ټړون د هغو هېوادونو تر منځ ترسره کېږي چې ګډه پوله ولري، رسمي سرحد ولري او د سرحد په اوږدو کې د تروریزم، ګډوډیو، نا امنیو، قاچاق په مقابل کې د ګډې مبارزې کړنې ویشي او د ترسره کولو د پاره یې ګډ کاري پلان جوړوي. دا چې افغانسان له پاکستان سره ګډه پوله نه لري، رسمي سرحد نه لري، له دې امله دداسې ټړون لاسلیک کول د ډیورند د کرښې په سر د پټې معاملې اندیښنې را ټوکوي چې قدرمن څوانان ورته باید ښه متوجه وي.

کوو، خو بیا له پاکستان څخه غواړو چې زموږ سره د طالبانو په اړه استخباراتي معلومات شریک کړي.
وه ظالمانو!! کوم استخباراتي معلومات؟؟ طالبان خو په ښکاره، په ډګر د پاکستان له هېواده زموږ سره د سولې د خبرو لپاره سفرونه کوي، نو د څه په اړه معلومات غواړئ؟؟؟؟
پاکستان په پرېکړه لیک کې د خپلواکۍ غوښتونکو په اړه د معلوماتو یاد کړی دی. دا ځکه چې له تېرې څه له پاسه یوې لسیزې را هیسې بلوچ بیلتون پالونکي، پښتانه ملتپالان داسې انګېرې چې افغانستان ورځ تربلې ځواکمنېږي. ناوخته نه دی چې وخت را ورسېږي چې افغانان د دوی د خپلواکۍ لپاره لاس په کار شي، خو دا پرېکړه لیک به یې اوس ګرېوان ور څیرې کړي، افسوس.
پرېکړه لیک کې راغلي چې ډیورند د سرحد (چې تل ورته کرښه ویلې شوې، تېر حکومت فرمان صادر کړ چې په ټولو حکومتي مکتوبونو کې ورته باید کرښه وویل شي) د کرښې په اوږدو کې به ګډ عملیات کېږي، پاکستان به خپلې چاونۍ، پوځي تاسیسات تحکیموي او داسې نور.
دا د افغان حکومت دنده او مسولیت نه دی چې د ډیورند د کرښې په سر دې معامله وکړي، دا د حکومت له چوکاټه، زور او ځواکه لوړه خبره ده. په دې اړه باید لویه جرګه را وغوښتل شي. موږ تل د ډیورند د کرښې په اړه د ګونګ سیاست ښکار کېدلی نه شو، د دې لپاره چې دا ستونزه اواره شي، زموږ سیاست له

پاکستان سره په دې اړه روښانه شي، باید لویه جرګه په دې اړه فیصله وکړي.

د دیموکراتیکو هېوادونو یوه بله مهمه ښکارنده دا ده چې کله هم خپل بهرنی سیاست تمثیلوي، مخکې له مخکې خپلې پرېکړې، تصمیمونه او هوډونه له ملت سره شریکوي. د دې پرېکړه لیک کاپي لا هم له ګران افغان ملته پټه ساتل شوې ده. په دې اړه ارګ ته ورغوښتل شوو مېلمنو ته هم په شفاهي ډول خبرې شوې، دکاغذ پر مخ بحث ورسره نه دی شوی.

ملي یووالی؟ نور باید پټ، دیکتاتورانه، خپلسري او کاواکه سیاستونو ته شا کړي، ملت سره هر څه باید په وخت شریک کړای شي، کنه دا سې کړنې به د حکومت د پایښت په وړاندې ګڼ خنډونه را پورته کړي.

اشرف غني ژمنه کړې چې په پرېکړه لیک کې به سمونې راشي. د همدې سمونو په اړه یو څو وړاندیزونه.

**وړاندیزونه**

**لومړی**، دا چې د پرېکړه لیک بڼه یا عنوان دې بدل شي. د پرېکړه لیک عنوان دې د دواړو هېوادونو تر منځ د نه لاسوهنې تړ نامه لاندې یاد شي؛

**دویم:** په پرېکړه لیک کې دې د استخباراتي معلوماتو د شریکولو په اړه بحث لغوه شي. ځکه افغان حکومت له پاکستان څخه د طالب مشرانو په اړه هېڅ ډول معلومات نه ترلاسه کولای شي او نه هم د معلوماتو شریکول په دې مانا دی چې څه عمل دې پرې وشي. د دې پر ځای دې د سولې په خبرو کې د پاکستان د پاک

نیت، دوه رنګه سیاست لغوه او د ژمنو او تعهداتو په خوندیتوب دې بحث وشي؛

**دریم:** د ډیورند د کرښې په اوږدو کې دې د عملیاتو مخه ونیول شي. دا عملیات یوازې د پښتون وژنې پلمه او ستره دسیسه ده. پښتانه له پېړیو وروسته د یو میلیون په شمېر شاوخوا د وزیریستانونو په جګړه کې بې کوره شوي، وژل شوي او بندیان شوي، دا هر څه د همدې بدمرغۍ ښکار دي. د عملیاتو پر ځای دې د ډیورند کرښې په اوږدو کې په نړیوالو مرستندویو ادارو غږ وشي چې د خلکو د ژوند د ښه کولو لپاره به مالي مرستې او بسپنې را ټولېږي او سیمه به د یو پرمختیایي پلان له مخې ابادېږي؛

**څلورم:** د ترهګرۍ پر خلاف عملیات دې په پېنډۍ، اېبټ اباد، ټېکسلا، لاهور، کراچۍ او د پنجاب په پټو سیمو کې وشي. چېرته چې نړیوالې ترهګرې ډلې ځالې لري، د هغو ځالو په اړه به افغان حکومت مکلف وي چې خپل معلومات شریک کړي؛

**پنځم:** تړون د ګډو ګواښونو ګونګ تعریف تر القاعده، داعش او بیلتون پالو پورې محدود کړي. ګډ ګواښونه باید تعریف شي، بېکاري، بېوزلي، ناپوهي، بې سوادي او القاعده دې تر داعش پورې محدود شي. بېلتون پالي یوازې د پښتنو او بلوڅو ملتپالو د وژنې او د پنجاب د استعمار د پراخوالي په مانا دي؛

**شپږم:** هر هغه پرېکړه لیک چې له پاکستان سره کېږي، مخکې له لاسلیکېدو دې له ملت سره شریک شي، د ولسي- جرګې د

بهرنیـو او امنیتـي چـارو لـه کمیسـیونونو سره دې شریـک شي او لـه
ژورې شنني او څېرنې وروسته دې لاسلیک شي.
د پورتـه وړانـدیزونو تـر څنـګ، زمـوږ ګنـې سـتونزې لـه پاکسـتان څخـه
نـه بلکـې لـه خپـل کمـزوري کـورني سیاسـت څخـه را ټوکېـدلې دي.
مخکـې لـه دې چـې پـه بهـرني سیاسـت کـې ښـکېل او ګونـګ پاتې
شـو، بایـد خپـل کـورني لومړیتوبونـه پـه ګوتـه او د هغـو سـم سمي تـه
کار وکړو.
یا ربه توفیق!!

## سیاسي سقوط د چا لخوا؟[۳۲]

کارلوتا گال (Carlotta Gall[۳۳]) په نیویارک ټایمز کې د ډاکتر غني له قوله لیکي: «که د افغان حکومت د سولې خبرې له پاکستان او طالبانو سره بریالۍ نه شي، نو د ۲۰۱٦ مېلادي کال تر پایه به افغان حکومت وجود ونلري.» له ډاکتر غني په همدې لیکنه کې پوښتنه شوې چې حالات به څومره خراب شي؟ ډاکتر غني په ځواب کې ویلي چې د حالاتو خرابېدل د سیمې د هېوادونو په مرسته پورې تړلي دي. له بلې خوا په همدې ورځ د ولسمشر ـ ستر سلاکار، د اصلاحاتو او حکومتولۍ مخکښ مبارز، احمد ضیا مسعود خپلو ټوپکیانو ته ویلي چې وسلو ته لاس کړي، حالات خرابېږي، جګړې ته تیاری ونیسي.

په همدې وخت کې د امریکا د استخباراتو د ادارې مشر ـ (جیمز کلپر) د امریکا سنا ته ویلي چې افغانستان په ۲۰۱٦ مېلادي کال کې د سیاسي سقوط له ګواښ سره مخ دی. نوموړي ویلي

---

[۳۲] February ۱۰, ۲۰۱٦

[۳۳] کارلوتا ګال انګریزی خبریاله ده چې له تېرو ۱۲ کالو راهیسې د افغانستان او پاکستان اړونده پېښو باندې نیویارک ټایمز ته لیکنې کوي، تېر کال د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د نیویارک ټایمز ادارې ته د کارلوتا ګال د لیکنو په اړه رسمي شکایت وکړ، ځکه کارلوتا ګال پاکستان د ترهګرۍ مرکز او اصلي لامل ګڼي او د افغانستان په نارامۍ کې پړ ګڼي. د کارلوتا ګال کتاب (The Wrong Enemy) په همدې موضوع را څرخي چې لوستل یې اړین دي.

چې افغانستان د سیاسي همغږۍ په تشې، د طالبانو له سخت ګوابښ او د سرچینو له کمښت سره مخ دی. همداراز په ورته وخت کې د سنا ورته مجلس ته جنرال کمپبل (په افغانستان کې د ناټو د ځواکونو پخواني مشر-) هم ویلي وو چې افغان وسله وال ځواکونه په جګړه کې ځکه پاتې راغلي چې د مدیریت او رهبرۍ له تشې سره لاس او ګرېوان دي.

پوښتنه دا ده چې دا هر څه ولې د ملي یووالي له دننه کېږي، د مدیریت کمزوري، د رهبرۍ تشه او که د سیاسي ارادې نشتوالی؟ ولې د ډاکتر غني د لېږد د بریالۍ پروسې پایلې په ناکامۍ سره تمامېږي؟ ولې د حکومت د لوړ پوړو چارواکو په خوله د سقوط، سیاسي سقوط، نظامي سقوط او ماتې خبرې خورې دي؟ بهرنیان ولي دا سقوط په زغرده یادوي؟ ولې ډاکتر غني ارګ نه شي مدیریت کولای؟ ولې د ارګ لوی او واړه په ډلبازیو کې دومره ډوب دي چې بلقوه سقوط ورته بې مانا ښکاري؟ ولې د ارګ تر ټولو مخکښ څوکیداران، تېکه دران، ماشومان د خپل شخصیت ساتنه د غني د شخصیت په تخریب او انزوا کې ویني؟

دا هغه پوښتنې دي چې که په وخت ځواب نه شي، د ارګ مېشتو په خبره هېواد به له لوی نه جبرانېدونکي کړکېچ سره مخ شي.

د روان کړکېچ مخینه له تېرو پنځلسو کلونو سره نښتې ګڼل کېږي، خو د سیاسي وېش، کمزوري مدیریت، په حکومت کې ډلبازۍ او له ولس لرېوالی د ملي یووالي په حکومت پورې تړلې ښکارندې دي. د جګړه مارانو شتون، اداري فساد، د مرستو کمښت او نا امني ورته په میراث پاتې دي. تر ټولو بده دا چې

وېشلی حکومت د غني او عبدالله قبول شوی حکومتي چارچوب دی چې دواړه په کې ښه خوښ او خوشاله ښکاري.

که دا ومنو چې پنځوس فیصده حکومت د عبدالله په لاس ناکام دی، پنځوس فیصده یې د غني او ټیم پړه ده، که په ملي یووالي کې د مدیریت ستونزه وڅېړل شي، پیل یې د غني له دفتر څخه کېږي. د ملي یووالي لومړی مېرمن په رسنیو کې داسې څرګندونې کوي چې ته به وایې زوکړه یې په ریشخور کې شوې، زده کړې یې پکتیکا کې کړې او دنده یې په تاشقرغان کې ترسره کړې ده.

د ارګ مېشتو کشرانو ناسته ولاړه د کابل په چلم خانو، ریستورانتونو کې دومره زیاته ده چې فکر به کوې د استانبول په تقسیم څلور لارې کې اوسېږي، له ارګ سره د ولس اړیکه دومره وېشلې او ترینګلې ده، سړی ورته حیران شي چې دا خلک په افغانستان حکومت کوي او که د بیربل پاچا د قوه قاف واکداري ور په غاړه ده.

د افغانستان سیاسي سقوط په دوه زره شپاړسم کال کې د ډاکتر غني د مدیریت او لرلید پایله ګڼلی شو، ځکه که بهرنیان په هر څه کې ملامت کړو، عبدالله پړ وګڼو، سیمه او حالات ناسم وبولو، خو حکومت او فرمان خو بیا هم د غني چلېږي.

تر اوسه مو کوم فرمان د امریکا د سفیر نه دی لیدلي، ډاکتر عبدالله د سیمې ډیپلماسۍ ته اوږه نه ده ورکړې، او نه هم ولس تر اوسه غني پوښتلی چې ولې دومره بې مسولیته کابینه او ارګ چارو سره ګذاره کوي، مظلوم ولس لا هم د معجزو انتظار کوي

چې کېدی شي د ارګ تعلیم یافته، مفکرین او پوهان یې د پانړو
په اړولو را اړولو رامنځته کړي.
بل لور د دې حکومت ګڼ وزیران او لوړ پوړي چارواکي یې ورځ
په سفارتونو کې کورنۍ او ځانته د ویزو د اخیستلو لپاره زیار
باسي، ترڅو پښې سپکې او ځان وژغوري.
زموږ لویه ستونزه د حکومت د بې کفایتۍ، بې پروایۍ، پردیپالنې
او بلواکۍ څخه را پیل شوې چې تمامېدلو ته یې اوس افغان
مظلوم ولس هک حیران دی. د امریکا د سفارت او ګڼو نورو
سفارتونو افغان لوړ پوړو چارواکو په شخصي- ناستو کې داسې
څرګندونې کړي چې د ارګ هر ځوان او پېغله ورته په شخصي-
پاسپورتونو د ویزو د لګولو فرمانونه راوړي، لویه غوښتنه د ارګ د
چارواکو ځان ته او کورنۍ ته د ویزو اخیستل ګڼل کېږي، د
حکومت په تېرو شپاړسو میاشتو کې هېڅ داسې کومه تګلاره
(اقتصادي، سیاسي، ټولنیزه) څوک نه شي په ګوته کولای چې
هغه دې د افغان لانجې د حل لپاره کومه مناسبه حللاره په ګوته
کړي.
نن له بده مرغه، ارګ د جګړو، ښکنځلو، سپکو سپورو او ډلبازیو د
پاللو مرکز جوړ شوی دی، د ولس ډېرو مهمو لومړیتوبونو ته په
کمه کتل کېږي، نن د ارګ ګڼې ډلې یو بل ته د کوهي کیندلو،
سپکولو په لټه کې دي، ولس او نظام تړي پاتې دی، د نظام د
سقوط تر ټولو ستر لامل، د ارګ دوه سري جوړښت دی، نن د
شخصي- ګټو او ډلګټو ښکار شوی ښکاري. د سیاسي سقوط

فلسفه د ارگ مېشتو په بدخوی، بې کفایتی، دلبازیو او له ولس او وطن سره په دښمنی کې نغښتې ده.

په هر صورت، حقه وینا ترخه، حقیقت را سپړل او د ستونزو په گوته کول د حل نیمه برخه تشکیلوي، اوس چې اوبه له ورخه تېرې دي، د ملي یووالي مشران د دې پر ځای چې له پاکستان سره وخت ضایع کړي، نړیوالو ته دې د سوال لمن وغوړوي، له افغان ولسه دې مرسته وغواړي، د واک انتقال ته دې لاره اواره کړي، هغه که مخکې له وخته تاکنې وي، که لویه جرگه وي، که د سولې بنسټیزې او اساسي حللارې په گوته کول وي.

یا ربه توفیق!

## بې لومړیتوبه ولسمشر[٣٤]

د لیډر شیپ (رهبری) د زېږون یوه مهمه بېلګه د پېښو وجود دی،[٣٥] کله چې په هېوادونو کې ستر ناورینونه راځي، د ولس او نوښت په مټ ځینې بیداره وجدانونه د سترو رهبرانو په شکل را څرګندېږي. د سویلي افریقا د اپارتاید پېښه د نېلسن منډېلا د را پیدا کېدو سبب وګرځېده، په هندوستان کې د انګرېز شوم استعمار د ګاندي د زېږون سبب شو.

ولې زمونږ په ګران هېواد کې چې له تېرو څلورو لسیزو کوم ستر ناورین د افغان وژنې تر هدف لاندې روان دی، لا هم د کوم بیداره وجدان د را پیدا کېدو سبب نه شو. د ولسمشرۍ د ټاکنیزې مبارزې په اوږدو کې ډاکتر اشرف غني ته د افغان ولس را ټولېدو او بیا د ولس باور په همدې هیله و چې ګوندې زمونږ ورک ارزښت به ترلاسه شي. دا بې سرپوښه ملت به په پای کې د وخت د توپان او جبر په وړاندې شین اسمان ولري، خو داسې ښکاري چې دا هیلې نورې مخ په تتېدو دي.

اشرف غني احمدزي د خپلې ټاکنیزې مبارزې په ویناوو کې ګڼو داسې ستونزو ته اشاره کوله چې خلکو به ویل، دا سړی خو زمونږ

---

[٣٤] December ١٦th, ٢٠١٤

[٣٥] Great Event Leadership

له زړونو خبر دی، دا سرې د دې وطن په حال او درد خبر دی.
همدا خبرتیا د دې لامل شوه چې ولس د تمې خلاف د اشرف غني تر شا په داسې مېړانه ودرېده چې په دویم پړاو کې یې په لوی توپیر سره بریالی کړ، خو دی لکه چې په دې خبر نه و، ځکه یې افغان ملت ته شا کړه او په یوه سیاسي معامله کې ولوېد، د ملت ټولې غوښتنې او هیلې یې له خاورو سره خاورې کړې.
له ډاکتر عبدالله سره په معامله کې یې بیا ولس ته ډاډ ورکړ چې د ملي یووالي تر نامه لاندې جوړښت به د افغان ولس لومړیتوبونه (سوله، ټیکاو او پرمختګ) ته لاره اواره کړي، په همدې هیله یې له ولس سره ژمنه وکړه چې په لومړنیو سلو ورځو کې به افغان ولس ته د خپل پنځه کلن حکومت د پیل ازموینه ورکوي.
په خپله لومړنۍ وینا کې یې د ابوبکر صدیق رض خطبه تکرار کړه، ولس یې وننګاوه چې که په ناسمه لار لاړ نو ولس به یې لارې ته راولي. په ستره محکمه او څارنوالي یې غږ وکړ چې د فساد دوسیې دې ژر تر ژره وخېړي او د فساد د جرړو د باسلو لپاره دې لاس په کار شي.
په امنیتي سکتور یې غږ وکړ چې د هېواد امنیت تر هرڅه له مخه لومړی دی او باید چې ژر تر ژره ورغول شي. ولس ورته په چکچکو شو، ولس له خندا ویړه خوله نیولي وه، افغانۍ د ډالرو او کلدارو په وړاندې زړوره شوه، افغانان پخپله کرنه (په رایه) په ویاړ شول، ځوانانو تمه پیداکړه چې ګوندې نور نو لوېدیځ (اروپا او اسټرالیا) ته د تېښتې اړتیا نشته، خو څوک خبر وو چې د وینا او عمل

ترمنځ به دومره لوی واټن را پیداکېږي؟ څوک خبر وو چې ولسمشر لومړیتوبونه نلري - وینا یې تشه وینا ده.

ولسمشر- مخ په سعودي د عمري د اداء لپاره لاړ، چین ته یې منډه کړه او په اسلام اباد کې یې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د کرکټ پنځلس اوره ننداره وکړه، بس ولسمشر- بوخت شو، ولسمشر- په هېواد مشر- بدل شو، ولس تري پاتې شو او تش یې د هېواد په څلورو خواوو سترګې را ډکې شوې.

په تېرو دوه اتیا ورځو کې په هېواد او کابل جان کې داسې د ناامنۍ پېښې وشوې چې پخوا یې ساری نه لیدل کېده، د حکومت ټول ماشین په ټپه ودرېده - وزیران یې سرپرستان کړل، والیان یې بې واکه کړل او لوی رئیسان یې له خندا شنه کړل.

په دوه میاشتو کې وزیرانو د خپلو دوسیو، خپلو تدارکاتو او تقرریو داسې ریکارډ اعمال ترسره کړل چې تر ابده یې بس دي، د شپېتو ورځو په پوره کېدو سره یې پرته له مجازاتو او مکافاتو وزیران په کور کېنول او مرستیال وزیران یې سرپرستان کړل، ولس یې پخپلو کړو داسې پښېمانه کړ چې افغانانۍ د خپل لس کلن یون په اوږدو کې ډالرو او کلدارو ته دومره سرټیټه شوې نه وه لکه په تېرو لسو ورځو کې (یوه افغانۍ اته پنځوس او شپېتو پیسو ته پورته شوه.)

ډاکتر اشرف غني له یو لښکر پېغلو او ځوانانو سره مخ په لندن وخوځېد، له لندن مخکې یې په باکو او بروکسل کې له ډاکتر عبدالله سره په نړیوال دریځ کې د هېواد په وېش او موازي حکومت عملي لاس پورې کړ، د ناټو په غونډه کې د هېواد په

استازولی دوه مشران په دوو جلا دریځونو ودرېدل، په لندن کې د مدني ټولنو په استازیتوب په لسګونه پېغلې او ځوانان د پناه غوښتونکي شول او پرته له کومې تګلارې او پروګرم دواړه هېواد مشران کابل ته راستانه شول.

د کابینې په اړه د پوښتنو له ځوابولو عاجز پاتې شول، خپلمنځي اختلاف یې د افغان هویت د محوه کولو په ډرامه کې راونغاړه، شکر چې افغان ولس اوس بیداره شوی، هېواد مشر- یې د توشېح شوي قانون په سر وننګاوه او هغه یې دې ته اړ کړ چې قانون باید د تفسیر لپاره سترې محکمې ته ولېږل شي، خو لا هم دا خبره د هېواد مشر په مېز لادرکه ښکاري.

د دریو میاشتو کړنې داسې ښیي چې ولسمشر- هېڅ کوم لومړیتوب نلري، کوم څه ته چې ډاکتر اشرف غني د ویناوو په اوږدو کې اشاره کوي هغه ورته د ولس غوښتنې ښکاري کومې چې په عملي ډګر کې له پامه غورځول شوې ښکاري، که د ارګ چارې په همدې منوال روانې وي، ښکاري چې هېواد مخ په ستر کړکېچ روان وي:

د لیوني ارمان پوره شو
په لاره ځي په کاڼو ولي زیارتونه
یا ربه توفیق

## په ارګ کې له عامه ذهنیت سره لوبه

عامـه ذهنیـت (Public Opinion)[۳٦] د هېوادونـو د سـیاسي لیـدلوري پـه ټـاکلو کـې ډېـر ځـواکمن کـردار لوبـوي. د ولسـواکو حکومتونـو لیـدلوری د عامـه ذهنیـت پـه مـټ ټاکـل کېـږي. عامـه ذهنیـت دی چـې ناکـاره، پـه فسـاد ککـړ حکومتونـه لـه وختـه د مخـه د واک لـه ګـدۍ را کـوزوي او پـر ځـای یـې مخکـې لـه وختـه ټـاکنو تـه زمینـه برابـروي. عامـه ذهنیـت دی چـې د خپلـو وژنـو او فسـاد پوښـتنه کـوي، ولسي- مبـارزه کـوي، مفسـد چـارواکي محکمـې تـه راکـاږي او د هېـواد پـه پرمختـګ او سـوکالۍ کـې د یـو بیـداره ملـت پـه توګـه دنـده ترسره کوي.

د عامـه ذهنیـت پـه وړانـدې نړیـوالې او کـورنۍ رسـنۍ او همدارنګـه د حکومتونـو ځـانګړې اداري پـه کلکـه مبـارزه کـوي څـو خپلـه کـاري اجنـدا، فسـاد، جګـړه او نـا امنـي پټـه کـړي. ولـس بوخـت وسـاتي او

---

[۳٦] د نړۍ ټول دولتونه له رسنیو څخه د عامه ذهنیت د جوړیدو، د ځان په ګټه د تمامیدو د پاره استعمالوي، له همدې امله د بیان د ازادۍ تر عنوان لاندې د مبارزې چورلیز د نا سمو خبرونو، د ملي ګټو پر ځای د سیاسي لنډ مهالو، شخصي او ګوندي ګټو د پاللو په خلاف د ولس د غږ د اوچتولو اړتیا لیدلی کېږي. په کومو هیواونو کې چې سیاسي او ټولنیز پیغامونه د حکومت تر اغېز لاندې خپرېږي هلته د ولسواکۍ دعوه دروغ ده. په وروسیتو کې غني او عبدالله د عامه ذهنیت د مغشوشولو، بوختولو او د ځآن په ګټه د تمامولو له ټولو لارو چارو کار اخیستی، له همدې امله یې په ګران وطن کې د ژور سیاسي بحران د رامنځته کیدو ته لار هواره کړي ده چې لا هم د ولس له سترګو پټ دی، دا دسیسه چې څومره دوامداره کېږي، هومره به د ګران وطن راتلونکې تیاره کېږي.

پرې نږدي چې په هېواد کې ثبات او سیاسي ټیکاو ته لاره اواره شي.

د ملي یووالي د حکومت په رامنځته کېدا سره له عامه ذهنیت سره د لوبې لپاره خواله رسنیو د پروپاګند ډلې، د رسنیو سانسور، د ګڼو سیاسي بحثونو د مبصرینو تورلېست ته اچول، د سیاسي بحثونو په بیه اخیستل او په لویه کې د حکومت په مالي مرسته د اخبارونو، سوداګریزو اعلانونو او د غونډو د جوړېدو کار ته لستوڼي را بډ وهل شول.

د غني ډله چې د عبدالله د ډلې په څېر (د جمعیت اسلامي سیاسي ډله) سیاسي جوړښت نه لري، کوښښ کوي د مدني ټولنو په خبېره کې، د نویو ټوکېدلو سیاسي ډلو یا ګوندونو په مټ او په پای کې د اخیستل شوو (تصویري او چاپي) رسنیو په واسطه غواړي عامه ذهنیت د ځان په ګټه استعمال کړي.

عامه ذهنیت د حکومتونو د مشروعیت په اړه مهمې پوښتنې را ولاړوي، کله چې حکومتونه د عامه خدمتونو د وړاندې کولو وړتیا له لاسه ورکوي، د ماکس ویبر او لیپسیت له نظره یې مشروعیت تر پوښتنې لاندې راځي، نو څکه داسې کمزوري حکومتونه د عامه ذهنیت د مغشوشولو، د هغوی د بوخت ساتلو او د هغوی له ذهنیت څخه د ځان په ګټه د استفادې هڅه کوي.

د ملي یووالي حکومت خپل دوه کلن ناکام مزل د همداسې چلبازیو او مکاریو سره پوره کړ. له حزب اسلامي سره یې د سولې تړون په لوی لاس د خپل کاري دورې (د ملي یووالي د حکومت د

دوه کلنـي دورې د بشپړتیا) پای تـه وسـاته، خـو یـې د مشروعیت په وړاندې غړونه ډېر او تت شي.

د کنــدز لــه ســقوط، د هلنــد لــه جگــړې، د فــراه لــه گــډوډیو، د ترینکـوټ لـه کـاواکی سره هـم همداسـې سـلوک اختیـار شـو، کلـه چې حکومـت پـه یـادو سـیمو کـې د طالـب پـه وړانـدې ماتـې وخـوړه، د جگـړې پـه لیکـه کـې کمـزوری شـو، نـو د سـیاسي مشـورې، د هېـواد لـه کړکېچنـو حـالاتو څخـه د وتلـو او پـه لویـه کـې د سـولې او جگـړې د بحـث تـر نامـه لانـدې یـې سـیاسي مخـورو تـه پـه ارگ کـې مېلمسـتیا جوړه کړه.

قـاضي امـین وقـاد لـه رسـنیو سره مرکـه کـې وویـل، د ډاکـتر غنـي لـه خـوا را بلـل شـوې ناسـته وه چـې ځـانگړې اجنـدا یـې نـه لرلـه او پـه عمـومي توگـه د روانـو حـالاتو پـه اړه بحـث وشـو، د دغـو غونـډو د دوام غوښـتنه یـې پـه ځـانگړې اجنـدا پـورې مشروطه کـړه او همدارنگـه یـې د پـایلو پـه اړه ټینگـار کـاوه چـې بایـد ورتـه ناسـتې د ځـانگړې مـوخې، یا ستونزې د اواري لپاره را وبلل شي.

پـه دې مېلمسـتیا کـې گنـې مهمـې خـبرې تـر سـترگو کېـږي، لـومړی ځـل دی چـې ډاکـتر غنـي لـه ډاکـتر عبـدالله څخـه یـوازې د غونـډې د مشرـتابه پـه څـوکۍ کېنـي، خـو بیـا هـم ډاکـتر عبـدالله او پخـوانی ولسمشرـ حامـد کـرزی یـو د بـل پـه وړانـدې (مخـامخ) پـه چوکیـو کېني.

بحـث تقریبـا لـه شـپېتو څخـه د زیـاتو کسـانو تـرمنځ کېـږي، خـو د بحث موضـوع داسـې وي چـې هـر کـس وخـت لـري خپـل نظـر د روانـو حـالاتو پــه اړه وړانــدې کــړي، دا چــې افغانســتان، لــه بېــوزلۍ،

بېکاري، بېسوادي، نشه يي توکو د کرکيلې، قاچاق، د بهرنيانو شتون، د بې پيلوټه الوتکو بمبار، له امريکا سره د ستراتيژيک تړون په سر لانجه، د طالبانو د جګړې د تودېدو، د داعش له پراخېدو او ګڼو نورو مسلو سره مخامخ دی.

په دې دومره ګڼو ستونزو کې د بحث لپاره يوه هم نه ټاکل کېږي، بلکې يو عمومي بحث لکه څنګه چې په هر افغان کور کې هره شپه کېږي، داسې يو ازاد بحث ته زمينه برابرېږي.

د بحث په پای کې عکسونه اخستل کېږي، د مشرانو د راتګ ويډيو رسنيو ته ورکول کېږي، اصلا له دې بحث څخه موخه د روانو ستونزو لپاره حللار نه، بلکې د مشورې او د نظر غوښتلو کومه اجنډا نه وه، بلکې د ملي يووالي د حکومت د مشروعيت د جوتولو کوښښ و، چې بريالی شو.

غني او عبدالله د سياسي چال په واسطه نړۍ او (په افغانستان کې مېشتو سفارتونو) ته وښودله چې د ملي يووالي حکومت مشروعيت لري، په وړاندې يې سياسي مخالفتونه نشته، کرزي، سياف، احدي او همدارنګه ټولو هغوی کسانو چې دړکې کولې او ويل يې، د ملي يووالي حکومت د خپل دوه کلن سفر له پای ته رسېدو وروسته قانوني او سياسي مشروعيت نه لري او بايد لويه جرګه (دوديزه) يا مخکې له وخته ټاکنې دې راوغوښتل شي، د هغوی سترګو ته يې شګې ور وشيندلې او بس.

د هلمند جګړه، د کندز سقوط، د فراه د سقوط شونتيا، د ارزګان کلابندي، د طالب د جګړې مورال او د داعش د پراخېدو طرحه په بريالیتوب سره په مخ روانه ده، له تېرو دوه ورځو راهيسې هېڅ

کومه داسې معجزه نه ده شوې چې د ارګ د مشورتي غونډې پایله دې په ګوته شي.
پرته له دې چې د رسنیو له لارې ډنډوره له عامه ذهنیت سره لوبې وکړي چې ګواکي د ملي یووالي د سهامي شرکت د ګډونوالو (د غني د ټیم او عبدالله د ډلې) تر منځ پراخ توافق نظر او همغږي موجوده ده او دوی هر وخت کولای شي په ګڼو موضوعاتو نور سیاسون په ځان رامات کړي چې د دوی د ناکام حکومت له دوام سره به ورته غونډې پیاوړې مرسته وکړي؟

## په افغان حکومت د بې باورۍ منطق[۳۷]

په سر کې باید ووایم، افغانان دې تمه نه لري چې دا هېواد به ورته د امریکا په خیرات، د نړیوال بانک یا د نړیوالې همیانۍ د صندوق په قرضو او د اسلامي هېوادونو په خیراتونو څوک جوړ کړي.

په نړۍ کې له سویلي کوریا پرت[۳۸] ه د هېڅ داسې هېواد بېلګه نشته چې هغه دې د خیرات په پیسو جوړ شوی وي او هغه هم ځکه تر یو حده جوړ دی چې د کوریا د وېش او کوریایانو تر منځ د ژور اختلافاتو د راتلو لپاره ترې کار اخیستل کېږي چې د شلمې پېړۍ په منځ کې ۱۹۴۸ مېلادي کال کې د کپیتالېزم او کمونېزم د ټکر په پایله کې جوړ شوی دی.

که افغانان فکر کوي چې نوی استعمار به ګران افغانستان په پښو ودروي نو بیا دې افغانان د شمال او سویل وېش ته ځانونه تیار کړي او د نړیوال نظام ټولو هغو دسیسو ته دې ځانونه تیار کړي چې د افغانانو په وژنه او د افغانستان په بربادۍ کېدای شي

---

[۳۷] September ۲۹, ۲۰۱۳

[۳۸] سویلي کوریا په ۱۹۹۵۰ کې د امریکا د نظامي مداخلې په پایله کې رامنځته شو چې په درې کلنه جګړه کې د امریکا ۳۳۰۰۰ پوځیان ووژلی شول، د امریکا له یولک (۱۰۰۰۰۰) زیات پوځیان ټپیان شول. بلاخره په ۱۹۵۳ کال، د اکتوبر په اوله نېټه سویلي کوریا له شمالي کوریا څخه د جلا خپلواک هېواد په توګه رامنځته شو.(Mark E. Manyin, ۲۰۱۷)

نړیوال دسیسه ګر قوتونه د اسیا په لویه وچه کې خپلې منګولې
خښې کړې.
خو ولې نشو کولای چې خپل هېواد پخپله جوړ کړو؟ ولې مو د
څه له پاسه یوې لسیزې فرصتونه له لاسه ورکړل؟ او ولې هغه باور
چې حکومتونه یې په هېوادونو کې تر لاسه کوي، افغان حکومت
نکړل تر لاسه؟
د سیاست له ګڼو تعریفونو څخه یو منل شوی تعریف له فرصتونو
معقولې استفادې ته وایي، له بده مرغه زموږ سیاستوال او په
ځانګړې توګه د واک په ګدۍ ناست واکمنې ډلې ونشوای کولای
چې له شتو او تېرو فرصتونو معقوله ګټه واخلي.
هر هغه فرصت چې د هېواد دننه د پرمختګ، سوکالۍ او ثبات
لپاره راغلی، هغه د واکمنې ډلې د غیر ملي مصلحت ښکار شوی،
مالي شتمني او مرستې لوټ، تالان شوې او کارونه (مسولیتونه او
صلاحیتونه) نا اهله کسانو ته وسپارل شول.
د افغان نا امنۍ ستر لاملونه کېدای شي په دوو برخو وویشو،
لومړی کورني او دویم بهرني لاملونه دي. د کورنیو لاملونو لوی
سبب همدا واکمنه دله او د سیاست په ډګر کې تش په نامه
سیاستوال دي چې په لوی لاس یې افغان ملت د ګړنګ پر غاړه
ودراوه.
په تېره یوه لسیزه کې افغان حکومت د نړیوال ملاتړ په پایله کې
ګڼې لاسته راوړنې لرلې او لا هم کېدای شي د واک په سالم لېږد
سره دا بهیر دوام پیداکړي خو دا چې ولې افغانان پرې بې باوره
دي؟ ځواب یې په لاندې توګه دی:

د افغان حکومت لپاره د پرمختګ او ښکلا د منطق مسخه کېدنه ـ
فکر وکړئ چې یوه ډېره ښکلې پېغله چې ښایسته افغاني کالي
یې اغوستي، لوړې زده کړې یې کړې، د خپل صورت د هرې
برخې د ښکلا خیال یې ساتلی، په یوه اداره کې کار کوي، ښه
لوړ معاش اخلي، کورنی یې په زده کړو، ښکلا، پوهې، دندې او
لوړ معاش نازېږي!!

خوا په دا وروستیو کې د دې پېغلې د ګډېدا او همدارنګه له ګڼو
کسانو سره د اخلاقي فساد ویډیوګانې په فیسبوک او یوټیوب خپرې
شوې!! اوس به نو د نجلۍ د ښکلا، لوړو زده کړو، پوهې، ښې دندې
او لوړ معاش خیال په افغاني ټولنه کې څوک وساتي ـ د دې کورنۍ
به ملګري؟؟

څوک به پیدا شي چې له دې پېغلې سره واده وکړي او پاتې ژوند
ورسره تېر کړي!! ایا دا نجلۍ افغان ورور یا کورنۍ به د دې د وژنې
هڅه ونکړي؟؟ د افغان حکومت د تېرې یوې لسیزې لاسته راوړنې او
سمې کړنې د اداري فساد، نا اهله اداري جوړښت، بدې
حکومتولۍ، د ټوپکسالارانو برلاسي او د قانون په سپکولو سره د بې
باورۍ تر سیوري لاندې راغلي دي.

کله چې افغانان او ان نړیوال افغان حکومت ته په خیر، خیر ګوري
نو پرته له اداري فساده، د نشه يي توکو قاچاق، د ځمکو مافیا او د
ټوپکمارو له واکمنتیا پرته نور څه نه تر سترګو کېږي. د ښو کړنو د
خپراوي او عامه پوهاوي اړتیا شته، حکومت دنده لري چې دا ترسره
کړي، خو د بدو کړنو لپاره بیا د خپراوي اړتیا نشته، ځکه هغه د
خپلې بدۍ له امله لکه د اور د لمبو په څېر په ټولنه کې خپرېږي.

د قاچاق ورونکو، ځرغلګرو، مفسدینو د افغان حکومت په وجود کې په داسې ډول ځای نیولی چې شتون لکه د لمر په شان هر چاته روښانه دی، حکومت له تېرې کلې لسیزې راهیسې هیڅوک په اداري فساد، قاچاق، افغان وژنه او د ځمکو په غصب محکوم نکړل. په کومه تولنه کې چې د مجازاتو او مکافاتو سمه اجرا نه تر سترګو کېږي، هلته ځپلنې او د تولنې یا ملت د وګړو تر منځ بې باوري راځي، هلته ملت نشي کولای د حکومت تر شا ودرېږي.

د ثبات او امنیت تر منځ د توپیر ارزښت په همدې کې دی چې امنیت د امنیتي ارګانونو په واسطه راځي، مګر ثبات د ملت او حکومت تر منځ د باور د فضا له مخې راځي. موږ له بده مرغه نه امنیت لرو او نه هم ثبات. زموږ پانګوال ورځ تر بلې په هېواد کې دننه د موجودو ګواښونو له امله خپله پانګه او کورنۍ له هېواده بهر باسي. ځوانان مو د بې باورۍ او بې روزګارۍ له امله په سختو لارو د استرالیا او اروپا په لوري تېښتي.

د یاد شوي متل له مخې هغه څوک چې د داسې حکومت لپاره د شکلا انځور وړاندې کوي، لکه پورته یاده شوې بد اخلاقه پېغله چې د هغې د بنو اخلاقو له امله نمانځغونډه نیسي- او بیا یې د بد اخلاقۍ د پاره دلالي کوي!! د ولس سترګو ته د خاورو شیندلو پر ځای باید له افغان حکومت او افغان ملت سره مرسته وشي، څو له اداري او اخلاقي فساد، ناأهلي او بدې حکومتولۍ سره په کلکه مبارزه وشي او د توپکسالارانو سیوری له افغان حکومت او مظلوم ملت پورته کړای شي. همدا یې د حللاره ده کنه خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو...

## افغانستان د امنيتي رژيم په لومه کې[39]

د حکومت په ځانګړنو کې د واک انحصار په سر کې راځي، چېرته چې حکومت موجود وي هلته صحرايي محکمې، زورواکي، درغلي او د قانون سپکاوی نشي تر سترګو کېدل.

کله چې درغلګر، زورواکي او مافيايي ډلې وغواړي چې خپلو کړنو ته د قانون پوښ ور واغوندي، نو بيا دوی تل په يوه خوله د حکومت د واک وېشلو ته زړه ښه کوي، هغه مشهور متل دی چې د کلي د سپو کور، په کور بدي وي، خو ملنګ ته يې يوه وي. د زورواکو، قانون ماتوونکو او درغلګرو بېلګه همداسې در واخلئ، دوی تل د حکومت کمزوري کولو او ماتولو ته يوه خوله په اتفاق وي.

د ګران افغانستان د کورني سياست تجربې په افريقا کې د اوږد مهال لپاره عملي شوې تجربې دي. هلته هم د واک په سر د زورواکو، غلو، داړه مارو او درغلګرو ګډ بريد د دې سبب شوی چې د افريقا وچه يې له تېرې نيمې پېړۍ را هيسې د بې ثباتي او مافيايي جګړه په ستر مرکز بدله کړې ده چې د هغه ناوړه سناريو په وروستيو امنيتي مطالعاتو د Regime Security په نامه نومول شوې ده.(BEASLEY, ۲۰۰۹)

---

[39] August ۱٦, ۲۰۱٤

د رژیم ساتنې تیوري هغه سناریو ته ویل کېږي چې جګړه ماران، زورواکي او مافیایي ډلې د مرکزي حکومت په وجود کې ځانونه له قانون پورته، معاف او خوندي ګڼي، هغوی په ډېر مهارت سره د ژبې، قوم، نژاد یا مذهب تر نامه لاندې د خلکو ورې کتلې په ځان را غونډوي او په دې توګه د مرکزي حکومت د واک انحصار تر برید لاندې نیسي.
دوی په دې لاره کې د مرکزي حکومت په چوکاټ کې نظامي ارګانونه، پولیس او د قانون د څار ټولې ادارې تر خپل اغېز لاندې راولي، په دې سناریو کې کانونه، لوږ بیه ډېرې، د کوکنارو کرکیله، قاچاق او مافیا له دوی سره د سیمې او نړۍ په کچه د مرستندویو وسایلو یا اغېزمنو فکتورونو په توګه همکاري کوي.
د یاد شوو وسایلو له لارې دوی په نړیوال سیاست یا هم په سیمه ییز سیاست کې ځان ته سیاسي خوندیتوب پیدا کوي، له بده مرغه، د افریقا د لویې وچې دا بدمرغه سناریو دلته په افغانستان کې له تېرې یوې لسیزې راهیسې عملي کېږي.
د ولسمشر- کرزي د مصلحتي سیاست په پایله کې د امنیتي رژیم سناریو د زورواکو، جګړه مارانو او درغلګرو د ساتنې لپاره تر ټولو اغېزمنه لار ګڼل کېده، خو ولسمشر- کرزي تر خپله وسه له دې ډلو، ټپلو سره د مقابلې لارې چارې په کار واچولې چې کومه ځانګړې او د یادولو وړ پایله یې تر لاسه نه کړه.
له دې امله د تېرې یوې لسیزې په پای کې، افغانان د حکومت په منځ کې د ورو، ورو حکومتونو له شتون څخه په تنګ راغلل. د ۱۳۹۳ کال د ټاکنو له پیل سره سم خلکو په بدلون سترګې

هڅې کړې، له امنیتي رژیم څخه تر ټولو زیات اغېزمن کېدونکي خلک د هېواد بېوزلې او بېوزله طبقه خلک وي.

له دې امله دې دواړو ډاکټرو په ټاکنو کې د پراخ کېدون له مخې رامنځته کړه چې دوی د زور، جبر او ظلم په وړاندې په یو حماسه یي انقلاب سره د مقابلې مبالا ترلې، دې حالت، د همه ناقانوني ډلې ونډوالې او په پای کې ټول په یو نفر سر راغونډ شول، دوی ګواښ وکړ چې موازي حکومت به جوړوي او په دې توګه به د مرکزي حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي.

تر ډېره داسې برېښي چې دا هر څه پخوانیو تجربو ته په کتو سازمان شوي خوځښتونه وو چې ملت یې ننګاوه او د خپل قوت اظهار ته یې لار پرانیستله، د دې ټول قوت او زور پر وړاندې د بدلون شعار کاواکه او کمزوری شو، د ملي یووالي تر نامه لاندې د واکمنۍ کړنې ملي مصلحت ته د قانوني چوکاټ پلمه جوړه شوه، دا پلمه په پټو سترګو اشرف غني له عبدالله سره لاسلیک کړه.

پوښتنه دا را ولاړېږي چې که عبدالله موازي حکومت ته زړه ښه کاوه، نو ایا په حکومت کې له شاملېدو وروسته به دوی د حکومتي واک له موازي استعمال څخه لاس په سر شي؟ ایا د عبدالله او د هغه د ډلې کې قانون تېښتي کسان به د امنیتي رژیم سناریو تکرار ته مخه نه کړي؟ پوښتنه دا را ولاړېږي چې د ملت د خوښې په خلاف د جوړ ایتلاف ته زړه ښه کول به د راتلونکي حکومت مشروعیت ټیټ او کمزوری نه کړي؟ پوښتنه دا را ولاړېږي چې د امنیتي ارګانونو په وېش سره د امنیتي رژیم حالت ته د بیاوړتیا پلمې نه برابرېږي؟

که د پورته پوښتنو ځوابونه لا هم روښانه نه وي، خو په بله معنا چې زړه نازړه توب يې په ځواب ويلو کې وجود ولري، دا نو خپله پر دې دلالت کوي چې موږ د ناکام دولت جوړيدو ته نږدې يو، موږ په حکومت کې د موازي حکومتونو جوړښت ته قانوني لار برابره، موږ په تياره کې خپله د لاس ډيوه هم مړه کړې، موږ له تيارې سره يو ځای د توپان پر وړاندې د کمزورې ډيوې د بلېدو کوښښ کوو.

په اخره کې، ايا دا به ښه وي چې د ولس تر څنګ ودرېږو او که د څو درغلګرو، قاچاق وړونکو او غلو ګواښونو ته سر ښکته کړو، تر ټولو ستر قاضي د انسان خپل وجدان بلل کېږي، دا هم ستاسي او دا هم ستاسې وجدان.

## پوتین د غچ په لټه!

Why Nations Go To War کتاب د شلمې پېړۍ ټولې جګړې تر شننې لاندې نیولي دي. پایله یې دا شوې چې د جګړو اصلي لامل اقتصادي ګټې، ایډیالوژي یا مذاهب نه دي، بلکې د رهبرانو د شخصیت ډول د دې لامل کېږي چې هېوادونه په وسله والو جګړو کې ښکېل کړي، له دې امله دا کتاب سپارښتنه کوي چې که په نړۍ کې جګړې ختمېدل غواړئ، نو د رهبرانو په روزنه زیار وباسئ، ښه رهبران د ټولنې په مخ کې ودروئ، تر څو نړۍ د ارام او سولې سا واخلي.

روسانو د شوروي له ماتې وروسته د ګورباچوف په مشرۍ وکولای شول، د ځان په راټولېدا او له ګڼو جغرافیو څخه د شاتګ د نګلارې په خپلولو د بیا ځلې لپاره د نوې روسیې تعریف ته تیاری ونیسي. د روسانو دا خوب هغه وخت په حقیقت بدل شو چې په ۱۹۹۹ مېلادي کال یې د لومړي وزیر په توګه ویلادمیر پوتین د چارو واګې په لاس کې واخیستې او دا دی له تېرو شپاړسو کلونو راهیسې د روسیې د حکومت په مشرۍ کې په یو ډول نه یو ډول پاتې دی. (Stoessinger, ۲۰۰٤)

د ۲۰۰۱ مېلادي کال د سپټمبر ۱۱ مې پېښې امریکا ته پلمه په لاس ورکړه چې افغانستان ته لښکرې راولي، پوتین له درنګ پرته

د جورج بوش د پرېکړې هرکلی وکړ، روسیه پوهېده چې د امریکا نظامي یرغل به د ناټو اتکا په روسیې زیاته کړي.

په دې توګه به روسیه وکولای شي لالهانده لوېدیځ د خپل سیاسي اغېز لاندې راولي. همداسې وشول، د پاکستان دوه مخې سیاست، له ایران سره د لوېدیځ کړکېچ لوېدیځ دې ته اړ کړ چې د روسیې د ګاونډ او اغېز لاندې سیمو له لارې خپل لوجستکي اکمالات وکړي.

روسیې په دې برخه کې د ناټو د نظامي عملیاتو څارنه او په دې برخه کې د هغوی پرمختګونه له نږدې څارل. د روسیې موخه د ازبک، ترکمن او چېچن جنګیالیو ځپل وو. د ناټو د عملیاتو په ترڅ کې دې ډلو ته سخت زیان ورسېد، خو د روسیې دویمه ستره اندېښنه د نشه یي توکو د کرکیلې او قاچاق مخه ډب کول وو، تر دې دمه درې میلیونه روسان په نشه یې توکو روږدي دي چې دا چاره د روسیې ملي امنیت ته لوی ګواښ ګڼل کېږي.

روسیې په ناټو او امریکا په وار، وار فشار راووړ چې د نشه یي توکو له کرکیلي او قاچاق سره باید خپله مبارزه غښتلې کړي، خو لکه څنګه چې فکر کېده لوېدیځ په دې چاره کې پاتې راغی. روسیې د ناټو او امریکا له مصروفیت څخه چې په افغانستان او عراق کې یې لاره بنه ګټه واخیسته، د لوېدیځ د سرګردانۍ لپاره یې په جورجیا د ۲۰۰۸ مېلادي کال د اګست په اوومه برید وکړ.

پوتین د یو کریزماتیک مشر- په توګه د روسیې بېلابېل سیاسي چارواکي، ګوندونه او ولس دې ته اړ کړي دي چې د پوتین د پرېکړو تر شا ودرېږي، د جورجیا له برید څخه یې نړۍ ته پیغام

ورکړي چې د پخواني شوروي تر اغېز لاندې جغرافیه یې بېرته خپل بیا
د خپل سیاسي قلمرو تر اغېز لاندې راوسته.

لوېدیځ ورو، ورو په دې پوهېده چې د پوتین پلانونه د ناټو او امریکا د ښکېلتیا په اړه خطرناک دي، له همدې امله داسې انګېرل کېده چې د اوباما په زانګ سره به د روسیې پر وړاندې د لوېدیځ سیاستونه پیاوړي شي او روسیه به بېرته نه بېودلی شي چې د ناټو او امریکا د ستراتیژیکو موخو پر وړاندې خنډونه جوړ کړي.

داسې ښکاري چې اوباما هم د بوش تېروتنه تکرار کړه، اوباما په عربي هېوادونو کې د عربي پسرلي ملاتړ ته اوږه ورکړه، لیبیا، مصر، تونس کې بدلونونو امریکا وهڅوله چې د بشارالاسد په وړاندې مبارزې ته زړه ښه کړي. د سوریې جګړې د لوېدیځ د پراخو لاسوهنو پایله دا شوه چې روسیې له ایران سره په ګډه د سوریې د دولت ملاتړ ته را ودانګل، لوېدیځ یې تر دې دمه په سوریه کې ښکېل او سرګردانه ساتلی دی. د سوریې د جګړې بد اغېز د ناټو د غړي هېواد (ترکیې) په سیاسي ټیکاو، ناټو په د ننه کې له ستونزو سره مخ کړه.

داسې ښکاري چې روسیه په خپلو سیاستونو کې له هر بل هېواده ډېره غښتلې ښکاري او د دې پیاوړتیا ټول امتیاز د پوتین په ښه مدیریت کې نغښتی دی. روسیه په سوریه او افغانستان کې له ناټو او امریکا څخه د غچ په تکل کې ده. روسیې وکولای شول د افغانستان په ستونزه کې د لوېدیځ د پرمختګ تګلاره (فارورډ پالیسي) د شانګهای د تړون له لارې او همدارنګه له ایران

او ان پاکستان سره د خپلو ډیپلماتیکو اړیکو په ملاتړ حیرانه کړي.

روسیه په افغانستان کې د ستړې امریکا او مخ په خوړ روانې ناټو ځخه لوبه وګټي. په وروستیو کې روسیې له طالبانو سره د اړیکو د ټینګولو هڅې وکړې. په دې برخه کې ډېره بریالۍ ځکه ښکاري چې روسیې د پاکستان، ایران، چین ملاتړ ترلاسه کړ.

د مسکو د لومړنۍ غونډې (۲۷ ډسمبر ۲۰۱٦) سیاسي پېښه د افغان حکومت پر مخ درنه څپېړه وه چې په سیمه کې یې ځنګ ته کړ، په لومړۍ غونډه کې روس او چین اعلان وکړ چې سوله د افغان کړکېچ یوازینی حل دی. سره له دې چې په امریکا کې د ټرمپ په راتګ سره د افغان جګړې د ګټلو، په جګړه کې د امریکایي پوځیانو د زیاتوالي ډنډورې په زیاتېدو داسې انګېرنې را ولاړېږي چې امریکا به افغان جګړه وغزوي، خو په سیمه کې د روسیې په ملاتړ د سولې د غږ پورته کېدل به د امریکا هر ډول نظامي خوځښت له سختې ناکامۍ سره مخ کړي چې دا به د روسیې یا پوتین د غچ د پای په مانا وي.

که افغان سیاسیون، روڼ اندي، مدني فعالان د روس او امریکا له وروستیو سیالیو ځخه بې خبره پاتې شي، په قومي، ژبني، سمتي سیاستونو کې بند پاتې شي، لرې نه ده چې افغانستان به په لوی لاس د سړې جګړې د دویم پړاو جنګونو ډګر وګرځي. سوله د افغان ولس لومړیتوب دی، په داسې حال کې چې د سیمې د

استخباراتو ، امریکا او ناټو لومړیتوب بیا جګړه ده. هر څوک چې د سولې غږ پورته کوي، باید ملاتړ یې وشي، که نه تاریخ به یو ځل بیا په ګران وطن تکرار شي.

یا ربه توفیق!

## سمه لار، ملي ويښتيا[۴۰]

ويښ ملتونـه د حکومتونـو تـاکونکي او هغـوی تـه لـوری ورکـوونکي گڼـل کېـږي، خـو کلـه چـې ملتونـه ويـده شي، بيـا نـو يـوازې دوه اختيـاره لـري. لـومړی اختيـار چـې ويـده ملـت بـه د ظـالم، جابر او زورواکـي پاچـا لاس تـه ورغـورځي. ملـت بـه خپـل اختيـار او خوښـه ظـالم پاچـا او د هغـه کـورنۍ او د ملگـرو رحـم او کـرم تـه پرېـږدي او يا دويـم اختيـار چـې يـو بامسـوليته حکومـت او د هغـه مشرـ (ولسمشرـ) بـه ويـده ملـت لـه خوبـه را بيـداروي، ملـت تـه بـه لـوری ورکـوي او د يـو ولسواک حکومت جوړولو ته به لاره اواروي.

نـوی اسـتعمار د ملتونـو د ايـل کولـو او د هغـوی د غلامولـو لپـاره لـومړی اختيـار خپلـوي، د ملتونـو لـه بېبـاکۍ او بـې مسـوليتۍ پـه اسـتفادې پـه هغـوی د خپلـې خوښـي زورواکـي او ظـالم پاچـا د مشرـ پـه توگـه ټـاکي. د ملـت شـته او ملـي شـتمني د هغـوی پـه مرسـته زبېښـي او همدارنگـه ملـت پرتـه لـه دې چـې لـه خپلـې غلامـۍ خـبر شي، وار د مخه د استعمار په ولکه کې گير او بند پاتې کېږي.

د نـوي اسـتعمار لارې گـودرې ډېـرې پراخـې او پرمختللـې دي، د پراختيـا، پرمختـگ او بيـارغونې پـه پلمـه د هېوادونـو ټـولې ټـولنيزې، سـياسي او اقتصـادي زېرمـې تـر خپـل اغېـز لانـدې راولي او لـه دې

---

[۴۰] March ۳۱, ۲۰۱۴

لارې غـوارې د خپلـې خوښـې کلتـور، فرهنـګ، اقتصـاد او ټـولنیزو جوړښـتونو تـه لاره پیـداکړي چـې دیـو هېـواد بنسـټ او اسـاس پـرې ودانېږي او ورانېږي.

افغانسـتان لـه تېـرې څـه لـه پاسـه یـوې لسـیزې راهیسـې د نـوي اسـتعمار پـه پنجـو کـې لـوبېږي. د ګاونـډیو هېوادونـو د کلتـوري او فرهنګـي یرغـل ترڅنـګ د لوېـدیځ تـر نېغـه پـه نېغـه اسـتعمار لانـدې ژونـد کـوي. د دوولـس کلنـو مرسـتو او بسـپنو تـر څنـګ لا هـم مـونږ د لوېدیځ په رحم او کرم ژوند کوو.

د پرمختـګ، هوسـا ژونـد او دې لپـاره چـې لـه نـړۍ سره ځـان سـیال کـړ، څـه لـه پاسـه یـوه لسـیزه مـو د نـړۍ مرسـتې ترلاسـه کـړې، خـو لا هـم هـره ورځ پـه دې اندېښـنه کـې یـو چـې کـه د نـړۍ مرسـتې او بسپنې کمې او یا ورکې شي، نو بیا به څه خورو او څه به کوو؟

د ویـده ملتونـو تـر ټولـو سـتره ځانګړنـه هغـه پـه ځـان د نـه بـاور لـرل دي، کلـه چـې ملتونـه پـه خپلـو متـو او طاقـت بـې بـاوره شي، نـو نېـغ پـه نېغـه د اسـتعمار لمنـې تـه لـوېږي او د ملـت د وېشـلو او ورکېـدو پراو لارې پرانیـزي. لـه دې املـه ملـي ویښـتیا یـوازې دنـده نـه بلکـې د ملـت د سـاتلو او ژونـدي پـاتې کېـدو یـوازینۍ عملـي لار ده. ملـي مشرـان، ولـس مشرـ، حکـومتي چـارواکي، مـدني ټـولنې او دینـي عالمـان دنـده او مسـولیت لـري چـې د ملـت د ویښـتیا او سـوکالۍ لپـاره لاسـونه یـو کـړي، څـو ملـت نـه یـوازې لـه فکـري او سـیاسي غلامـۍ وژغـوري بلکـې بیـداره یـې کـړي څـو خپـل تـاریخي مسـولیت وپېژني او حکومت ته لورى ورکړي.

د ملي ويښتيا تر ټولو اسانه او سمه لار هغه ملت ته په دولتي واک او اختيار کې برخه ورکول دي چې په دا وروستيو کې په ګران هېواد کې د ټاکنيزو مبارزو په اوږدو کې دا حرکت تر سترګو کېږي چې په زرګونه خلک د افغانستان په تاريخ کې په لومړي ځل د ولسمشرۍ د نوماندانو په مبارزو کې ونډه اخلي او خپل زور او توان د حکومتي چوکۍ دعوه لرونکو ته ور په ګوته کوي.

که ملت ويښ وي کولای شي د استعمار دسيسې شنډې کړي او واک له ځانه سره وساتي او د واک د عملي کولو لپاره د ملت خادمانو ته اقتدار وسپاري، څو ملت تل د حکومت په سر کې پاتې شي، همدا د ملي ويښتيا سمه لار ده.

## سعودي د ترکستان په لار

سعودي عربستان ورځ تر بلې د خپلو ناسمو سیاستونو له امله په سیمه او نړۍ کې د انزوا او کاواکۍ لور ته روان دی، د خپلو بهرنیو سیاستونو د بیارغونې او تعریف په لټه کې دی.

سعودي چې ویې نه شوای کولای د لیبیا، سوریې، عراق او مصر په بدلونونو کې رغنده کردار ولوبوي، د خپلو ناسمو اړیکو له مخې په سیمه کې ورځ تر بلې یوازې کېږي. په وړاندې یې ایران د سوریې، یمن، عراق او ان د مصر له کاواکۍ د ځان په ګټه لازمه استفاده کوي. له دې امله سعودي هڅه پیل کړې چې د ایران د سیمه ییز سیاست د مهارولو (۴۱ Terror and Power Balance) د ترهګرۍ او قدرت د توازن له تیوري څخه په ګټې اخیستنې په افغانستان کې نوي ایتلاف ته لاره اواره کړي.

سعودي د افغان جهاد او سړې جګړې په اوږدو کې د امریکا او پاکستان د ناسمو سیاستونو کلک ملګری هېواد و چې د پیترو ډالرو په مټ یې خپل ګڼ سیمه ییز سیاستونه د افغان مجاهدینو په مټ ترسره کړل، د خلیج په لومړۍ جګړه کې یې د مجاهدینو له ځواک څخه د عراق په ضد استفاده وکړه.

[41] د هغو هېوادونو تر منځ دځواک توازون او ډار ته وایې چې اتومي یا هستوي وسلې لري، دوی یو له بل څخه د احتمالي برید وېره لري، تل یو بل ته په کمین کې وي.

د بـدلونونو پـه لـړ کـې د اذربايجـان او همدارنگـه د بالکـان د سـيمې د ځـان پـه گټـه تمـام کـړل. يـې د مجاهـدينو گـڼ جوړښـتونه د ځـان پـه گټـه تمـام کـړل. همدارنگه يې د اسامه په لټه کې د مجاهدينو لـه ګڼو مشرانو څخه د ځـان پـه گټـه اسـتفاده وکـړه، د طالـب د واکمنـۍ پـه دوره کـې يـې له طالب ځواک څخه د ايران په ضد استفاده وکړه.

د ايـران د پـان شـيعه ييـزم پـه ضـد يـې د پـان وهـابيزم نظريـه پياوړې کړه، خو پـه وروسـتيو کـې د سـيمې او نـړۍ پـه بـدلونونو کـې څنـگ تـه پـاتې شـو، لـه دې پـه ويـره کـې چـې د عربـو پسرلـي سـعودي تـه لار پيـدا نـه کـړي او پـه دې توگـه د سـعود د کـورنۍ پاچـاهي لـه واک څخـه کـوزه نـه کـړي، لـه دې املـه د سـيمې تحـولات او خپـل لومړيتوبونه ترې په سيمه کې د ايران په لمن کې وغورځېدل.

ايـران پـه افغانسـتان کـې د شـمالي ټلوالې نـژدې ملاتـړی هېـواد دی، سره لـه دې چـې شـمالي ټلوالـه سـني مذهبـه مشران او کشران لـري، خـو د طالـب د واکمنـۍ پـه ضـد او سـعودي عربسـتان لـه اغېـز څخـه د تېښتې لپاره ايران دا اور سکروټه په ورغوي کې پټه نيولې ده.

سـعودي چـې د امريکـا پـه راتـگ افغانسـتان تـه د طالـب لـه ملاتـړ او همکـارۍ لاس واخيسـت. طالبـان هـم مجبـوره شـول چـې د سـعودي لومړيتوبونـو تـه شـا کـړي، د خپلـو جگـړه ييـزو او سـياسي هلـو ځلـو لپـاره نـوي محورونـه او ملاتـړي پـه سـيمه کـې پيـداکړي، پـه دې وتوانېـد چـې لـه ايـران سره خپلـه اوږده تربگنـي هېـره کـړي او د نويـو ستراتيژيکو هدفونو لپاره گډ کار وکړي.

ايـران تـه پـه سـيمه کـې تـر ټولـو سـتر گـواښ د داعـش خوځښـت دی، ايـران وکـولای شـول چـې د عـراق، يمـن، سـوريې او مصر- د بـدلونونو

په ملاتړ په داعش کړی راتنګه کړي. داعش پرې نه ږدي چې ایران ته په ستر سر خوږي بدل شي.

له دې املـه ایـران اوس پـه دې اندېښـنه کـې دی چې داعـش کېدای شي افغانسـتان کـې ځـای پیـداکړي، د داعـش وروسـتي حرکتونـه د ایـران لپـاره د سـور څـراغ پـه مانـا دي. لـه دې املـه ایـران پـه دې لټـه کـې دی چې د داعـش د مخنیـوي لپـاره نـه یـوازې لـه طالـب سره ګـډه همکـاري پیـل کـړي بلکـې د هـزاره او تاجـک افغـان مشرتابه په ډول کې بدلون راولي.

د روښـنایي حرکـت تـر شـا د ایـران لاس لـه همـدې املـه مهـم دی چې ایـران نـور پـه محقـق او خلـیلي لـه پـانګونې پـه تنـګ شـوی، ځکـه هغـوی پـه سـیمه کـې د افغـان حکومـت (چـې د امریکـا سـتراتیژیک ملاتـړی دی) ملاتـړ کـوي او ایـران غـواړي چـې ولسي- ځـواک جـوړ کـړی چـې وکـولای شي د داعـش د پرمختـګ او د افغانسـتان - امریکا د ستراتیژیک ملاتړ پر خلاف وي.

د ایـران د همـدې نـوو پرمختګونـو لـه املـه سـعودي دا ښـه وګڼلـه چـې د جمعیـت اسـلامي (د شـمال د ټلـوالې) مخکښـانو - عبـدالله، عطامحمـدنور او ګڼـو نـورو وړو او لویـو اسـتازو تـه بلنـه ورکـړي. پـه سعودي کـې د عبـدالله او عطـا تـود هرکلـی یـوازې د سـعودي د نـوې سیاسي لوبې بېلګه ګڼلی شو.

کنـه سـعودي لـه افغـان حکومـت سره وار د مخـه ګڼـو غونډو کـې د همکـارۍ او ګـډو اهـدافو د پـاللو ژمنـې کـړې دي، ډاکـتر غنـي سعودي تـه پـه تېـرو دوو کلونـو کـې درې سـفرونه کـړي چـې کومـه ځانګړې لاسته راوړنه یې نه لرله.

د سعودي اغېز په افغان سوله کې له هغه وخته را کم شوی چې طالبانو خپل سیاسي دفتر په دوحه - قطر کې پرانیست، قطر له سعودي سره د عربو د مشرتابه په سر نوې سیالۍ ته رادانګلي چې تر ډېره بریده قطر د دې مشرتابه د سم سمي لپاره سنجیده ګامونه پورته کړي، له طالب چارواکو سره یې ښې او دوستانه اړیکې د دې لامل شوې چې طالبان له سعودي څخه زیاته په قطر اتکاء وکړي او په دې توګه په سوله او د طالبانو د لیکو په اوږدو کې د سعودي د اغېز رنګ تت او کمرنګه شي.

سعودي له افغان سولې سره نه بلکې له یوې نوې نیابتي جګړې او بې ثباتۍ سره مرسته کولای شي، له افغان خاورې څخه د ایران په خلاف د استفادې وړتیا ترلاسه کولای شي. که شمالي ټلواله د سعودي لازمه مرسته ترلاسه کړي کېدای شي د نوي ایتلاف له مخې پاکستان - سعودي او شمال ټلواله په افغانستان او سیمه کې د نوو جنګونو، ګډوډیو او بې ثباتیو سبب وګرځي. سعودي دا ځل لار غلطه کړي، سفر یې د ترکستان په لور پیل کړی.

ولسي- جرګه او افغان روڼ اندي باید د ملي یووالي د سهامي شرکت د مشرانو ټولو هغو هلو ځلو ته پام وکړي چې کولای شي د افغانستان ثبات د سیمې د نوو بدلونونو او لوبو ښکار کړي او د دې مخه باید ډب کړای شي.

## سیاسي نقد[۴۲]

زمونږ هر څه له پلان او مقدمې پرته سرته رسېږي. هوښیاران وایي چې د ستر توپ اچولو لپاره انسان باید څو گامه شاته لاړ شي، خو دا پرېکړه بیا زمونږ له ورځنۍ ژوند سره اړخ نه لگوي، ځکه مونږ هر څه د سلیقې او خپلو شخصي گټو په محور ترسره کوو.

تل کارونه ناوخته را ځخه کېږي، د ناوخته کېدو لپاره کافي زیات عذرونه لرو، د موټرو گڼه گوڼه، د بېې غونډې غزېدا، ناوخته او بې وخته مېلمانه او داسې گڼې نورې پلمې چې ستاسې ټولو ښې ډېرې زده دي، خو دا مو تل هېر وي چې عذر بدتر له گناه دی.

بله دا چې مونږ خپله هره بدبختي د تېرو دریو لسیزو په ناخوالو، جگړو او بدمرغیو ورغورځوو. یو وخت مې په یو بهرني دفتر کې کار کاوه. یوه ورځ مې له یو تن بهرني سره بحث ته ادامه ورکړه. بهرني د بحث شرط دا کېښود چې تېرې درې لسیزې به نه یادوم.

کله چې بحث پیل شو، ما د بهرني د خبرو په وړاندې د ویلو هېڅ نه لرل او ورته مات شوم. زمونږ د بدمرغیو، بدبختیو مقدمه له تېرو دریو لسیزو پیلېږي. دا په دې مانا چې مونږ له تېرو دریو لسیزو هېڅ سم کار نه دی کړی، نه مو پیل کړی، نه مو د سم کار د کولو تکل کړی، بس د شکایت ستر اړمونه یو.

---

[۴۲] June ۷, ۲۰۱۴

په هر صورت، په تېره یوه لسیزه کې چې افغانانو خومره قرباني ورکړې، بدمرغۍ یې لیدلې او له ستونزو سره مخ شوي. یوه ستره ګټه یې دا تر لاسه کړې چې د بیان ازادي یې په نصیب شوې، د رسنیو فعالیت، د مدني ټولنو راتګ او په پای کې د سیاسي ګوندونو جوړښت افغانان دې ته متوجه کړل چې دوی کولای شي له سنتي او پخوانیو جوړښتونو را ووځي او په ځواکمنه توګه د نوي پېر له نوي چلند سره په خپله ټولنه کې مثبت او رغنده کردار ولوبوي.

که د تېرې یوې لسیزې نقد په بې پرې توګه وشي، داسې ښکاري چې دا ټولنیز ارزښتونه هم مونږ تر ډېره لاندې کړي دي، ګوندونه مو د ګوندونو شکل نه لري، مدني ټولنې مو د انجوګانو برخه وګرځېدې. رسنۍ د پردي کلتور، فرهنګ او سیاسي لوبو هېنداره وګرځېدې او په پای کې، افغان ځوانانو ونشوای کولای لکه څنګه چې تړې تمه کېده، د خپل ژوند دا مهمه لسیزه مدیریت کړي.

په دې لسیزه کې مونږ د افغان ځوانانو، په تېره بیا د پښتنو ځوانانو ګڼې ناکامۍ هڅې وینو چې یوه بېلګه یې هم د ودان ګوند وېشلی او بې رهبره جوړښت دی. ویل کېږي چې دا سم دم، رسمي سیاسي حزب دی، که دا خبره رښتیا وي، نو کېدای شي د یوویشتمې پېړۍ د افغان ځوان د استعداد، سیاسي فعالیتونو او فکري وړتیاوو په وړاندې یوه لویه سوالیه وي؟؟ د ودان ګوند تېرو دریو میاشتو سیاسي فعالیتونو ته ځغلنده نظر په لاندې توګه وړاندې کوم:

ځوان سیاسي ګوند دی، ښه تکړه ځوانان په کې راغونډ شوي (له بده مرغه ټول پښتانه دي) پنځه کاله وروسته ورته په ګران افغانستان کې د سیاسي فعالیت زمینه په لاس ورغله، د ګوند غړي په دوه لارې کې هک پک ودرېدل - شخصي- ګټې وپالو که ملي ګټو ته اړم شو.

ګوند مجبوره شو د ټاکنو د لومړي پړاو له پیل سره سم یوه غیر سیاسي اعلامیه خپره کړي، اعلامیې ټاکنې د سیاسي بهیر مهمه کړۍ وبللې او خپلو غړو ته یې اجازه ورکړه چې هر چا پسې ځي خپل کار، خپل کردار، د ګوند اغېز او فکري جوړښت دړې وړې شو.

ګوند په سیاسي لوبه کې بې ګټې او بې اغېزه پاتې شو، ګوند په سیاست کې ماتې وخوړه، هغه د چا خبره عقل یې وروستی شو، هغه چاره پرې وشوه، پرون د ودان ګوند له تحول او تداوم څخه ملاتړ وکړ، غړو یې د ګوندي سیاست د عملي کېدو خوښي ونمانځله. خپل زور ورته تر خپله ځانه ستر ښکاره شو (چې دا نو بیا پر خپل ځان د نه باور لویه نښه ګڼل کېږي) اوس چې ټاکنو ته د ګوتو په شمېر ورځې پاتې دي، لازمه ده چې ګوند د پنځو کلونو سیاست په پنځو ورځو کې وکړي!!

د سیاست ګڼ تعریفونه کېږي، خو تر ټولو مهم تعریف یې دا دی چې له فرصتونو معقولي استفادې ته سیاست وايي، په دې مانا چې سیاست له عقلانیت سره نښتی دی، کله چې مونږ سیاست

کوو باید هر څه په تول برابر ترسره کړو، کنه، فرصتونه به را پورې وخاندي.[43]

زمونږ نوی سیاسي بهیر او ګوندي سیاست همداسې دی، له زړو ګرګوڅه ګیله - اسمان په کانو ویشتل دي. د سیاست تر ټولو ارزښتناکه تیوري دا وایي - چې سیاست وکړئ، کنه سیاست در باندې کېږي، خو چې مو د شخصي- ګټو او ملي ګټو توپیر نه وي کړی، نکریزې به مو تل له اختر وروسته په دېواله پرتې وي او سیاست به د لنډغرو انډوخر وي.

د ودان افغانستان په هیله

[43] Political Opportunity Theory د لا زيات پوهاوي دپاره دا تیوري ولولئ -

## ټلواله د قومي سیاست په لومه کې

هېوادونه په ملي هویت خپله واکمني، ځمکنۍ بشپړتیا او په لویه کې نړیوال حیثیت ساتي. چېرته چې ملي ارزښتونه، قومي شي، ملي بهیرونه د سیاسیونو تر شخصي- ګټو پورې خوندي شي، حکومتونه په قوم، ژبه، سمت پورې محدود پاتې شي، هلته د جغرافیو وېش، د ملتونو ماتېدل او د ولسونو تباهۍ ته لار اوارېږي.

د ګران افغانستان دښمنانو له تېرو څلورو لسیزو راهیسې کوښښ کړی چې افغانان په داسې یوه جګړه کې راښکېل کړي چې د جګړې توکي یواځې افغانان وي، جګړه تر افغان خاورې پورې محدوده وي، جګړه په افغانانو تپل شوې وي خو د جګړې موخې هم د دوی وي او ګټې یې هم تر دوی پورې تړلې وي.

افغانان چې له پېړیو، پېړیو راهیسې د ګډ ژوند، ګډې مبارزې، ګډو جګړو او ګډو جشنونو ویاړلی تاریخ لري. تل د دې شومو دسیسو په وړاندې په کلکه درېدلي دي، تل یې د قومي وېش او ژبنیو تربګنیو په وړاندې مقاومت کړی دی، خو کله چې په دولتونو کې مرکزیت له منځه لاړ شي، د قدرت جزیرې په کې رامنځته شي، د قدرت جزیرې په کې د قدرت مرکزیت (حکومت)

ونګوي. هلته بیا ولسي- قرباني کمزورې کېږي، هلته بیا وېش او ملي نفاق حتمي کېږي.

د ګران وطن دښمنان په دې تیورۍ له افغانانو ښه پوهېږي، له همدې کبله یې د پخواني شوروي یرغل له ماتې سره سم د شمالي ټلوالې ترنامه لاندې جوړښت ته لاره اواره کړه. په لوی لاس یې د افغانستان جغرافیوي وېش ته چې په خپله اډانه کې یې قومي استبداد ته لاره اواره کړه، رامنځته کړ.

د شمال ټلوالې تر ټولو لومړی کار، د شوروي له وتلو وروسته د شوروي د غچ اخیستلو، د ولس د ځورولو، وژلو، قومي کولو، ژبني او سمتي وېش ته د لارې اوارولو مسولیت و. د شمالي ټلوالې په اډانه کې د افغان جهاد ټول ارزښتونه سپک شول، هلته جهاد قومي شو، د کابل چور، د کابل ښار د وېش او په کابل کې د افشارو، چنداولو د جګړو او دارالامان د ماڼۍ د تباهۍ پېښو ته جګړه ماران په دندو وګومارل شول.

که د علت او معلول تیوري مطالعه شي (Rational Theory) نو د دې تیورۍ له مخې د هرې بدمرغۍ د له منځه وړلو لپاره د بدمرغیو د علت له منځه وړل لازمي دي، نو د شمالي ټلوالې د ځان غوښتنې، سیمه ییزې استخباراتي جګړې او د قومي تعصباتو پایله وه چې طالب راپیداشو.(Milgrom, ۲۰۰٤)

طالب د ټوپکمارو، چورواکو، زورواکو، پاټکسالارانو په خلاف ولسي- غبرګون و چې د څو اونیو په پایله کې یې د شمال ټلوالې ګڼ جګړه مار تر کولابه ورسول.

د همدې بـدبختیو پایلـه دا شـوه چـې افغانسـتان لـه نـوي یمـې لسیزې راهیسـې ورځ تـر بلـې پـه قـومي، ژبنـي او سـمتي وېش کـې بند پـاتې دی. ورځ تـر بلـې افغـان ځوانـان پـه قـومي بحثونـو کـې را ښکېلېږي، ګـڼ مـلي بهیرونـه، مـلي ارزښـتونه او مـلي پلانونـه د قـومي ټیکه دارانـو تـر بریـد لانـدې راځـي او پـه لـوی لاس قـومي تعصباتو تـه لمن وهل کېږي.

د ټلـوالې د ګنـو سـپین سـترګو مشرـانو پـه ملاتـړ پـه وروسـتیو کـې د افغـان هویـت پـه خـلاف د غـږ پورتـه کـول وو، ان پـه ځینـو بحثونـو کـې یې د افغانسـتان پـه نـوم بحثونـو تـه لار اواره کـړه. پـه مـلي ترمنیـالوژۍ بانـدې یـې ملنـډو وهلـو تـه زړه ښـه کـړ، پـه ځینـو مـواردو کـې یـې بـدلون تـه چنـې ووهـلې، مـلي اردو، مـلي پـولیس او مـلي امنیـت یـې قـومي کـړل. ګـڼ لنـډغر، نالوسـتي کسـان، ماشـیني جنرالان یـې د دې بنسـټونو د سـپکولو لپـاره پـه ډېـرو مهمـو تشـکیلاتو کـې پـه دنـدو وګومارل.

له دې املـه، کـه افغـان ځوانـان پـه ځیرکـۍ سره دې بحثونـو تـه پـام ونه کـړي، لـه قـومي، ژبنـي او سـیمه ییـزو بحثونـو مـلي بحثونـو تـه مخـه نـه کـړي، دا بـه د ټلـوالې ګنـو مـزدورو، جاسوسـو او پردیپـالو کسـانو تـه زمینـه برابـره کـړي چـې دوی لا نـور ځـواکمن او غوښـن شي او د خپلو بادارانو د مرحمت وړ وګرځي.

د کابـل وروسـتۍ پېښـې، د تېـرې یـوې لسیزې نـامعلومې جګـړې پـه لـوی لاس د ټلـوالې ګـڼ کسـان قـومي کـوي، دوی پـوهېږي چـې د دوی شـته، ځـواک او کـاذب جوړښـتونه نـور تـر بریـد لانـدې دي او نـړۍ نـورو د دوی مخکـې والي تـه د پـای ټکـی ږدي. دوی نـور پـه

نړیوالـو، سـیمه ییـزو تعـاملاتو کـې ځـای نـه لـري، دوی یـو ځـل بیـا قومي سیاسـتونو تـه مخـه کـړې، هـر څـه تـه د تاجـک، هـزاره او نـورو تـر عنیکو لاندې ګوري.
پـه تېـره یـوه لسـیزه کـې چـې هلمنـد هـره ورځ پـه اور کـې سـوزېده، کونړونـه چـور کېـدل، پکتیکـا رژېـده، کنـدهار ژړل، یـوه ورځ هـم د ټلـوالې ټوپکیـانو خپلـه اندېښـنه راغبرګـه نـه کـړه. یـوه ورځ یـې هـم نـړۍ پـه دې تورنـه نـه کـړه چـې پـه هملنـد کـې ولـې بېګنـاه افغانـان وژل کـېږي، خـو نـن چـې پـه کابـل کـې بریـد کېـږي، پـه بدخشـان کـې جګـړه کېـږي، پـه بلـخ کـې بریـد کېـږي، دا ټوپکیـان د دې پـر ځـای چـې لـه ملـت سره غمـرازي وکـړي، ملـت تـه ډاډ ورکـړي، د جګـړې خـلاف غـږ پورتـه کـړي، دوی د شـمال د سـاتلو، د خپلـو سـیاسي تشـکیلاتو د پـړسـولو او پـه لویـه کـې د شخصيـ ګټـو پـاللو تـه کـار ویـل دی.
ځوانـان، روڼ انـدي او رسـنۍ بایـد د دې بلواکـو اصـلي څېـرې را برسـېره کـړي، دوی ونـنګـوي او د دوی لـه شـومو پلانونـو پـرده پورتـه کـړي، د مـلي یـووالي، د جګـړې خـلاف او د سـولې، ټیکـاو د حتمـي کېدو لپاره پـه ګډه مبارزه وکړي، همدا مو د خلاصون لار ده.
یا رب توفیق!

## د تلوالې په خېټه درد دی

د جمعیت اسلامي اساس په قومي سیاستونو ولاړ دی. د دې ګوند پخوانی مشر- سره له دې چې دیني عالم و، د تعصب، قومي سیاست او توکمي چلند په بدو پایلو ښه پوهېده، خو د خپلو ټیټ رتبه جګړه ماراو تر فشار لاندې، دې ته اړ شو چې د کمونیستي رژیم په وړاندې د قومي سیاست په خپلو د کابل په سقوط او قومي جګړې په پیل لاس پورې کړي.

د نویمې لسیزې تر ټولو خونړیو جګړو مخکښ جګړه ماران د جمعیت له ډلې ځخه وو. دوی د کابل ښار په ځانګړې توګه له هزاره توکمو سره په جګړه کې اوسني افشار، خوشال خان، دهمزنګ، څلورمه او درېیمه کارته، لوټه، لوټه کړل. د دارلامان ړنګه ماڼۍ د همدوی د خپلمنځیو جګړو له شرمه ډک ژوندی تاریخ دی.

د تلوالې په ګېډه کې هغه وخت درد پیدا شو چې طالبانو یې په وړاندې په کابل ۱۹۹۵ کې جګړه وکړه، سره له دې چې د ایران، روس او ګڼو نورو سیمه ییزو قوتونو لخوا تمویلېدل ویې نشوای کړی چې ځانونه په کابل کې تم کړي.

د کابل له پرېښودو وروسته تر کولابه وځغلول شول. د نویمې لسیزې د ګېډې درد یې د بي دوه پنځوس الوتکو د بمبار په

د امریکا او ناټو راتګ د جمعیت ګوند په ګېډه ګولیو ورک شو. د امریکا او ناټو راتګ د جمعیت ګوند په ګېډه کې نوې هوا وچلوله. دوی یو ځل بیا د خپلو قومي تعصباتو له مخې په زرګونه پښتانه د باګرام، ګوانتانامو او خپلو پټو بندیخانو خوراک کړل. دوی د امریکا دې غوښتنې ته چې د افغانستان نوی مشر- باید پښتون وي، له ځواب ویلو ډډه کوله، خو کله چې پوه شول چې چاره نه لري، په حامد کرزي یې لاس کېښود.

د جیمز ډبیزن کتاب (له طالبانو وروسته دولت جوړونه)[44] د حامد کرزي په انتخاب د ټلوالې او د ایران له هوکړې وروسته د ګومارنې مهر وهي. ټلوالې د همدې کتاب پر بنسټ فکر کاوه چې حامد کرزی یو بې ارادې پښتون دی چې قومي ملاتړ یې کمزوری، په جګړه کې مهارت نه لري، له مزاجه ډارن او غلی دی، نو دوی به وکولای شي په اسانۍ سره خپلې ټولې دسیسې- په افغان خاوره عملي کړي.(Dobbins, ۲۰۰۸)

د حامد کرزي په اړه د ټلوالې وړاندوېینه سمه وخته، دوی د کرزي په دوره کې وکولای شول چې ولسوالۍ په ولایت بدله کړي، بېسواده مارشال کړي، خرکار میلیونر کړي او خپل تر ټولو احمق کسان د ګران افغانستان د سفارتونو بې پوښتنې واکداران

---

[44] After The Taliban: Nation Building د جیمز ډبین کتاب دی چې ما (ځلاند) پښتو ته را ژباړلی دی، دا کتاب خورا مهم دی، ځکه چې کتاب د امریکا د دیپلماتیکو فعالیتونو کرونولوژي وړاندې کوي، په دې مانا چې امریکا د یولسم سپتامبر له پیښې وروسته همزمانه د افغانستان له ګاونډیو او کور دننه له د طالبانو له مخالفینو سره د نظامي او ملکي مرستو دیپلماتیکه هڅه پیل کړه، چې ددې هڅو مخکښ مسول کس جیمز ډبیزن وو. په کتاب کې د بون د پروسې د پیل او ترسره کیدو کره معلومات وړاندې شوي دي چې څنګه د سیمې هېوادونو په ځانګړې توګه ایران د شما لي ټلوالۍ مرستې ته را ودانګل او امریکا له ایران سره څنګه د افغانسان د یرغل نقشه عملي کړه.(Dobbins, ۲۰۰۸)

کړي، خو دا چې هر څه خپل اصل ته را گرځي، نو دوی هم سره له دې چې اوږدې ږیرې یې را لنډې کړو، پکول یې په پیک داره خولۍ بدل کړ، سپین کالي یې په لوکسو دریشیو وپسولل، خو خپل خوی، عادت او ځان یې بدل نشواې کړی، د دوی د لنډغرۍ خوی همداسې لنډغر پاتې شو.

په شپاړسو کلونو کې یې، د افغان ولس زړه او دماغ خپل نه کړ، ان پخپلو منځو کې په ډالرو، مالي، اداري او اخلاقي فساد، چورواکۍ، استخباراتي لوبو کې یو دبل پر وړاندې ودرېدل. دوی د تاجکستان هغه کوځې چې یو وخت د دوی پټنځایونه وو، د خپل هوس ښکار کړې.

دوی د لوېدیځ له هرې مرستې، لاسنیوی د ځان په گټه استفاده وکړه، وطن ترې پاتې شو. گیري شیرون (First In[45]) په خپل کتاب کې د پنجشیر د اوسني والي عارف سروري (سروري د کرزي په دوره کې د ملي امنیت لومړنی رئیس وگومارل شو) په اړه لیکي چې زموږ هلیکوپتر تېلو ته اړتیا لرله، موږ ۲۰۰۰۰ ډالره سروري ته ورکړل چې له تاجکستان څخه موږ ته تېل ورپېري، خو هغه له ډالرو سره ورک شو.(Scheron, ۲۰۰٦)

---

[45] First In: An insider's Account of How The CIA Spearhead the War on Terror in Afghanistan دا کتاب هم پښتو ژباړل شوی دی، چې په پښتو کې نوم سي ای اې په پنجشیر کې ورکړل شوی دی. دا کتاب د نیویارک د سپتامبر یولسم دوزره لومړي کال وروسته د امریکا د نظامي یرغل کیسه کوي چې څنگه یې په پنجشیر او شمال کې د تلوالې له قومندانانو سره پټه معامله وکړه، هغوی ته یې ډالر ورکړل، وسلې یې ورکړې او د نظامي یرغل کیسه یې عملي کړه. ددې کتاب لوستل څوانانو ته حتمي دي.

ګیري شیرون وایي چې په ۲۰۰٦ کې افغانستان ته په چکر راغلم، خبر شوم چې سروري د ملي امنیت رئیس شوی، سخت خپه شوم، وایي موږ یوه ستره پېچلې جګړه د دې لپاره وکړه چې په یو ولس، غل چورواکي حاکم کړو.

د ګیري شیرون کتاب پښتو ته ژباړل شوی (سی ای اې په پنجشیر کې)، دا کتاب د لس میلیونه نغدي ډالرو د وېش راز هم را سپړي چې فهیم، بسم الله خان، عطامحمد نور، عبدالله ته یې نغدي ورکړې دي. په دې کتاب کې د ټلوالې په اړه دا هم لیکل شوي چې دوی له امریکا سره د تړون خلاف چې کابل ښار ته به نه ننوزي، ننوتل، په دې توګه یې په کابل ښار کې چور، فساد ته لاره اواره کړه.(Scheron, ۲۰۰٦)

د ټلوالې په اړه یو بل بحث د Militery Technical Agreement (MTA) د بدمرغه تړون لاسلیک کول دي، دا تړون د یونس قانوني چې د کورنیو چارو وزیر و او عبدالله چې د بهرنیو چارو وزیر و لاسلیک کړ. د دې تړون په اساس دې تش په نوم مجاهدینو امریکا، ناټو او بهرنیو پوځیانو ته رسمي اجازه ورکړه چې دوی کولای شي د افغانانو کورونو ته ننوځي، تلاشي وکړي، افغانان پرته له محاکمې، خارنوالی بندیان کړي، پټې بندیخانې ولري، افغانان ګوانتانامو کې بندیان کړي، په دې توګه یې په رسمي توګه د ځان د غلامۍ تړون لاسلیک کړ، یو ستر هېواد، یو ویاړلی ملت یې په تاریخي شرم کې را ښکېل کړ.

د ټلوالې په ګېډه کې درد لومړی ځل نه دی، تل چې د ملي پروسو بحث راغلی، د دې ډلې په ګېډه کې د نامعلوم باد له شته

والي کړیکه وتې ده. د ټاکنو په لومړي پړاو کې د قانوني په ګېډه کې درد پیدا شو، د ۲۰۰۹ په ټاکنو کې د ډاکتر عبدالله ګیډۍ باد ونیو چې د امریکا تر سفارته خبر ورسېده، د رابرټ ګیټس کتاب (Duty[46]) یې کیسه ښه په زور او زېر لیکلې چې څنګه عبدالله له ایکنبېري وغوښتل څو کرزی اړ کړي چې له عبدالله سره ګډ حکومت جوړ کړي، خو کرزي دا ځل د تېرو سهوو په څېر د ګناه له تکرار څخه لاس په سر شو.

کرزي مقاومت وکړ، پنځه کاله د عبدالله په ګېډه کې باد بند پاتې شو، ټلواله په سخت عذاب اخته شوه، خو دا چې حامد کرزي له ملي مصلحت کار اخیست. تل یې د ټلوالي ناز په سر وړی او په دې توګه یې دوی خوشاله وساتل. (Gates, ۲۰۱٤)

د ولسمشرۍ درېیم ځل ټاکنو کې یو ځل بیا د چور، زور او پردیپالنې کربښې را کارېلي. په دې توګه یې بې ارادې، ځانخوښي، ورځچاری ډاکتر غني اړ کړ چې د ملي یووالي تر نامه لاندې د ملي نفاق حکومت جوړ کړي. د دې حکومت په راتلو د ټلوالي ګڼ ورک کسان له خپل غارونو را ووتل او د هېواد په سیاسي لوبو کې یې چور ته کار ووایه.

دا ځل د ټلوالې د ګېډې د درد ستر لامل د ګلبدین حکمتیار راتګ و. حزب اسلامي چې له کلونو راهیسې له حکومت سره د معاملې تمه لرله، کوښښ یې کاوه چې له اوارو غرونو د ښار ماڼیو ته لار پیدا کړي، د ګران وطن په سیاسي هلو، ځلو کې د خپلو سیالیو جهادي ګوندونو غوندې برخه واخلي، پرته له دې چې د

---

[46] (Gates, ۲۰۱٤)

ملي یووالي حکومت ورته شین څراغ ورکړي، په لغمان کې یې ظهور وکړ.

د حکمتیار ظهور د جمعیت د غروب دلیل وګرځېده. عطامحمد نور وکوړچیده، صلاح الدین رباني شور جوړ کړ، امرالله صالح په ناصالحو کارونو لاس پورې کړ، او په دې توګه د ټلوالې د ګېډې درد په چیغو بدل شو.

د جمعیت اسلامي وروستی دریځ د همدې سولې، د حزب اسلامي د ځواکمن ظهور او په لویه کې د ملي یووالي د حکومت کمزوري جوړښت، د غني د نا اتکله سیاسي هلو ځلو، وچ طبعیت دې ته اړ ویستل چې دوی نور تصمیم ونیسي- چې یا به کولاب ته ځي او یا به هر څه چې د افغان ولس غوښتنه وي هغه به مني.

جمعیت اسلامي په دې پوهېږي چې نور نړۍ له ګران وطن څخه د جنګ ټغر را ټولوي، سوله به کېږي، غله چوروا کي او پردیپال به د ولس په محکمه کې ځواب وایي او په دې توګه به حق، حقدار ته رسېږي. له همدې ازموینې څخه په وېره کې، د ټلوالې ګڼ کسان د ګېډې په شدید درد اخته ګرځي.

که افغان ولس بیداره نه شي، که ځوانان یو بل ته لاس ور نکړي، د ملي یووالي د حکومت بدیل ته لار اواره نه کړي، لري نه ده چې تاریخ دا ځل یوازې په ټلوالې نه بلکې په ټول افغان ولس تکرار شي.

یا ربه توفیق

## ټرمپ، نړۍ او افغانستان

د ټرمپ بریا ټوله نړۍ حیرانه کړه، د یوویشتمې پېړۍ د پیل سیاستونه لکه چې د شلمې پېړۍ د پیل په څېر په ملتپالو باورونو ولاړ دي. د نرېندرا مودي بریالیتوب په هندوستان، د ویلادي میر پوتین محبوبیت په روسیه کې او د ډېوېډ کیمرون ماته په انګلېستان کې ټول د ملتپالو سیاستونو د را ټوکېدو پیل بلل کېږي.

د ټرمپ بریالیتوب ګڼ دلایل لرل چې تر ټولو مهم یې د امریکا د ملتپالنې (نشنلېستي[٤٧]) شعارونو له مخې ګڼل کېږي. د امریکا ګڼې ستونزې لکه کور د ننه د لږکیو ځواکمنېدل د سپین پوستو امریکایانو په پرتله، د کورني اقتصادي ځوړ، له امریکا بهر د امریکا د ناکامو پوځي ماموریتونو زیاتوالی او همدارنګه د اوباما د ناکامو سیاستونو پایله ګڼلی شو.

ټرمپ په اخلاقي لحاظ د امریکا د غالب اخلاقي نظر (د بربنډوالي د ملاتړ، د همجنسبازانو د ملاتړ، له ښځو څخه د لولکو او د هوس لپاره د استفادې د کلتور د عاملو) استازیتوب کوي، د ټرمپ نظریات د ښځو په هکله نړۍ او ګڼ امریکایان حیران کړل

---

[٤٧] نشنلیزم (Nationalism) د ګوګل ژباړن له مخې: خپلو هېوادنیو ګټو ته د افراط تر حده ژمن پاتې کېدلو ته وایي.

کله یې چې په یوه وینا کې د ښځو په اړه خپل نظریات وړاندې کړي وو، داسې برېښېده چې نور نو ټرمپ په امریکایي ټولنه کې ځای نلري.
د امریکا د نیم نفوس (ښځو رایه) ترې واخیستل شوه او په دې توګه به ټرمپ ټاکنې وبایلي، خو اوس د ټرمپ بریالیتوب په دې مانا دی چې د امریکا نیم نفوس (ښځو) هم د ټرمپ د شهوت او بربنډوالي ملاتړ کړی دی.

## په نړیوال سیاست د ټرمپ اغېز!

د ټرمپ پـه راتـگ سره پـه نړیوالـو سیاسـتونو کـې گڼـو بـدلونونو تـه لار اوارېـدی شي، دا ځکـه چـې ټرمـپ د جمهـوري غوښـتونکو د نومانـد په توگـه سـپینه مـاڼۍ تـر خپلـې ولکـې لانـدې راوسـته، خـو د دې تـر څنـگ جمهـوري غوښـتونکو د سـنا او کـانگرېس دواړو خونـو اکثریـت چـوکۍ هـم گټلـې دي چـې پـه دې توگـه بـه د ټرمـپ حکومـت د تگـلارو د بـدلون او د نـوو تگـلارو د جوړېـدو غښـتلی او ځـواکمن ملاتړ له ځان سره ولري.

د کـانگرېس او سـنا کـردار د امریکـا پـه کورنیـو او بهرنیـو سیاسـتونو کـې ډېـر روښـان دی چـې د دې دواړو خونـو ملاتـړ بـه د ټرمـپ د بـدلون راوسـتلو لـه تگـلارې سره غښـتلې مرسـته وکـړي. لـه ولادي مـیر پـوتین سره د ټرمـپ نـژدې اړیکـې کـولای شي، د امریکـا او اروپـا پـه اړیکـو اغېـز ولـري، د سـوریې جگـړې پـه پـای تـه رسـولو کـې مرسـته وکـړي او د داعـش پـه خـلاف د امریکـا او روسـیې د گـډو هلـو ځلـو پـه نژدېوالي کې همکاري وکړي.

ټرمـپ وار د مخـه پـه خپلـو ټـاکنیزو مبـارزو کـې ویـلي وو چـې دی بـه لـه روسـیې سره د داعـش پـه ځپلـو کـې لاس پـه کـار شي. دا نژدېوالی به د اروپـا او امریکـا پـه اړیکـو هـم نېـغ پـه نېغـه اغېـز ولـري. د ټرمـپ د دې نظـر لـه مخـې بایـد د نـاټو غـړي هېوادونـه د نـاټو د

جوړښت، تینګښت او غړیتوب لپاره فیس (مالیه) ورکړي وار د مخه یې اروپا په اندېښنه کې اچولې چې د ټرمپ راتګ به د اروپا او د ناټو د غړو هېوادونو یا تر ډېره بریده د اروپا تر منځ اړیکې خړې پړې کړي.

ټرمپ ایران ته هم ګواښ کړی چې هېڅکله به اجازه ورنه کړي چې د اتومي وسلو خاونده شي. همدارنګه له ایران سره د اوباما د اداري د اړیکو د نژدیوالي خلاف دی، کېدای شي د ټرمپ په راتګ سره په ایران بندیزونه سخت شي، د ایران او امریکا تر منځ اړیکې ترینګلې او د متخاصمي (جګړییزې دیپلماسۍ[48]) دیپلماسۍ ډول خپل کړي.

ټرمپ د خپلې ملتپالې تګلارې له امله له نړېندرا مودي سره ورته سیاستوال پرتله کېږي. له هندوستان سره د ټرمپ اړیکې کېدای شي له هر بل وخت نژدې او دوستانه پاتې شي، دا به د چین او امریکا او همدارنګه د امریکا او پاکستان په اړیکو نېغ په نېغه اغېز ولري. د دې اړیکو له لارې کېدای شي د هندوستان د اقتصادي پرمختګ، په سیمه کې د سیاسي تګلارو د پیاوړتیا او برلاسۍ لوري ته لار اوار کړي.

ټرمپ او پاکستان!

د ټرمپ راتګ له هر بل هېواد پاکستان ته ډېر خطرناک ثابتېدای شي، د افغانانو لپاره دا ښه زېری دی چې ټرمپ غواړي پاکستان

---

[48] په بهرني سیاست کې چې کله سیاسیون د ریالیزم تیوري ته ژمن پاتې شي نو دوی بیا په نړیوال ډګر کې د زور او ځواک له لارې خپلې ملي ګټې خوندي کوي، د ټرمپ بهرنۍ تګلاره د همدې تیوري پر چورلیز را څرخي.

رښتیني سیاست تـه اړ کـړي. وار د مخـه ټرمـپ ویـلي چـې دی بـه پـر پاکستان نظامي مرستې بندې کړي.

لـه پاکسـتان څخـه بـه لـه دې کبلـه اټـومي وسـلې واخـلي چـې د ساتلو وړتیـا یـې نـه لـري. همدارنګـه یـې پاکسـتان د ترهګـرۍ پـه ملاتـړ تـورن کـړی چـې پاکسـتان بایـد لـه خپـل دوه رنګـه منافقانـه سیاسـت څخـه را وګرځـي کنـه د ترهګـرۍ د ملاتـړو هېوادونـو پـه نوملړ کې به یې شامل کړي او بندیزونه به پرې ولګوي.

پـه پاکسـتان کـې یـې د ترهګـرو پـر خـلاف د بریـدونو ګـواښ هـم کـړی چـې کـه لـه پورتـه یـاد شـوو ګواښـونو څخـه یـو هـم د پاکسـتان پـه وړانـدې عمـلي کېـږي دا بـه د پاکسـتان پـه کـورني او سـیمه ییـز سیاست بد اغېز وښندي.

پاکسـتان بـه سر لـه اوسـه د خپلـو تګـلارو پـه اړه د بیـاکتنې کمېټـې کېنـولي وي، خـو د امریکـا غوښـتنو تـه مثبـت ځوابونـه پیـداکړي. پـر پاکسـتان د ټرمـپ فشـار کـولای شي، افغـان لـورې سـولې او سـلا تـه اړ کـړي. د ټرمـپ د وینـا لـه مخـې افغانسـتان کـې دولـت جوړونـه د امریکا دنده او لومړیتوب نه دی.

لـه دې املـه کـه ټرمـپ د افغانسـتان د پرېښـودو پرېکـړه کـوي کېـدای شي د سـولې د بریـالیو هلـو ځلـو هڅـو تـه اوږه ورکـړي چـې دا بـه تـر ډېـره د افغـان سیاسـیونو، پـه ځـانګړې توګـه پـه جګـړه کـې د ښـکېلو خـواو تـرمنځ د مثبتـو اړیکـو او د سـولې د ولسي- هلـو ځلـو پـه پایلـه کې امکان منونکې وي.

ټرمـپ لـه سـوداګرۍ څخـه سیاسـت تـه اوښـتی دی، ځکـه خـو تمـه کېـږي چـې تـر ډېـره بـه یـې سیاسـتونه پـه ګټـې او تـاوان ولاړ وي، د

عقدو پالل، د تاوان د قبمار سیاست او له ګډوډیو څخه د ځان په ګټه د استفادې د هلو ځلو تمه ترې نه کېږي.

د ټرمپ په راتګ سره ویل کېږي چې د جمهوري غوښتونکو په ګوند کې هم د تګلارې لوی بدلون ته اشاره کېږي. جمهوري غوښتونکی ګوند تر ډېره په کورني سیاست کې ناکام او کمزوری پېژندل کېږي، خو اوس داسې ویل کېږي چې کېدای شي د ټرمپ راتګ د دې ګوند تاریخي کلتو وربدل کړي.

له بهرني سیاست څخه کېدای شي جمهوري غوښتونکي سیاستوال په لومړي ځل په کور د ننه د اقتصادي پیاوړتیا، د ټولنیزو بدلونونو، د مالیاتو او د بیمې د سېستمونو د پیاوړتیا خواته خپل کاري تمرکز زیات کړي چې دا تګلاره به د نړۍ له ارامۍ، سوکالۍ او پرمختګ سره هم لویه مرسته وکړي.

ټرمپ او افغانستان!

د ټرمپ د سیاسي تګلارو د بدلونونو لومړنۍ بځرکۍ کېدای شي د ۲۰۱۷ کال له منځ څخه را برسېره شي، خو د یوې هر اړخیزې څېړنې او کاري ډلې په راتګ سره د دې بدلونونو د سم سمي لپاره لاس په کار شي، خو که د ملي یووالي په حکومت کې د غني او عبدالله تر منځ د اختلاف یا کړکېچ کومې لویې بېلګې را وړاندې شي.

د دوی اختلاف دې ته اړتیا پیدا کړې چې امریکا دې په کې منځګړیتوب وکړي، کېدای شي د ټرمپ د ادارې له سخت او غوسه ناک غبرګون سره مخ شي. د حکومت د بدلون، د مخکې له وخته ټاکنو د ترسره کولو، د لویې جرګې د رابللو او د سولې په

پایله کې د لنډمهالي حکومت د جوړولو غوښتنو ته مثبت ځواب
ووایي.

هغه کسان چې غواړي په افغانستان کې د ملي یووالي د حکومت
د ړنګولو بریالی هڅه وکړي باید د واشنګټن په لوري ژر تر ژره
مخه کړي، د لابي پیل یې لا اوس لازمي دی. ټرمپ په خپلو
سیاسي تګلارو کې د بدلونونو په اړه مثبت او جدي ښکاري چې
له دې فرصت څخه ګټه اخیستنه به لازمي پایلې ولري.

## د رهبرۍ په لور[٤٩]

لیډرشپ یا رهبري په تیوریکه توګه په درې ډوله کېږي. لومړی د کومې لویې حادثې (Great Event Leadership) په ترځ کې ملت ځان ته مشرتابه ټاکي.

دویم د ملت د ساتنې لپاره د ملت خواخوږی کس ځان کې ځانګړنې یا ښکارندې روزي (Leadership Transformational) چې له مخې یې د ملت د یووالي او پرمختګ لپاره د مشرتابه تشه پرې ډکېږي او په دریمه تیوري کې ځینې کسان د مشرتابه د دندې لپاره خدای ورکړې ځانګړنې لري (Charismatic Leadership) چې د هغو له روزلو څخه په پای کې د یو اړین ملت د پیاوړتیا او سوکالۍ لپاره کار اخیستل کېږي.[٥٠] (ځلاند، ۲۰۱۴)

اوس پوښتنه دا ده چې ایا افغان ملت (کم او زیات دېرش میلیونه کسان) هېڅ داسې کومه تاریخي پېښه په خپل معاصر تاریخ کې نه لرله چې له مخې یې ځان ته د باور وړ کس د مشر په توګه ګومارلی وای او یا دا چې په افغانانو کې داسې هېڅوک نشته

---

[٤٩] ۰۵ Feb ۲۰۱٤

[٥٠] ۱۹۸۵ Bass باس د رهبرۍ په برخه کې پورته ذکر شوي درې تیوریاني معرفي کړي چې په نړیواله کچه یې شهرت پیدا کړ، تر ډېره د همدې تیوریو له مخې د لیډرشپ بحثونه مطالعه کېږي. د همدې تیوري په محور زما چاپ کتاب لیډرشپ لوستلی شي.

چې له افغان روان ناورین څخه د وتلو لپاره په رښتینې توګه هلې ځلې وکړي او د مشر دنده ولري.

کېدای شي د ډېرو ملګرو ځواب منفي وي. مونږ د سیمې او نړۍ په کچه تر ټولو له سترو ناورینونو څخه تېر شوي یو. په تېرو دریو لسیزو کې ګاونډیانو او د وخت ستر ځبر ځواکونو په بیا بیا پر مونږ یرغل وکړ، سوپر طاقت (پخوانی شوروي) یې مات کړای شو.

ګاونډیان پخپلو طرحو او پلانونو کې په ګونډو شول. بل لور ته، ملت مو لا اوس هم له سختو کړاوونو، وچکالۍ، قحطۍ، ناروغیو، بې وزلۍ، نا امنۍ او بې کورۍ څخه ځورېږي. دا ټول حالات د لیډرشپ (رهبرۍ) د ټوکېدا او روزنې لپاره ډېر ارزښتناک ګڼل کېږي خو تر اوسه پورې مونږ کې د باور وړ کوم کس پیدا نشو چې دا ملت له وریږېښو ستونزو څخه په بریالیتوب وباسي.

یرغلونه، جګړې، طبیعي افتونه (وچکالۍ، قحطي، زلزلې، توپانونه، سېلابونه او ساري ناروغۍ)، د ملي ارزښتونو په وړاندې ګواښ لکه اسلام چې د افغانانو ملي ارزښت دی. ملي یووالی او داسې ډېر نور عوامل دي چې ملت د یو کس تر مشرتوب لاندې را یو ځای کوي او په دې توګه ملت د نوموړې جګړې، یرغل، طبیعي افت او نورو کړکېچونو څخه ځان پرې باسي.

مونږ افغانانو ولې ونشوای کولای چې یو ملي مشر- ولرو؟ ایران د خپل ملي ارزښت د شیعه یېزم پر وړاندې د شاه د منفي افراطي دریځ په خپله دې ته مجبور کړل چې د ایت الله خامنه یې تر چپنې لاندې سره راغونډ شي. هندوستان د انګلېستان د استعمار او د خپل هېواد د ملي ارزښتونو - ملي زېرمو او اقتصاد ساتنې

لپاره د یو ډېر خوار ځواکي او کمزوري کس لوی ګاندي تر سیوري لاندې یو ځای شول او خپل ملت یې د نړۍ د سترو سیالانو په ډله کې ودراوه.

پاکستان د انګرېز خوښې محمدعلي جناح تر نامه لاندې چې د اسلام د مذهب تر شعار لاندې یې لس ګونه میلیونه پنجابیان یو ځای کړل او له نه موجوده هېواد څخه یې یو نوی هېواد په یوه ملي روحیه سمبال جوړ کړ، نو ولې مونږ افغانان ونشو کولای چې د یو مشر په توګه خپل تاریخي ټاټوبی یوګونی او سیال وساتو؟

لاملونه به یې ډېر وي، خو تر ټولو ستر لامل یې په ملت او د ګاونډیانو په لاس وهنو پورې تړلی دی. زمونږ تش په نامه مشرانو په لوی لاس پاکستان او ایران او نورو ګاونډیو هېوادونو ته زمینه برابره کړه چې د ملت دا لویه اړتیا پخپلو استخباراتي لابراتوارونو کې د ځان په ګټه جوړه او تمامه کړي. ملت پرې بې باوره کړي او د همدې بې باورۍ او د مشرتابه د وېشنې له مخې یې نه یوازې زمونږ تر منځ مشران ووېشل بلکې ملت یې هم په قومونو، سمتونو، ژبو او مذهبونو ووېشه.

د مشرتوب لپاره تر ټولو ستره ځانګړنه رښتینولي ګڼل کېږي چې دا بیا خپله د ملت باور په مشر را ټوکوي. داسې ښکاري چې په تېرو څو لسیزو کې مونږ نه داسې کوم مشر پیدا کړ چې باور پرې وکړو او نه داسې مشر پیدا شو چې رښتینی وي. د پیغمبر علیه السلام او د هغه د صحابه کرامو په ژوند او اخلاقو کې د لیډرشپ یا مشرتابه تر ټولو سترې او مهمې ځانګړنې ډېرې جوتې وي.

هغه علیه السلام مخکې له دې چې په پیغمبرۍ مبعوث شي په خلکو کې د امین او رښتیني په توګه پېژندل کېده، همدا ځانګړنه وه چې د هغه په خبرو او کړنو د هر چا باور راته او له هغه څخه یې ملاتړ کاوه او بیا وروسته یې د همدې باور له مخې په هغه ایمان راووړ او د هغه په وړاندې یې د هر ډول قربانۍ او امر منلو ته حاضر وو.

دا یو منل شوی حقیقت دی کوم ملت چې مشر نه لري، هغه ملت وېشل کېږي، له ماتې او ستونزو سره مخ کېږي.

زمونږ د تېرو درېیو لسیزو ماتې یو ستر لامل د مشر نه موجودیت دی. افغانانو چې هر بدلون ته لبیک او خوښي ښکاره کړې ده، لامل یې همدا دی چې کېدای شي دا بدلون د افغانانو همدا ارمان ور پوره کړي او له تېرو جنایتکارانو څخه ورته خلاصون ورکړي.

خو له بده مرغه چې نه نوي مشر خپل مسولیتونه پېژندلي او نه هم ملت دې اړتیا ته د خپلې ارزښتناکې او مهمې اړتیا په سترګه کتلي څو یې خپل مشر د ملي ګټو او واکمنۍ د ساتلو لپاره اړ کړی وي.

نن افغانان هر څه لري، د ولسمشر کرزي په قول شپږ زره میلیونه ډالره ملي نغده پانګه، د امریکا د کانونو پېژندنې د ادارې او څېړنې له مخې د شاوخوا درېیو تریلیونو ډالرو په بیه طبیعي زېرمې، د سیاستوالو په اند تېرې، وړې او مجبور ملت او همدارنګه د نړیوالو ملاتړ، خو یو شی چې نلري او هغه باید افغانان خپله را پیدا کړي هغه د مشر موجودیت دی.

تـر هغـې چـې دا اړتیـا مـونږ افغانـان پخپلـه حـل نـه کـړو، هېڅـوک او هـېڅ شـی نـه شي کـولای زمـونږ شـته سـتونزې اوارې کـړي او مـونږ لـه روان نـاورین څخـه بریـالی وبـاسي. کـه اوسـنی حاکمـه ډلـه غـواړي خپـل تـاریخي مسـولیت اداء کـړي نـو بایـد افغـان ملـت د مشرـتابه تشـه د یـو رښـتینې افغـان پـه واسـطه ډکـه کـړي او د دې کـار لپـاره رښتینولي شرط ګڼل کېږي څو د خلکو باور په ځان پیدا کړي.

مـونږ لا هـم د دې کـار د تـرسره کولـو لپـاره وخـت لـرو ، کـه خـدای مـه کـړه دا ځـل مـو د مشرـ د ټـاکلو او پیـداکولو اړتیـا تـه پـه کمـه سـترګه وکتـل او د دې سـتونزې د اوارې لپـاره مـو جـدي کـار ونکـړ، کېـدای شي پـه یـو دایمـي وېشـلي ملت بانـدې بـدل شـو چـې را ټولـول بـه یـې بیا ډېر سخت کار وي.

## د افغانستان پر سر د امریکا او ایران پټې خبرې[۵۱]

په نړۍ کې هر هېواد د خپلو ملي ګټو د ساتلو لپاره له خپلو سرحدونو څخه د تېرېدو او د نورو د سرحدونو تر ړنګولو مزل وهي.

د همدې تګلارې له مخې امریکا او د ناټو غړي هېوادونه هم له خپلو سرحدونو زرګونه کیلومتره لرې افغانستان ته راغلل چې وکولای شي خپلې ملي ګټې او ملي سالمیت خوندي کړي. هغه جګړه چې القاعدې غوښته د اروپا او امریکا په وچو کې یې ترسره کړي، د امریکا او ناټو د غړو هېوادونو د ستراتیژیستانو د هوښیارانه پلانونو له مخې د افغانستان تر پولو پورې محدوده پاتې شوه.

افغان ملت چې ځانته یې خپلې ملي ګټې نه دي تعریف کړې او نه هم په تېرو دریو لسیزو کې په دې توانېدلی، داسې مشر- یا مشران پیدا کړي چې د هېواد ملي ګټې او سالمیت ورته وساتي د امریکا او د هغه د ملګرو هېوادونو لپاره د جګړې او ستراتیژیکې لوبې تر ټولو ښه ډګر ګڼل کېږي.

له همدې تشې څخه په ګټه اخیستنې ایران، پاکستان، روسیې، چین، هندوستان او د منځنۍ اسیا هېوادونه په لوی لاس د افغانستان د سیاسي جوړښت تر ټولو غښتلي لوبغاړي وګڼل شول

---

[۵۱] January ۸th, ۲۰۱۳

او د بُــن پــه لــومړنۍ غونــډه کــې د همــدې هېوادونــو پــه غوښــتنه یــو کاواکه سیاسي جوړښت برابر شو.

سیاسي جوړښــت (یــا ســهامي شرکــت بربرېــدلو) ګټــې یــوازې او یــوازې امریکــا او د هغــه ملاتــړو هېوادونــو تــه وې چــې د ســیمې لــه ډلــې یــې زیــاتې هغــه بیــا ایــران او پاکســتان تــه ورســېدې. دا چــې پاکســتان څنګــه لــه دې تګــلارې څخــه مــخ واړاوه او ولــې د نــوي افغــان حکومــت پــه خــلاف را پورتــه شــو، بېــل بحث دی چې په راتلونکی کې به وشي. (Dobbins, ۲۰۰۸)

## د ایران کړنې

د ســپټمبر لــه یوولســمې پېښــې وروســته د افغانســتان پــه ســیاسي برخلیــک کــې د ایــران ښــکېلتیا د امریکــا لپــاره لــه لومړیتوبونــو ګڼــل کېــده، ځکــه امریکــا پــه دې بــاور ده چــې ایــران د افغانســتان پــه ســیاسي او امنیتــي ټیکــاو کــې لکــه د پاکســتان پــه څېــر ډېــر ســتر کردار لوبوي.

د ســپټمبر د یوولســمې لــه پېښــې وروســته، امریکــا د افغانســتان او د ســیمې د هېوادونــو مطالعــه او څېړنــه پیــل کــړه، چــې د خپلــې راتلــونکې لــوبې لپــاره ملګــري او دښــمنان پــه ګوتــه کــړي. د همــدې څېړنــې پــه پایلــه کــې امریکــا دې پــایلې تــه ورســېده چــې ایــران د طالبــانو د رژیــم ســخت مخــالف دی، نــو ځکــه د ترهګــرۍ پــر وړانــدې پــه جګــړه کــې ایــران د امریکــا د یــو نــږدې ملاتــړي پــه توګــه استعمالېدای شي.

دواړو د طالبــانو او القاعــده مخالفــت کــاوه او د شــمالي ټلــوالې ملاتــړ یــې کــاوه. لــه طالبــانو سره د ایــران اختلافــات ډېــري ریښــې لــري.

طالبان او القاعده سني مذهب ته ګروهمن وو او ایران دوله شیعه ګان د سنیانو سخت مخالف دي. شیعه ګان د مذهبي تړاو له مخې له ایران څخه مرستې تر لاسه کوي.

کم ترکمه د افغانستان ټولو دري ژبو جنګسالارانو له ایران څخه مرستې تر لاسه کولې. د لومړي بُن له غونډې د مخه په نیویارک کې د امریکا د وخت د بهرنیو چارو وزیر کولن پاول او د ایران د بهرنیو چارو وزیر کمال خرازي سره ولیدل.

د نوموړي د لیدلو لپاره د ایران د بهرنیو چارو وزیر ته یوه لیکل شوې بیانیه ورکړل شوه چې په نوموړې وینا پانه کې دغه وزیر پخپله خوښه ځینې کلمات ور اضافه کړي. په دې اړه جیمز ډوبین پخپل کتاب (له طالبانو وروسته - د افغانستان ملت جوړونه) کې لیکي، خرازي د غونډې په پیل کې خپل قلم ور واخیست او د خپلو خبرو په پانه کې یې دا جمله زیاته کړه چې ایران له امریکا سره د ترهګرۍ ضد جګړې پر وړاندې ملاتړې دی او په تېره بیا په خپله غمرازي اعلانوي.

هغه دا جملې په خپلو خبرو کې هم یادې کړې. دې حقیقتونو ته په کتو د ایران او امریکا کومه دښمني چې په نړیوال سیاسي ډګر کې پرې شوخند وهل کېږي هسې د نړۍ سترګو ته د خاورو د شیندلو په معنا ده (کم تر کمه د افغانستان په موضوع کې) چې افغانان باید پرې تېر نه وزي. (Dobbins, ۲۰۰۸)

امریکا د خپلو ستراتیژیکو ګټو د تر لاسه کولو لپاره له پاکستان او ایران سره هر ډول تړون ته تیاره ده. هغه که د افغانستان د ملي ګټو او ملي سالمیت تر پښو لاندې کولو په معنا هم وي. په اوس

مهال کې د ایران او امریکا ترمنځ د غوندو بېلابېل راپورونه چې په هرات کې ترسره شوي او یا دا چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیره ایران ته په پټ سفر تللې وه او هلته یې له ایراني چارواکو سره د افغانستان په اړه خپله اوږد مهاله ستراتیژي شریکه کړې د پام وړ خبرې دي چې باید افغان دولت ورته متوجه و اوسي.

ایران په افغان سوله او د افغانستان په راتلونکي کې د پاکستان په ډېر اغېز لکه د هندوستان په څېر اندېښمنه دی، ځکه ایران فکر کوي چې پاکستان به د سنی مذهبه طالبانو په ملاتړ د افغانستان په راتلونکي سیاسي جوړښت کې شیعه لږکي له نظره وغورځوي.

بل لوري ته ایران د شمالي ټلوالې د ملاتړي هېواد په توګه غواړي لکه د بُن په لومړنۍ غونډه کې چې د همدې ټلوالې غوښنه برخه يې په افغان حکومت کې ثابته کړه یو ځل بیا د همدې ډلې لپاره لابینګ کوي او د دې تر څنګ ایران په ځان کې دا زورویني چې که د دوی شرایط په افغان راتلونکي کې په نظر کې ونه نیول شي کولای شي د تورن اسماعیل خان، عطام محمد نور، بسم الله محمدي، قسیم فهیم او د ټلوالې د نورو ورته جنګسالارانو په مرسته جګړه او د مقاومت محاذ جوړ کړي. د ایران دا ټول ګوابښونه د امریکا د ستراتیژیکو موخو سره په ټکر کې دي، له دې امله امریکا غواړي له ایران سره په یو جوړ جاړي کې پاتې شي او په دې توګه په افغانستان کې خپلې ملي ګټې لا هم خوندي کړي. (Scheron, ۲۰۰٦)

په تاسف سره چې په کور د ننه افغان حکومت کوم مصلحت خپل کړی، له مخې یې ونشوای کولای په بهرني سیاست کې هم ملي و اوسي او د مصلحت پر ځای ملي ګټو او ملي سالمیت ته لومړیتوب ورکړي، نو ځکه د افغانستان او سیمې په راتلونکي کې نشي- کولای د افغان ملت په ګټه برلاسې او بریالی سیاسي لوبه وکړي، چې ډېره د اندېښنې وړ خبره ده. د افغانستان په برخلیک داسې جوړ جاړی کولای شي د افغانستان ملي هویت له ګواښ سره مخ کړي.

**حللاره**

لکه څنګه چې افغان حکومت په دې وروستیو کې په طالبانو د بهرنیو غونډو بندیز لګولی، داسې باید له امریکا سره په نظامي تړون کې د ورته غونډو او پټو خبرو اترو بندیز هم ولګوي، که دا کار نشي- کولای دومره خو باید وکړي چې افغان حکومت هم باید د ورته غونډو برخه او ګډونوال و اوسېږي.

له دې پرته افغان حکومت باید له مصلحتي سیاست څخه پخپلې بهرنی او سیمه ییزې کړنلارې کې کار وانخلي، بلکې د ملي ګټو او ملي سالمیت پر بنسټ دې داسې بهرنی او سیمه ییز سیاست خپل کړي چې وکولای شي په کور دننه او بهر د افغان ملت ګټې خوندي کړي.

افغان حکومت باید د کابینې په اوسني جوړښت له سره غور وکړي -زورواکان او ټوپکیان باید له ۲۰۱۴ مېلادي کال څخه د مخه کمزوري او له دندو ګوښه کړای شي چې د دوی سیاسي حیثیت کمزوری کړای شي او په ورته حالت کې افغان حکومت

بایـد افغـان سـیاسي ډلـې او لـوړ پـوړي چـارواکي او زور واکـان د سیمې د هېوادونـو لـه اغېـز او پټـو معـاملو څخـه منعـه کـړي او هغـوی تر جنایي او امنیتي څار لاندې ونیسي.

## د افغانستان په بې ثباتۍ کې د امریکا کردار[52]

امریکا د افغانستان په جیو ستراتیژیک موقعیت باندې له تېرو څلورو لسیزو راهیسې زړه بایللی. (Kleveman, ۲۰۰٤)

امریکا چې د افغانانو په مټ او وینو خپل تاریخي دښمن پخوانی شوروي (کمونېزم) ته ماتې ورکړه، نو د سیمې ټولې واګې (ښه او بد) یې د پاکستان په واک کې پرېښودل او خپله د عراق ماتولو او د منځني ختیځ د اېل کولو پر لوري ولاړه.

د پاکستان نظامي حاکم او د وخت دېکتاتور مشر ـ ضیاالحق د امریکا زړه په ځان رامات کړ او له هغوی سره یې د امریکا د ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره له زړه هلې ځلې وکړې. د همدې خواخوږۍ او باور په تمه امریکا په ۱۹۹۲ میلادي کال له عراق سره په جګړه کې کېووت.

د عراق په جګړه کې هم د پاکستان پوځ او همدارنګه د مجاهدینو تر عنوان لاندې ځینو افغان ډلو امریکا سره ښه له زړه مرسته وکړه، کله چې امریکا د اذربایجان او ارمینیا (د قفقاز د سیمو) د بې ثباته کولو تکل وکړ نو یو ځل بیا یې د مجاهدینو له ډلو (په ځانګړي ډول د حکمتیار تر مشرۍ لاندې د اسلامي حزب له ډلې) څخه مرسته واخیسته او افغانان یې د اذربایجان په ګټه

---

[52] January 6th, ۲۰۱۳

د کرباغ په جګړه له ارمينيا سره ښکېل کړل، خو زرمې لسيزې او په ځانګړي توګه د سپټمبر يوولسمې پېښې د نړۍ او په ځانګړې توګه د امريکا د ستراتيژيکو موخو د ټاکلو په برخه کې يو نوی بدلون راووست.

د دې بدلون له مخې امريکا يو ځل بيا سويلي اسيا او منځنۍ اسيا پر لوري مخه کړه، لکه د پخوا په څېر يې تر ټولو اسانه هېواد چې امريکا کولای شوای د ځان په ګټه ولوبوي هغه پاکستان و، د پاکستان په مشوره او خوښه يې د طالبانو د امارت د راپرځولو تکل وکړ.

د ورځو په شمېر يې د طالبانو څواکمن او يوه خوله امارت له پښو وغورځاوه او هر څه يې د ځان په ګټه برابر کړل. په افغانستان کې د امريکا فزيکي وجود د دې سبب وګرځېد چې د پاکستان کردار د افغانستان په کورنيو چارو کې کم رنګه کړي او په دې توګه د افغانستان د کورنيو ستونزو (جګړو او بې ثباتيو په برخه کې) نوي لوبغاړي را وټوکوي.

د افغانستان په بې ثباتۍ کې اوس د دې هېواد په تاريخ کې تر ټولو ډېر کردارونه (هېوادونه) لاس لري، ايران، پاکستان، هندوستان، چين، د منځنۍ اسيا هېوادونه، امريکا، سعودي عرب او همدارنګه په کوردننه ټولې جهادي او غيرجهادي ډلې ټپلې -د افغانستان په بې ثباتۍ کې په خبره او ناخبره توګه رول لوبوي.

امريکا د افغانستان د بې ثباتۍ تر ټولو ستر فرش اوار کړی. امريکا ده چې د پاکستان دوه مخې تګلاره او د طالبانو او نورو جګړه مارو ډلو په ملاتړ يې سترګې پټې کړې. امريکا ده چې د

ایران پر مټ یې پر افغانانو سخت دریځه شیعه ګان او لوټماره شمالي ټلواله مسلطه کړې. امریکا ده چې په افغانستان کې یې یوه نامتوازن سیاسي او نظامي خوځښت ته زمینه برابره کړې. د امریکا په شتون کې د افغان حکومت په منځ کې د ملي ګټو خلاف د چوکیو ویش کېږي.

اداري فساد اوج ته رسېدلی، انسان وژنه او افغان وژنه تر هر بل وخته اسانه شوې ده. امریکا ده چې د میلیونونو ډالرو په پانګونه یې په افغانانو پخوانی جګړه ماري ډلې په سیاسي او اقتصادي برخه کې واکمنې کړې دي، د افغانستان د ټاکلي پرمختګ لپاره د ډېرو بنسټیزو پروژو نه عملي کېدل خپله د افغانستان د بې ثباتۍ لپاره د بستر برابرول دي.

امریکا د افغانستان د ټیکاو او پرمختګ لپاره ونشوای کولای چې مارشال پلان برابر کړي چې له مخې یې وکولای شي د افغانانو د ژوند او د افغانستان د ټیکاو لپاره لومړیتوبونه برابر او عملي کړي.

**حللاره**

امریکا چې د ټاکنو په درشل کې ده، له ټاکنو څخه وروسته د خپلې بهرنۍ تګلارې او همدارنګه د افغانستان د ټیکاو او پرمختګ د تګلارو د بدلون لپاره ښه زمینه په واک کې لري چې باید ګټه ترې واخیستل شي.

د افغانستان بې ثباتي په هېڅ مانا د امریکا او سیمې په ګټه نه ده. افغان حکومت باید سر له ننه د یو پیاوړي دیپلماتیک کمپاین له مخې د امریکا نوی حکومت دې ته راضي کړي چې له افغان

حکومت او افغانانو سره د افغانستان په ټیکاو کې کوټلي پروګرامونه او پروژې عملي کړي.

افغان حکومت باید د افغانانو ډېرې اړینې لومړنۍ اړتیاوې د امریکا نوې ادارې ته په ګوته کړي چې وکولای شي د امریکا مالي او نظامي مرستې د همدې اړتیاوو په برابرولو ولګول شي. امریکا باید افغان حکومت د پراخو اداري، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو اصلاحاتو د راوستلو لپاره اړ کړي. امریکا باید په دې وپوهېږي چې د افغانستان نا ارامي او نا امني کېدای شي منځنۍ اسیا او د سیمې نورو هېوادونو ته په ډېرې چټکۍ سره خپره شي چې کنټرول او ارامول به یې بیا د امریکا له وسه هم بهر وي.

## د افغانستان په شمال کې ویروونکې جګړه[53]

جګړې تـل لـه ځـان سره بـدمرغي او ویجـاړی لـري. کـوم ملتونـه چـې په اټکل شـوي، منظمـه، هـدف لرونکـې او رهـبري شـوې جګـړه کـې د خپلواکۍ او سـوکالۍ لپـاره جګـړه نـه کـوي، هغـوی تـل د دښـمن پـه لومـه کـې بنـد پـاتې کېـږي. د ملـت ماهيـت لـه منځـه ځـي، ځمکنـۍ بشـپړتيا لـه لاسـه ورکـوي او د هېـواد د اسـاسي جوړښـت فارمولـه لـه ماتې سره مخ کېږي.

افغانـان لـه بـده مرغـه د شـوروي پـه خـلاف د همداسـې يـوې جګـړې ښکار شـول. پخـواني شـوروي تـه يـې ماتـه کـړه، خـو لـه بـده مرغـه، خپلـه افغانـان هـم مـات شـول. د افغانسـتان جغرافيـوي جوړښـت پـه شمال او سويل وويشل شو.

که څه هـم د افغانسـتان لـه شـمال څخـه پرتـه کـوم لـوري کـوم بېـل نـوم نـه دی خپـل کـړی، خـو دا هـم د پخـواني شـوروي (اوسـنۍ روسـيې) د دسيسـې برخـه وه او هـم د سـيمې د اسـتخباراتو چـالاکي وه چـې د شـمال تېلـوالې، نظـار شـورا، جنـبش او جمعيـت تـر نامـه لانـدې جوړښـتونه يـې د افغـان هېـواد تـر شـمال پـورې محـدود وساتل، څو تل ترې د ځان په ګټه استفاده وکړي.

[53] June ۲۳, ۲۰۱۵

د افغانستان ماتېدل تر ډېره بریده ناشوني کار ښکاري، خو د نړۍ تاریخ موږ ته عبرتناک درسونه لري. چېرته چې په ملتونو کې تجانس (ورته والی) لیدل کېده، ډېری ملتونه د پردیو په لمسون او زور بېل شوي لکه کوریا چې په شمالي او سویلي وېشل شوې، سوډان په شمالي او سویلي یا المان چې په ختیځ او لوېدیځ وېشل شوی و، خو کوم ملتونه چې د افغانستان په څېر غیرمتجانس دي هغه خو په ډېره اسانۍ په څو ټوټو وېشل کېږي، لکه پخوانۍ بوسنیا چې په بوسنیا، هیرزګوینا او سربیا یې ووېشله، یا پاکستان چې په بنګله دېش او پاکستان یې ووېشه.

له دې امله د شمال جګړه ډېره د اندېښنې وړ خبره ده چې که افغانستان خدای مه کړه همداسې په نامنظمه، نا تعریف شوې او بې هدفه جګړه کې ښکېل پاتې شي، په افغانانو به په زور یا رضا د ګران هېواد د بېلوالي او ماتېدو تجربه وشي. (Stoessinger, ۲۰۰٤)

د شمال حالت له تېرو څو لسیزو را په دې خوا د اندېښنې وړ دی. په شمال کې د پخواني شوروي د ماتېدو راهیسې ژبنی، قومي او مذهبي جګړې تېل شوې دي. په نوې یمو لسیزو کې د حزب اسلامي قوت شمال تجزیه او ماتېدا ته پرې نه ښود، ځکه چې په حزب اسلامي کې ګڼ تاجک، ازبک، ترکمن او هزاره افغانان شامل وو، د جمعیت او جنبش د قوت پر وړاندې د حزب اسلامي د قوتونو بیلانس یا توازن دوی په پښتنو زور زیاتي ته نه پرېښودل.

خو کله چې طالبانو په شمال کې په ځانګړي توګه په مزار او کندز کې ماته وخوړه، د طالبانو د زور زیاتي او جګړو پر وړاندې په شمال کې د پښتنو د ژوند او ځواک په اړه د جنبش (ازبک)، جمعیت (تاجک) او وحدت (هزاره) یو ځانګړی ایتلاف جوړ شو.

په تېرو څوارلسو کلونو کې د شمال پښتانه د خپل تاریخ په سختو شپو ورځو کې ژوند کوي. په لومړي ځل په تخار کې پښتانه له کورونو وشړل شول، د طالب په نامه بندیان شول، ځمکې یې د تاجک او ازبکو زورواکانو له لوري غصب شوې. په جوزجان او سرپل کې د پښتنو ځمکې چې اکثره یې د سړک په غاړه، اوارې او ښې حاصل ورکوونکې ځمکې ګڼل کېږي، د دوستم د ملېشو (ازبکو) له خوا په زور غصب شوې دي.

د پخواني ولسمشر- کرزي له خوا جمعه خان همدرد د همدې ستونزې د اوارې په پار د جوزجان د والي په توګه وګومارل شو، خو د هغه په وړاندې د دوستم سخت غبرګون د وسله والې جګړې په ترسره کولو تمام شو. همدرد په زور له ولایت څخه لرې کړل شو. په مزار کې د عطامحمد نور له خوا د پښتنو په خلاف ورته یو سېستماتیک ظلم، جګړه او زیاتي ته لاره اواره شوې ده.

د مزار ښار په منځ کې زیاته ځمکه د پښتنو سوداګرو ملکیت وه، اوس ترې په زور اخیستل شوې ده، له ښار څخه پښتانه په ځنګ کړل شول، په پښتون مېشتو ولسوالیو کې د عطامحمد نور په مټ ناامنۍ ته لاره اواره شوه، پښتانه چې د مزار شریف شاوخوا پنځوس سلنه جوړوي، کله یې هم ولسي- جرګې ته کوم استازي لا ر پیدا نکړه او نه یې هم کوم مشر- په مزار کې په ښه زړه پاتې

شو. پښتانه مشران په مزار کې په نښه شول، ګڼ يې ووژل شول او نور يې په کابل (پخپل هېواد کې د جلا وطنۍ) ژوند کوي.
په کندز کې د پښتنو پر وړاندې تر ټولو بد او ناوړه چلند کېږي. د قومندان ميرعلم تر نامه لاندې تاجک ملېشه له تېرو څوارلسو کلونو راهيسې پښتانه په سيستماتيکه توګه وژني، د کندوز د ښار له منځه د پښتنو هستوګنځايونه غصب شوي، ځمکې يې په زور تري نيول کېږي، مشران يې ور وژني، ځوانان يې بېکاره کړي او په لوی لاس يې د طالب تر نامه لاندې داسې شومه سناريو پيل کړې چې تاجک او ازبک ملېشه په کې غوښن او چور تالان ته تيار ناست دي.
په دې وروستيو کې چې کومه جګړه د افغانستان په شمال کې روانه ده، دا له طالبانو ډېره د ځايي پښتنو د ځان ساتنې او ژوندي پاتې کېدا جګړه ده. په شمال کې تاجک، ازبک او ان هزاره د هر ډول ثقيله او خفيفه وسلو د ساتلو او ګرځولو اجازه لري، خو پښتون بيا په برچه هم د طالب په نامه په بنديخانو کې اچول کېږي او يا هم په نامعلومه توګه وژل کېږي. که يو بې طرفه لوری د شمال د ټولو ولايتونو په بنديخانې تحقيق وکړي، سل په سلو کې پښتانه په کې بنديان دي.
د دې خطرناکې سناريو تر ټولو بد او ويجاړوونکی تصوير دا دی چې د عطامحمد نور او دوستم تر منځ ګډ ايتلاف جوړ شو چې دا ايتلاف د طالب په خلاف نه دی، دا يوازې په شمال کې د پښتون په خلاف دی، هغه پښتون چې په شمال کې د غم، درد او کړاو

شپې ورځې سبا کوي. د دې ابتلاف دنده او مسوولیت د پښتون وژل، رټل او شړل دي.

طالب له تېرو څوارلسو کلونو راهیسې د ګران هېواد په لوېدیځ او ختیځ کې جګړه روانه کړې، یوه ورځ هم د عطامحمدنور زړه ته دا ونه درېدل چې خپله نظامي دریشي- واغوندي، پکتیا، هلمند یا کنړ ته لاړ شي او هلته د طالب په خلاف جګړې ته زړه ښه کړي او نه هم دوستم له ازبکو څخه را ښکته فکر وکړ، خو نن چې د دوی له ظلم او وحشت څخه په تنګ راغلی پښتون له جګړې پرته په شمال کې کومه بله لار نلري، دوی د اور د ګرمولو، د ځان د پړسولو او خپلو ستراتیژیکو موخو ته د رسېدلو لپاره د هر پښتون دروازه په لغته وهي.

افغان مشران، سیاسیون، نړیواله ټولنه او روڼ اندی باید د شمال د اوسنیو پېښو بې پلوه جاج واخلي. روان کړکېچ وارزوي او حللار ورته وړاندې کړي، که نه د شمال اور به دا ځل ګران هېواد له یو نه جبرانېدونکي حالت سره مخ کړي. په جګړه کې مو د یو ملت په توګه او هم د قوم او سمت په توګه تاوان دی.

یا ربه توفیق!

## جګړه په پښتون - افغان ټپل شوې ده[۵۴]

د سپتمبر له یوولسم څخه چې نړۍ د امریکا په مشرۍ افغانستان ته را کوچېدلې، د پښتون - افغان له وژنې پرته یې د ترهګرۍ په ځانګړې توګه د نړیوالې ترهګرۍ په وړاندې کوم کوټلی پرمختګ نه دی کړی. نړۍ د ۲۰۱۷ مېلادي کال له ۲۰۰۱ مېلادي څخه ډېره نا امنه ده. د ترهګرو ډلو شمېر له هر بل وخت زیات شوی دی. د ترهګرو شمېر په نړۍ کې ډېر شوی، د ترهګرۍ د پېښو بیچلتیا زیاته شوې، همدارنګه د ترهګرۍ د پېښو د جلب او جذب ساحه پراخه شوې ده.

موږ وکتل چې په تېرو څو کلونو کې په امریکا، اروپا او ګڼو نورو سیمو کې د ترهګرۍ پېچلې پېښې شوې دي چې ډېری یې د همدې هېوادونو په د ننه کې، د خپلو اتباعو له لوري د عامو وګړو د وژنو لامل شوې دي. پوښتنه دا ده چې نړۍ - امریکا او ملاتړي یې د دې پېښو د مخنیوي لپاره څه کوي؟ ایا د ترهګرۍ اصلي ځالې، روزنځایونه، د تمویل کړۍ او پټنځایونه په نښه کېږي که نه؟

د دې پوښتنو ځوابول حتمي دي، ځکه دا پوښتنې د پښتون - افغان له ژوند سره تړلې دي. موږ ګورو د امریکا تر ټولو اوږده

[۵۴] د ۲۰۱۷ مېلادي کال د فبروري ۲۱مه

ځګړه په داسې سیمو کې کېږي چېرته چې هیڅ انسان د امریکا - لوېدیځ ګټې، اوسېدونکي او خاوره تر ګواښ لاندې نه ده راوستې.

پښتون افغان په ټېر ټول انساني تاریخ کې په چا یرغل نه دی کړی، د هغه د کور د ورانولو او وژلو تکل یې نه دی کړی، خو نن په لوی لاس په پښتون افغان نړیواله ځګړه تپل شوې ده.

له هوا او ځمکې پښتون افغان په بېرحمانه توګه په نښه کېږي، وژل کېږي. کډوالۍ ته اړ ویستل کېږي او په لوی لاس دې ته اړ کېږي چې د ځان د دفاع لپاره وسلې ته لاس کړي.

د دې ټولو ناخوالو تر څنګ، حکومتونو، په ځانګړې توګه د کابل حکومت چې په وروستیو کې د ناقانونه جوړښت له مخې د ملي یووالي د حکومت په نامه په کابل وتپل شو، له پښتون - افغان سره له تعصب ډک چلند کوي.

د دې ناکردو ښه بېلګه د ۱۳۹۶ لمریز کال په بودیجه کې را برسېره کېږي. د افغانستان اساسي قانون حکم کوي چې متوازن انکشاف د حکومت دنده ده، متوازن انکشاف د تناسب له مخې جوړېږي. په دې مانا چې د چا شومره نفوس وي، د کوم ولایت، ولسوالۍ چې شومره نفوس وي، په همغه کچه به حکومت ورته انکشافي بودیجه تخصیصوي، په همغه اندازه به ورته د پرمختګ چارې برابروي، خو موږ ګورو چې د راتلونکي کال بودیجې زابل ته هیڅ ښوونځی په نظر کې نه دی نیولی، ولې تخار ته یې شپاړس ښوونځي ورکړي، سویلي ولایتونو (کندهار، هلمند، اروزګان او

زابل) ته یې په بودیجه کې شاوخوا پنځه ښوونځي په نظر کې نیولي دي.

هیخ لویه بودیجه د دې سیمې د خلکو د اساسي ستونزو د حل او د ژوند د ستونزو د کمولو لپاره په نظر کې نه ده نیول شوې. همدارنګه پکتیکا ته هیڅ ښوونځی په بودجه کې نه دی نیول شوی، پکتیا، خوست، لوګر ته شاوخوا پنځه ښوونځي په پام کې نیول شوي.

د دې ولایتونو د روغتیایي ستونزو د حل لپاره هیڅ کومه نوې پروژه په لېست کې نه ښکاري. د ننګرهار، لغمان او کونړ له ولایتونو سره ورته چلند ته لار اواره شوې ده، خو د بدخشان، تخار، بامیان، دایکنډي سیمو ته یې له ښوونځیو نیولې تر روغتونونو، سرکونو او ګڼو نورو پروژو پورې پوره په پام کې نیولې دي.

**دا په څه مانا؟**

د پښتنو سیمو ته د نه پام دلیل دوی د دې سیمو نا امنی په ګوته کوي، خو موږ پوهېږو چې نا امني او پرمختګ یو له بل سره تړلې چارې دي، چېرته چې اقتصادي ټیکاو نه وي، چېرته چې د پرمختګ چارې نه وي، هلته به نا امني وي، هلته به خلک د حکومت او چوپراکو په خلاف غبرګون ته لار اواروي، هلته به د حکومت مشروعیت تت او کمرنګه وي.

په سویل، سویل ختیځ او ختیځ کې په لوی لاس همدا زمینه برابره شوې ده. په دې سیمو کې د ښوونځیو نه شتون، یا د خیالي ښوونځیو شتون، له ښوونځیو څخه د پولیسو او اردو د

پوستو کار اخیستنه په همدې مانا دي چې دا خلک جګړې ته وهڅول شي، بمبار شي، کورونه یې تلاشي شي، ځوانان یې پلچرخي او باګرام ته ولېږدول شي او کورنۍ یې کډوالۍ ته اړ شي.

د ملي یووالي د حکومت ګڼې چارې تر پوښتنې لاندې دي، خو د راتلونکي کال د بودیجې د نامتوازن وېش، پایله به دا شي چې راتلونکی کال به جګړه لا زیاته شي، جګړه به لا پښتون ـ افغان وژنې ته لار اواره کړي، پښتون افغان به لا زیات د راتلونکو نسلونو لپاره د قلم پر ځای ټوپک ته اسانه لاس رسی ولري چې دا چاره به سیمه او نړۍ لا زیاته ناامنه کړي.

موږ په ټولو رسنیو، مدني ټولنو، ځوانانو، مشرانو، قومي سپین ږیرو غړو کوو چې د متوازن انکشاف د حق غوښتنې ناره راسره بدرګه کړي، پرې نږدي چې د ملي یووالي د حکومت ترنامه لاندې د افغانستان د قومونو، پرګنو ترمنځ قومي وېش او جګړې ته لاره برابره کړي، د پښتون ـــ افغان انسان لومړني، اساسي حقوق تر پښو لاندې کړي، جګړې ته لمن ووهي او افغان وژنه پراخه کړي.

## د افغانستان راتلونکی
## او افغان (ملت) جوړونې ته اړتیا[۵۵]

د افغانستان لـه ناورینـه ډک تـاریخ داسي یـوه پـړاو تـه رسـېدلی دی چـې د ملـت جـوړونې ځیرکـی او عمـلي بهـیر تـه پـه کـې لـه هربـل وخته ډېره اړتیـا ده. کـه دا کـار پـه سمه توگـه ونشي-، وېـره شـته چـې د افغانـانو د مـلي بشـپړتیا لـه پـاره ډېـرې سـتونزې را ولاړې شي. پـه دې وروسـتیو کـې د امریکـایي دیپلومـات رابـرټ بلـک ویـل (Robert Blackwell) چـې پـه هنـد کـې د متحـده ایـالاتو سـفیر پـاتې شـوی د افغانسـتان د خـاورې د وېـش پـه هکلـه نظـر بـابېزه گڼـل بـه بـې ځایـه وي.

د افغانسـتان د لانجـې پـه حـل کـې د نـاټو د غـړو هېوادونـو زړه نـا زړه کېدنـه، د افغانـانو خپلمنځـي توپیرونـه او سـتونزې، پـه جگـړه کـې د ښـکېلو ډلـو تـر مـنځ قـومي نـا انـډولتیا او بهرنـی لاس وهنـې ټـولې داسـې مسـلې دي کـومې چـې کېـدای شي د افغانـانو د غوښـتنو پـه خـلاف د افغانـانو د مـلي هویـت او بشـپړتیا لـه پـاره سـتونزې را ولاړې کړي.

---

[۵۵] ۲۱،۱۱،۲۰۱۰-۱۱:۰۸

له دې امله دا ډېره مهمه ده چې د ملي مسایلو په هکله افغانان خپله پرېکړه وکړي، هغه که د کرزي حکومت دي او که د حکومت مخالفې ډلې طالبان یا هم اسلامي حزب دي. افغانستان لا هم د خاورې د بشپړتیا په وړاندې د ډیورند کرښه چې د ملت او حکومت جوړونې له پاره اړینه گڼل کېږي یوه لویه ستونزه په مخ کې لري، کومه چې د افغانستان د ځکمنۍ پولې د ټاکنې او سیاسي هویت له پاره حیاتي ارزښت لري.

له پاکستان سره د ډیورند د کرښې ستونزه او همدارنگه له ایران سره د اوبو ستونزه لکه د سلما، بخش اباد، کمال خان د بندونو حیاتي پروژې داسې ستونزې دي چې د افغانستان د روانې شخړې د اسبابو له لېسته نه شي ویستل کېدای. افغان مشران که له سیاسي بصیرت کار وا نخلي او د ملي هویت د ثابتولو او څرگندولو له پاره خپلې متې راونه نغاړي کېدای شي د روسانو د وتلو ترخه تجربه چې د افغانانو خپلمنځي وژنه وه، یو ځل بیا تکرار شي.

د اسلامي حزب د مشر ـ څرگندونې د افغانستان د نژدې راتلونکي په هکله باید جدي وگڼل شي ځکه دا ډله په تېره کورنۍ جگړه کې ښکېله وه، اوس که له دوی سره داسې وېره بیا راپیدا شوې وي، دا په دې مانا ده چې د جگړې په دواړو خواوو کې داسې فکتورنه موجود دي کوم چې د افغانانو د خپلمنځې وژنې او ملي بشپړتیا د گواښ وړاندوېینه تېرې کېدای شي او تېرې ترخې تجربې یو ځل بیا په افغانانو تکرار کېدای شي.

د ملت جوړونې په برخه کې له نړيوالې ټولنې څخه ډېره تمه کېدای شي ځکه چې نړيوال له دې وروسته د افغانستان په لانجو کې بې طرفه نه شي پاتې کېدای، دوی به د خپلو ګټو د خوندي ساتلو له پاره له هرې وسيلې کار واخلي هغه که د افغانستان وېش او که د افغانانو خپلمنځي وژنې وي، نو ځکه په روانه غميزه کې بايد له ښکېلو ډلو څخه داسې طرحې چې نه يوازې د افغانستان د سياسي ثبات له پاره لاره اواره کړي وړاندې شي. بلکې د نړيوالو ستونزو په ځانګړې توګه د سيمې له هېوادونو سره د افغانستان ستونزه او بيا سيمه ييزو ستونزو ته هم د اواري لارې چارې په ګوته کړي. د دې له پاره چې خبره اوږده نه شي مونږ به يوازې د نوموړيو مسلو په افغاني اړخ خبرې وکړو.

**ولې ملت جوړونه ارزښتناکه ده؛ ملت څه ته وايي؟**

د ملت جوړونې اصطلاح په ۱۹۵۰ او ۱۹٦۰ لسيزو کې د سياسي علومو د پوهانو ترمنځ چې تاريخي ليدلوري يې لرل دود وه او مهم مينه وال يې د امريکا د پوهنتون چارواکي لکه کارل دويچ، چارلزتيلي او رينهاردبنديکس وو . د ملت جوړونې نظريه په لومړيو کې د ملي پيوستون او برابرښتونو په سر را څرخېده چې د پرمختللي حکومت د پايښت چې د حکومت له نورو دوديزو ډولونو لکه فيوډالي، شاهي، کليسايي او امپراتوريو څخه يې توپير درلود کارېدل.

**ملت څه ته ويل کېږي؟** چېرته چې اوسېدونکي د يوې ځانګړې جغرافيې دننه د يو واحد دولت تر اداري لاندې په يوه داسې

سیاسي ټولنه کې ژوند کوي چې په ګټو او زیان کې ګډ وي او شریک ارزښتونه ولري او ویې پالي د یو ملت په نوم یادېږي.

ملت جوړونه (Nation Building) د معماري یوه استعاره ده چې د دې پروسې لاندې ولسونه، دولتونه او خلک سره یو ځای کېږي چې په پایله کې یو ملت تري جوړېږي، کوم چې د نوموړي ملت د سیاسي، ټولنیز او اقتصادي ثبات له پاره پراخه زمینه برابروي.

د ملت جوړونې د پروسې د پیل له پاره افغانستان مېشت ټول ټبرونه باید په دې پروسه کې فعاله ونډه واخلي، هغه که په سیاسي ډګر، ټولنیزو هلو ځلو او که په ا قتصادي ډګر کې وي او باید دا هلي ځلې یو له بل سره همغږې شي. همدارنګه د رواني غمیزې د اواري له پاره ټولې لارې چارې باید په جګړه کې د ښکېلو خواوو له لوري همغږې شي، له اسلامي هېوادونو څخه باید په جدي توګه د افغانانو د مشرانو له لوري غوښتنه وشي چې له افغانانو سره د رواني ستونزې په حل کې جدي مرستې وکړي.

نړیواله ټولنه باید د افغانانو د سیاسي هویت د پیاوړتیا له پاره په ګاونډیو هېوادونو فشار وارد کړي څو د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنه بنده کړي. په سیمه کې د سیمې د برلاسي له پاره هند او پاکستان، د هند او چین اقتصادي سیالي د ناټو او روسیې ګټې ټولې داسې مهمې ستونزې دي چې د افغانانو په وژنې او د ټوپک په زور ازمایل کېږي له دې امله باید د سیمه ییزو ستونزو نړیوال او کورني شنونکي دا مسایل روښانه او بحث ته وړاندې

کړي، څو د افغانستان په ثبات کې د سیمې د هېوادونو ګټې هم وساتل شي چې دا کار به په خپله د افغانانو د سیاسي او اقتصادي پیاوړتیا له پاره زمینه برابره کړي چې د افغانانو د ښې راتلونکې په معنی تمثیل کېدای شي.

د ملت جوړونې بهیر د سولې د پروسې (Peace Building Process) د رامنځته کېدو له پاره لازمي او لومړنی قدم ګڼل کېږي، کوم هېوادونه چې له جګړې وروسته د ملت جوړونې بهیر په بریالیتوب سره ترسره کوي د ثبات او پرمختګ په لوري قدم اخلي. د ملت جوړونې له پاره بنسټیز عناصر د یوې واحدې جغرافیې تر څنګ یو واحد دولت، یوه ملي عقیده او ګډې اقتصادي ګټې برابرول دي.

له بده مرغه په روان سیاسي بحران کې افغانان له دې درې واړو په پراخه کچه بې برخې دي، د افغانستان نیمګړې جغرافیه، کمزوری دولت او نا انډوله اقتصادي پرمختګ د افغانانو د ملت جوړونې له پاره اساسي ستونزې ګڼل کېږي. که څه هم افغانان د اسلام تر سپېڅلي دین لاندې د یو ملت په توګه را غونډېدای شي خو په روانو کړکېچنو سیاسي او جګړه ییزو حالاتو کې دې برخې ته هم لږ پاملرنه شوې ده.

په جګړه کې د ښکېلو خواوو له لوري د ملکي افغانانو وژنې د اسلامي ایډیالوژۍ پر وړاندې په افغانانو کې ګټې پوښتنې را ولاړې کړې دي، چې باید ځواب شي.

د ملت جوړونې د بهیر په اوږدو کې د ملي ارزښتونو درناوی کولای شي چې افغانان دې ته تم کړي چې د خپل ملي هویت په هکله جدي فکر وکړي، لکه د ملي اتلانو نمانځل، د ملي ورځو درناوی، د ملي سمبولونو درناوی، له افغاني کلتور څخه دفاع او په ورځني ژوند کې یې عملي کول، هغه که په جګړه او که د سولې په راوستلو کې وي، باید دې ارزښتونو ته جدي پام او درناوی وشي.

د ملت جوړونې په لاره کې لاندې ټکي په نظر کې نیول د پام وړ دي:

- د یو پراخ بنسټیزه او کاري دولت جوړول؛

- د افغانانو د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو له پاره یو فعال اقتصادي چوکاټ جوړول؛

- له ګاونډیو سره ځینې تاریخي ستونزې لکه د پولو او اوبو وېش په هکله رغنده خبرې کول او په نړیوالو نورمونو سره د دې مسایلو اوارول؛

د کلتوري ارزښتونو او ملي هویت په هکله د خلکو پوهاوی څو افغانان خپلې ګډې ځانګړنې وپېژني او هغه په خپل ورځني ژوند کې عملا خپلې کړي.

ډاکټر اشرف غني په خپل کتاب (د عادلانه نظام لار) کې په افغانستان کې د ملي هویت او ملت جوړونې پر مخ کې پرتې ستونزې په دې ډول په نښه کړي دي: ۱) کډوالي، ۲). محرومیت، ۳). ژبنی ستونزې، ۴). قومي سیاست،۵). د قانون نشتوالی، ٦). د سیاسي ګوندونو نشتوالی او ۷). بې روزګاره ځوانان.

همدارازیې د ملت جوړولو له پاره لاندې چوکاټ وړاندې کړی چې په نهو ستنو ولاړ وي :۱) اسلام، ۲). اغېزمن دولت، ۳). د پوهنې بنسټیز کول، ۴). اغېزمنې نړیوالې اړیکې، ۵ .(نړیوالې اقتصادي مرستې، ٦). بشري پانګه، ۷). مارکېټ جوړونه، ۸). سیمه ییزه همکاري او ۹). د سیمه ییزې همکارۍ مخکې شرط چې هماغه اغېزمن دولت دی.

افغانان کولای شي په ډېرو اساسي مشترکاتو راټول او خپل ملي هویت پیاوړی او د ملت جوړولو پروسه چټکه کړي . لوی مشترکات په دې ډول دي:

اسلام، ګډ تاریخ، ټولنیز عدالت، د فرصتونه توازن برابرول یا وېش، کلتوري وده او پرمختګ، متوازن انکشاف او د اقتصادي زېربناوو پیاوړي کول کولای شي د افغانانو له هغو ځانګړنو څخه وشمېرل شي چې د ملت جوړونې په پروسه کې ورسره ښه مرسته کولای شي.

ملت جوړونه د سولي په راوستلو کې هم لازمي عنصر ګڼل کېږي، سوله نه یوازې د جنګ نشتوالي ته وايي بلکې سوله په حقیقت کې د یوي ټولنې د وګړو تر منځ د توازن او تفاهم داسې یو حالت ته ویل کېږي چې د وګړو ترمنځ متقابل درناوی، د دوی تر منځ د توپیرونو په منلو او یو بل ته په قناعت ورکولو رامنځته کېږي.

د یو او بل پر وړاندې باید زغم ولري، شخړي د ټوپک د مرمۍ په ځای د خبرو اترو له لاري حل کېږي، د وګړو ټول حقونه خوندي وي، غوښتنې یې اورېدل کېږي او ستونزې یې د قانون په رڼا کې بې له تاوتریخوالي او ټولنیزې ګډوډۍ او ناارامۍ څخه اوارېږي.

په دې توګه ټول وګړي د عزت څښتن وي او د هېواد د اتباعو په توګه هر وګړی د کور شریک او رښتیني څښتن ګڼل کېږي. سوله د هرې ټولنې د مادي او معنوي پرمختګ لامل ګرځي او د ملت جوړونې په بهیر کې مرسته کوي.

دغه راز په نړیواله کچه سوله د هېوادونو تر منځ داسې همکارۍ ته ویل کېږي چې په ازادۍ، خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، برابرۍ، بشري حقونو ته په درناوي او د امکاناتو په روڼ او وړ وېش ولاړه وي.

په جګړه کې ښکېلو خواوو کولای شي په لاندې توګه د ملت جوړونې د بهیر په لارو چارو لاس پورې کړي:

۱. ټول افغانان پرته له کوم سياسي، مذهبي، ژبني او قومي توپير څخه بايد د ملت جوړونې په بهير کې د ننه شي؛
۲. د يوه پياوړي سياسي دولت د جوړښت له پاره بايد خپل سياسي نظرياتي واټنونه کم کړي، څو د يو بل پر وړاندې له سياسي زغم څخه کار واخيستل شي او له سياسي کړکېچ څخه خپل هېواد ته نجات ورکړي؛
۳. د يوه متوازن اقتصادي پرمختګ پر وړاندې بايد په يوه ملي او نړيواله پروسه کې ځان شريک کړي، څو بېکاره ځوانانو ته د کار او تعليم زمينه برابره شي او د افغانستان ځورېدل ملت په چټکۍ سره په خپلو پښو ودرېږي؛
٤. خپل ملي ارزښتونه، ملي کلتور او ملي اتلان بايد ونمانځل شي، ملت بايد په خپل پياوړي تاريخ يو موټی کړي؛
۵. هره ډله بايد د افغانستان ابادۍ ته په صادقانه ډول د خدمت تکل وکړي او د پرديو له منګولو خپل خوار ملت ازاد کړي، څو افغانان هم په نړيواله کچه د ژوندانه په هره چاره کې سيالي وکړي؛
٦. ملي ګټې او مصلحتونه بايد له خپلو شخصي- او ډله ييزو ګټو پورته وګڼي، څو يوه ملي تفاهم ته لاره اواره شي.

## بودا له بامیانو کډه کېږي[٥٦]

د بودا د بوتانو د نړېدو غمیزه د افغانستان په معاصر تاریخ کې یوه نه هېرېدونکې پېښه ده، هر ځل چې بامیانو ته تللی یم، د بودا د نړېدلو مجسمو جوړښت او د ځای انتخاب حیران کړی یم. د بودا د مجسمو عاجزي، بې وسي، انسان دوستي او بلاخره د انسان د کرکې یو هیبتناک تصویر راته تر سترګو درېدلی دی.

د بودا مجسمې شاوخوا جوړې شوې سمڅې لا هم د انسانانو د اوسېدو ځای دی، هلته لا هم د بامیانو اوسېدونکي کورونه لري او د پخوا پر خلاف، پرته د بودا له عبادته د خپل ژوند شپې ورځې سبا کوي. تېره یوه لسیزه د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د یاددښت وړ بدلونونه راغلل. ځینو ولایتونو د خپلو اوسېدونکو په مټ پرمختګ وکړ، ځینو د نړیوالو مرستو له برکته، خو ځینې بیا پخپل ځای وروسته پاتې شول او یوازې اوسېدونکي یې پرمخ لاړل.

بامیان د وروستیو ولایتونو په سر کې راځي. د بامیانو اوسېدونکو (هزاره افغان وروڼو) حیرانوونکی پرمختګ وکړ، څوک د وزارت،

---

٥٦ November ٢٤, ٢٠١٣

ولایت او لوی ریاست څوکیو ته ورسېدل، چا بیا لوړې زده کړې په امریکا او اروپا کې وکړي او څوک هم له دې ولایت څخه لویو ولایتونو (کابل، مزار، هرات او غزني) ته کډه شول، خو یوازې د بامیانو یو کس لا هم پخپل ځای پاتې شو، هغه معیوب او مظلوم بودا دی.

د بودا له مجسمې څخه په درې سوه متری کې ښکلي هوټلونه جوړ شوي چې د بامیانو د بوتانو او تاریخي ځایونو د لیدونکو له پاره په کې د ژوند ټولې اسانتیاوې برابرې شوې دي. په دې هوټلونو کې تر ډېره بریده مبلمانه د کال په اوږدو کې بهرنیان وي او کله، کله کوم افغان مبلمه هم پرې ورپېښ شي. د یوې شپې نرخ یې له ۵۵ ډالرو څخه نیولي تر ۲۵۰ ډالرو پورې رسېږي. بامیان نور څه نلري، د کچالو وړې وړې کروندې، د کروندو په څنډو کې د سپیدارو ونې او بیا د بامیانو له مرکز څخه په څه له پاسه یوسل او پنځوس کیلومترۍ کې د اوبو ښکلي بندونه دي.

د بودا بوتانو ته مخامخ په یوه غونډۍ کې لا هم د نړۍ یو تاریخي ښار په خوب ویده دی، د غور غوري ښار، د دې ښار په ټولو لارو او کوڅو کې لا هم ماینونه خښ دي چې کېدای شي لامل یې همدا وي چې د دې ښار د ړنګو کورونو تر څنګ لاندې پراته شته لا هم له چور تالان څخه ژغورل شوي پاتې وي، خو څوک پوهېږي چې هلته هر څه تالان شوي او بیا یې په لارو کې ماینونه ځای پر ځای شوي وي؟

د باميانو له اوسېدونکو څخه يو کس چې په دې وروستيو کې نابېره د ارګ د واکدار باور پر ځان پيداکړ، هغه صادق مدبر دی. صادق مدبر د هزاره وروڼو په منځ کې بې تورپکه جنګسالار دی، هغه ځانته خپل تنظيم جوړ کړی، ګڼ هزاره روڼ اندي يې پر ځان را ټول کړي. د راتلونکو ټاکنو له پاره يې د کريم خليلي او محمد محقق خلاف خپل نوماند وړاندې کړی چې بلاخره د همدې توان او قدرت له مخې يې د ولسمشر- کرزي په واسطه د راغوښتل شوې مشورتي جرګې د تدوير او جوړېدو د کميسيون مشري په غاړه واخيسته. صادق مدبر پوهېږي چې که امريکا له افغانستان څخه پښې سپکې کړي نو له ده سره به کريم خليلي او محمد محقق په سخت زړه حساب کتاب وکړي. ولسمشر- کرزی د خپلې ادارې د هر چارواکي په کمزوريو ښه پوهېده او له هر داسې کمزوري چارواکي څخه يې د خپلې واکمنۍ په اوږدو کې د ځان په ګټه په زړه پورې استفاده کړې ده. صادق مدبر د خپل مدبرانه فکر په مټ دا دی وشوای کولای چې د پنځوسو کمېټو د مشرانو په دندو کم ترکمه شپاړس خپل استازي (هزاره په ځانګړې توګه د باميانو اوسېدونکي) د کمېټو د مشرانو په دنده وګوماري.

د هغه شپاړسو مشرانو بلاخره د امريکا - افغانستان د امنيتي تړون د تاييد تر څنګ په باميانو کې د امريکا د اډو غوښتنه ښه په کلکه او زغرده وکړه چې دا کار به د مدبر د راتلونکو پلانونو له عملي کېدو سره ډېره مرسته وکړي.

د یونسکو نړیوالې اداري او همدارنګه د افغانستان له تاریخي اثارو څخه د ملاتړ بنسټونو په وروستیو کې ویلي چې د بودا یوه لویه مجسمه لا هم د بامیانو په غرو، رغو کې ویده پرته ده. په بامیانو کې د امریکا او نیوزیلنډ نظامي اډه کېدای شي بودا له خوبه را پاڅوي. د یونیسکو نړیوالې اداري په دا وروستیو کې په وار، وار د امریکایي او افغان چورلکو له الوتنو څخه شکایت کړی، چې د بودا د مجسمو په سر ډېرې ټیټې الوزي. ددې الوتنو په ترڅ کې په دا وروستي لسیزه کې د بودا د مجسمو معیوبو بنسټونو ته لا ډېر زیان رسېدلی دی.

که د امریکا نظامي اډه په بامیانو کې جوړېږي، بودا ته یې درې تاوانه رسېږي. یو دا چې د دوی ټیټ پروازونه به لا ادامه پیدا کوي چې د مجسمو اوسني جوړښتونه به لا ورسره زیانمن شي او دویم دا چې دا جګړه ماره اډه به د بودا د ارشاداتو او لارښوونو خلاف د بامیانو د ولایت په اوږدو کې جګړې ته لاره اواره کړي. دریم دا چې په پای کې به، ویده بودا به هم له خوبه را پاڅوي او په دې توګه به د بودا ټول تاریخي اثار له بامیانو کډه شي.

## له پاکستان سره څه کول په کار دي؟؟[۵۷]

لـه پاکسـتان سره زمـوږ گاونـډیتوب د کـاپلین د کتـاب (د جغرافیـې غـچ) لـه مخـې د نـاروغې جغرافیـې د غـچ پـه مانـا دی (Kaplan, ۲۰۱۲).

د افغانسـتان او پاکسـتان تـر مـنځ د اړیکـو سـوړوالي یـا د اړیکـو نشـتوالی د دواړو هېوادونـو لپـاره یـو ناشـونی او لـه گواښـه ډک کـار دی. لـه بـلا چـې دې خلاصـی نـه وي، غـاړه غـړې ورسره گرځـه. لـه دې املـه ټـولې هغـه هلـې ځلـې چـې د دواړو هېوادونـو د حکومتونـو تـر مـنځ د دیپلماتیکـو اړیکـو د پیاوړتیـا او پرمختـگ پـه برخـه کـې کېږي. باید ملاتړ یې وشي.

پـه نړیوالـو اړیکـو کـې د هېوادونـو تـر مـنځ د معـاملو، دیپلماسـۍ او جـوړ جـاړیو معیـار هېـوادنۍ گټـې دي. بـل معیـار دا چـې پـه بهـرني سیاسـت کـې د بلمثـل عمـل تـرسره کـول د بهـرني سیاسـت د خپلواکۍ او غښتلتیا په مانا دي.

پاکسـتان لـه تېـرو شـپږو لسیزو راهیسـې لـه سـختو لـوړو ژورو څخـه تېـر شـوی هېـواد دی. پاکسـتان لـه تېـرې یـوې لسـیزې راهیسـې د کړنـگ پرغـاړه ولاړ دی، خـو د دې سـختیو پـه اوږدو کـې یـې خپلـې

ملي ګټې ښې شاربلي، د سیمې له هېوادونو سره په دیپلماتیکو هلو ځلو کې ډېر فعال او غښتلی دی.

په کوردننه د استخباراتو او پوځ په مټ د هېواد د ستونزو د کنټرول په اړه نسبت افغان حکومتونو ته ډېر غښتلی دی، خو په دا وروستیو کې پاکستان ځینې ستونزې، ځینې ناخوالې په کوردننه او بهر کې تر سترګو کېږي چې د دې هېواد پوځ، استخبارات او حکومت یې په ملا مات کړی دی.

حامد کرزي له زړه له پاکستان سره دښمنې وکړه. د کرزي په څوارلس کلنه پاچاهۍ کې پاکستان تر سختو کورنیو نا امنیو، اقتصادي ځوړ، سیاسي فشارونو او بلاخره د سیمې او نړۍ په کچه په سیاسي انزوا کې را ښکېل هېواد بلل کېده.

په تېرو دیارلسو کلونو کې (د حامد کرزي په پاچاهۍ کې) که یو کار سم شوی وي، هغه د پاکستان سره ښکاره دښمني وه. د نوي حکومت په راتګ سره، پاکستان غواړي د افغانستان د دښمنۍ ځواک کاواکه کړي، کومه نیابتي جګړه چې پاکستان د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره په ګران وطن (افغانستان) کې پیل کړې ده، پاکستان غواړي افغانان د ورته عمل له کولو لاس واخلي.

پاکستان غواړي مونږ د بلوچستان د خپلواکۍ اخلاقي ملاتړ ونکړو، د پاکستاني طالبانو خو باید نوم هم په خوله وانخلو؟؟؟ له هندوستان سره د نږدې اړیکو څخه لاس په سر شو؟؟ د ډیورند کرغېړنه کرښه باید هېره کړو؟؟

د ګډو عملیاتو، د استخباراتي معلوماتو د شریکولو، د ډیورند د کرښې په اوږدو کې د ځانګړو عملیاتو د کولو تر دسیسو لاندې

پاکستان غواړي افغان حکومت د ډیورند په سر خبرو اترو ته را تیټ کړي، پاکستان غواړي د افغاني سولې تر عنوان لاندې پاکستانی معامله وکړي.

د پاکستان پورته یاده شوې هره غوښتنه د افغانستان د خپلواکی، ملي ګټو، ځمکنی بشپړتیا او خپلواک بهرني سیاست د نفې په مانا ده.

له دې امله، که پاکستان له ترهګری لاس نه اخلي، دوه مخی سیاست کوي، د ملي یووالي! حکومت ته په کار دي چې د بلمثل سیاست په خپلولو سره پاکستان ته غابښ ماتوونکی ځواب ورکړي.

د ملي یووالي! حکومت باید د پاکستان پر وړاندې د تضرع، عاجزی او ملامتی له سیاست څخه لاس واخلي.

په ښکاره له پاکستان څخه غوښتنه وکړي چې په افغان سوله او جګړه کې لاسوهنه بس کړي. د غني او عبدالله حکومت باید د پاکستان پر وړاندې د حامد کرزي د سیاست د دوام، د تدریجي لېږد او په پای کې د مشروط بدلون په اړه تصمیم ونیسي.

د پخواني حکومت له تهاجمي سیاست څخه لاس په سر کېدل به افغانان د اوږده مهال لپاره له پاکستان سره په نیابتي جګړه او سیاست کې وساتي، د حکومت سیمه ییزه کمزورې تګلاره به لا حالات ترینګلي کړي، افغان سوله به په پاکستانی معاملې بدله شي.

په تېرو څوارلس کلونو کې د جګړې ټول قربانیان یوازې افغانان وو. دا جګړه باید پنجابیان نارامه کړي. د پنجاب نا ارامي د کابل د سولې او ټیکاو کیلي ده. موږ باید پاکستان په دې پوه کړو چې د

نیابتې جګړې لـه لارې پـه افغانسـتان کـې د موخـو د ترلاسـه کولـو تجربـه نـوره زړه شـوې ده. پاکسـتان بایـد لـه افغانسـتان سره د یـو خپلواک هېواد پـه توګـه چلنـد وکړي، نـه دا چې د پاکسـتان پـه رحـم او کـرم بـه افغانـان د تضرـع، بلـواکۍ او کمځـواکۍ ژونـد تـه زړه ښـه کـوي. کـه حکومـت د پاکسـتان پـر وړانـدې خپـل روان کمـزوری دریـځ بدل نـه کـړي، ژر دی چې افغانسـتان پـه یـوې بلـې نیابتـي جګـړې یـا معاملې کې ښکېل پاتې شي.

یا ربه توفیق

## ډیورند لا ژوندی دی

په ۱۸۹۳ مېلادي کال کې د امیر عبدالرحمان خان د پاچاهۍ په وړاندې د نړیوال ښکېلاکګر (انګرېز) دسیسه داسې طرحه شوه چې تر ننه یې د اسیا د وچې پرمختګ، سوکالي او په ځان بسایني شارګونه غوټه کړې دي. عبدالرحمان خان چې د افغانستان د پاچاهۍ خوب یې له سره په رښا او تیاره کې نه ښکته کېده، له انګرېز سره د داسې شومې دسیسې په هوکړه سر وخوځاوه چې تر ننه د افغان ملت په وینو خړوبېږي.

د باچا په کور کې د غازي امان‌الله خان را وړاندې کېدل د انګرېز د طرحو، غچ او پلان په وړاندې یو ستر ډال ثابت شو، د غازي امان‌الله خان د خپلواکۍ د اعلان انداز چې ځنګه تاریخونه را اخلي دومره له دبدبې، ملي غرور او ویاړ ډک و چې د انګرېز سفیر پر مخ په سړه ورځ ګرمه خوله جاري شوه، انګرېز سفیر د خپل هېواد له دسیسه ګرو مشرانو سره د امان‌الله خان د پاچاهۍ طرز او لرلید شریک کړ، نو انګرېز په دې لټه کې شو چې د انګرېز د ماتې ناسور کوشیر، پرته له دې ناشونی دی چې دا غازي او د ده پلانونه دې په افغان ولس کې سپک نه کړای شي، د انګرېز په ملاتړ د غازي په وړاندې د ګڼو اوباشانو پاڅون د همدې شوم پلان عملي شوې بڼه وه.

له غازي امان‌الله خان څخه را پدېخوا د نادرخان راتګ افغانستان ته او بیا د ظاهرخان پاچاهي، د جمهوریت غوښتونکو حرکتونو را برسېره کېدل، د موسی شفیق په څېر د با تدبیره مشرانو را ښکاره کېدل، د داوودخان په څېر د جنوني افغان واک ته رسېدل هغه څه وو چې د وخت انګرېز یې په دې لټه کې کړ چې څنګه ډیورند ژوندی وساتي، سره له دې چې د هندوستان په خاوره کې د انګرېز په وړاندې د کانګرېس د مخالفتونو را برسېره کېدل، د بګهت سنګ وسله وال پاڅون او د ګاندي د نه تاوتریخوالي غړ، د باچاخان، فخرافغان د رونتیا او اصلاح افغانیه درانه ګامونه هر څه له خطر سره مخ کړي وو، انګرېز د همدې غړونو، خوځښتونو د ناکامولو په لټه کې و چې د محمدعلي جناح په څېره کې یې د وخت ډیورند ته لار پیداکړه.

هند او افغانستان یې په داسې یو ناسور کې ګاونډیان کړل چې تر ننه د ډیورند نوم ژوندی دی. د پخواني شوروي یرغل او د افغان مجاهدینو سربښندنې، د جهادي رهبرانو بې پروایي او په لویه کې د افغان ملي تولنې د سیاسي اړخ کمزورتیا د دې سبب شوه چې افغان نشنلېزم ځای پان اسلامېزم ته پرېښود. د پخواني شوروي په وتلو، انګرېز او لوېدیځ د اسلامپالو ځپلو ته داسې لومې خورې کړې چې ټول یې په ځان حیران کړل.

داسې بلاوې یې پرې را نازلې کړې چې د بې پیلوټه الوتکو په زور پرې تر ننه مېچن چلوي. هره ورځ د یو جهادي مشر- پر وړاندې په رسنیو کې د زهرو خپراوی، د جهادي مشرانو د ناروغیو

غړونـه، د زړه دربـدا او گـڼ نـور ناسـورونه د همـدې ډیورنـد د غـچ د پلان هغه کړي دي چې که افغانان یې په ملي روحیه له منځه یو نه سي، د افغانستان د ورکاوي، بربادي او وېش پلان به ډېر ژر عملي شي.

حامد کـرزي یوویشـت ځله له پاکسـتان څخـه لیدنـه وکړه، په اخره کې ورته انگرېز لـومړي وزیـر ډیوېډ کـامرون د منځگـړي کـردار خپـل کـړ. د دې منځگړتیا تـر ټولـو سـتر دلیـل د ډیورنـد د لیکـې پـه رسمیت پېژنـدل وو. د دې تـر څنـگ یې د پاکسـتان کـردار پـه سـیمه کـې ځواکمنـاوه، حامد کـرزی پـه شا شـو، د حامـد کـرزي د کمـزوري کولـو، سـپکولو د دسیسـې بحـث (د کـرزي کـورنۍ او افغـان غمیـزې) په کتاب کې ولولئ.

لـه کـرزي وروسـته یـې د مـلي یـووالي تـر نامـه لانـدې داسـې نـیم ژوانـدی حکومـت پـه کابـل واکمـن کـړ چـې د کابـل پـه ښـاروال یـې دا ۳۰ میاشـتې جنـگ دی. د دوی لـه دې کمـزوري حالـت څخـه د پاکسـتان گټـه دا شـوه چـې پـه تـورخم یـې دروازه جـوړه کـړه، پـه سـپین بولـدک یـې د پـاک سرزمـین نـاره هـر سـهار رسـمي کـړه. پاکسـتان د انگرېـز د چـل او فریـب ټـول نیرنگونـه خپـل کـړي دي، اشرف غنـي د نظـامي ځواکونـو قرارگـاه تـه بـوت، هلتـه یـې خپـل زور، تـوان ورتـه را برسـېره کـړل او پـه دې توگـه یـې پـه پټـه د امنیتـي تـړون تـر نامـه لانـدې د ډیورنـد د شـومې دسیسـې وروسـتی مـېخ د احمدشـاهي افغانستان په تابوت وټومبه.

اشرف غني چې د واک تنـدي او لـوړې پسې اخیستی، د ولس لومړیتوبونه تـرې پاتې، د سیمې سیاسـت یـې هېر، ایلـه د کابـل پـه ښاروالی، د تـدارکاتو پـه سمبالښت او د قـرار دادونـو پـه پټولـو بوخـت دی. د عبـدالله پـه وړانـدې لـه هربـل پښـتون اشرف غنـي کـم راغلـی دی. عبـدالله رسنیو تـه پـه زغـرده وویـل چـې کـه غنـي د ده او د ده د ملګرو غوښتنې ونـه منـي، د فساد دوسیې بـه یـې رسـوا کـړي. همـدا و چې غني د عبدالله پر وړاندې لا سرټیټی ته مجبور شو.

پاکسـتان پـه افغـان اوسـېدونکو د ډیورنـد لـه کرښـې د اوښـتو را اوښتو لـه پـاره ویـزه لازمـي کـړه، اوس یـې د کرښـې پـه اوږدو کـې د اغـزن تـار د غزولـو کیسـه را برسـېره کـړه. د څلـورو نـورو دروازو د جوړولو تابیـا یـې ونیولـه. د سرکانو او ګنـو نـورو ولسـوالیو بمبـار تـه یـې کار ووایـه، خـو د ملي یـووالي حکومت یـې پـه وړانـدې غلـی پاتې شـو. د دریېمـي سـقاوي د بنسـټ ډېـره یـې د لـومړني سـقاو د بیـا خښـولو پـه مراسـمو پیـل کـړه، دا هـر څـه ځکـه پـه افغـان ولـس کېـږي چـې ډیورند لا ژوندی دی.

د حللارې په توګه!

افغان روڼ انـدي، ځوانـان، سیاسـیون، مـدني ټولنې، قـومي مشران بایـد د ملـي ټـولنې او مـلي سیاسـت د ټـاکلو تکـل ګرنـدی کـړي، د افغانسـتان د اسـاسي سـتونزو د حـل لـه پـاره دې مـلي اجـماع تـه مخـه کړي، د مـلي حاکمیـت بیـا را ژونـدي کـول د ولـس دنـده او مسـولیت دی، پـه دې توګـه مـوږ کـولای شـو چـې د ډیورنـد کرښـې هـا غـاړې

افغانانو ته لاس ورکړو، د پنجاب دسیسې شنډې کړو او د احمدشاهي افغانستان د بیا جوړېدو خوب ته تعبیر شو.

یا رب توفیق

## کوکنار په ارګ کې!

که د رسنیو ارشیفونو ته سر ورښکاره کړو او یا هم هغه غونډې، مجلسونه چې ډاکتر غني او عبدالله له ګرانو هېوادوالو سره په پټه او ښکاره کړي را په یاد کړو، نو نن باید ګران وطن ګل، ګلذار وای، خو نه داسې ونه شول. نن مو ګران وطن د تاریخ په داسې یو پړاو کې دی چې د کورنیو جګړو، نیابتي جګړو، د هېواد د جغرافیوي وېش، د اشغال د دوام، د افغان وژنې د سیمه ییزې او نړیوالې دسیسې له ژوریدا سره مخامخ دی، نن به موږ په داسې یو حالت کې قرار لرو چې د بدیل د نشتوالي پلمه د ځان او خپل وجدان د ارامولو له پاره کاروو.

تور بازار (Black Market) یوازې د نشه یي توکو له راکړې ورکړې څخه نه رامنځته کېږي، بلکې د وسلو له قاچاق څخه نیولې تر مالي او اداري فساد پورې ټول د تور بازار او تور اقتصاد برخه ګڼلی شو، ډاکتر غني چې ولس یې په اقتصادي بحثونو اېل کړ، نن د نړۍ په کچه د ستر تور بازار او تور اقتصاد مشر ګڼل کېږي.

د ملګرو ملتونو وروستی راپور چې د نشه یي توکو د کرکیلې او قاچاق د زیاتوالي په اړه په کې اندېښنې را ولاړې شوې، ډېر زیات د اندېښنې وړ دی. د کابل ښار په داسې سیمو کې نن په نشه

يي توکو روږدي ځوانان ليدل کېږي چې په تېرو ځوارلسو کلونو کې هلته د داسې کسانو ليدل عيب ګڼل کېده، د بېلګې په توګه طلايي ښار (شهرک طلايي) ته په غزېدلې لار، د پل محمودخان سيمه او د ارتن پله شاوخوا سيمه کې تنکي ځوانان چې اکثره يې پښتانه دي، له ايران څخه راغلي هزاره ورونه نه دي، ډله ډله ټوله ورځ پوډر څکوي.

جلال اباد ښار ته تللی وم، ماښام د ښار په لوري قدم وهلو ته ملګرو سره ووتم، د ښاره هره سيمه چې ويالې او يا يې هم لږ څه پټ او ګوښه څنډه بللی شو، د تنکيو ځوانانو غوښې په کې د پوډرو په دودونو کې پټې وي.

د ملګرو ملتونو د راپور له مخې په تېر يو کال کې د نشه يي توکو په توليد کې ۴۳سلنه زياتوالی راغلی، د کوکنارو کرکيله لس په سلو کې ډېره شوې ده چې دا د دوه سوه زره هکتاره ځمکې د کرکيلې له زياتوالي سره برابر دی، په دې مانا چې په ۲۰۱۵ مېلادي کال په دوه سوه زره هکتاره نوې ځمکه کوکنار کښت شوي دي چې په تېرو پنځه لسو کلونو کې په دې ځمکو نورې غلې، دانې کرل کېدې.

د ملګرو ملتونو د همدې راپور له مخې په ۲۰۱٦مېلادي کال د کوکنارو په توليد کې ۹۱سلنه کموالی د کوکنارو سره د مبارزې په فعاليتونو کې راغلی دی چې دا پخپله د ملي يووالي د حکومت (ارګ) د ناپامۍ، ناکامۍ او د کوکنارو له کښت او قاچاق سره د بې باکۍ په پلان دلالت کوي. په ۲۰۱٦مېلادي کال کې

افغانستان د دې هېواد په تاريخ کې تر ټولو ډېر نشه يي توکي توليد کړي چې ۴۸۰۰۰ ميتريک ټنه بلل کېږي. داسې ښکاري چې راتلونکې کار کېدی شي ارګ کې هم کوکنار وکرل شي، تر څو د ګران وطن پاتې ټوله ځمکه د کوکنارو په کښت چټله کړې شي. په نشه يي توکو روږدو وار د مخه د ارګ په ګڼو چوکيو خپټې اچولې دي او د څلوريشت ساعته خمار له مخې د هېواد په روان ناورين خپلې سترګې پټوي او وجدان پرې بيهوش ساتي.

دا چې ولې د نشه يي توکو کرکيله، قاچاق او ان استعمال په کور د ننه زيات شوی دی، ګڼ دلايل لري چې تر ټولو عمده يې له نشه يي توکو سره د مبارزې په اراده کې د کموالي، د نا امنۍ د زياتوالي، د بهرنيانو د مرستو کمښت او بلاخره په تور بازار يا اقتصاد کې د حکومت او د حکومت د مخالفينو تر هر بل وخته زياته دلچسپي ګڼلی شو.

د نشه يي توکو د کرکيلې او قاچاق څخه عام افغانان (کروندګر) کومه داسې ګټه نه تر لاسه کوي چې د هغه د ځان بسا‌ينې دليل دې وګرځي، موږ ګورو چې په هلمند کې بېوزلي له هر بل ولايت ډېره ده، جګړه په کې تر ټولو نورو سيمو سخته او مرګونې ده، بحث دا دی چې د نشه يي توکو له کرکيلې او قاچاق څخه د سيمې هېوادونه، کور د ننه د مافيا کړی، په فساد کې ښکېل چارواکي په ځانګړي توګه امنيتي مسولين، د سيمې هېوادونه او نړيوال سوداګر او د مافيا غړي ګټه اخلي.

د ملي یووالي د حکومت په جوړېدو سره د غني او عبدالله د کړې ژمنې تر شا پاتې شوي او بلاخره بحث دې ته را لنډ شو چې هر څه د یو بل په وړاندې د مخالفتونو، ګواښونو او پخپلمنځې اختلاف کې پټ کړي، کله هم چې د هېواد په کچه کومه ملي مهمه مسله رامخته شوې، دوی د ولایتونو د سقوط، د نا امنۍ د زیاتوالي، د یوې سترې پېښې د رامنځته کېدو او یا هم د کوم تش په نامه د بهرني سفر د درواغجنو لاسته راوړنو په ډنډوره کولو د عام ولس له ذهنه پریمنځلي دي. د هېواد ستونزې په داسې چټکۍ سره مخ په ډېرېدو دي چې که سیاسي، با نفوذ او هېوادپال مشران ورته پام ونه کړي کېدای شي د راتلونکو کړکېچونو کنټرول او اداره د افغانانو له واک او اختیار څخه ووځي.

د ګران هېواد د سیاسي وېش دسیسه د غني او عبدالله د ګډ حکومت په رامنځته کېدا په بریالیتوب سره په مخ روانه ده، د عبدالرشید دوستم ګواښونه او څرګندونې د همدې بدبختۍ د ژورېدو یو ستر دلیل دی، خو د ګران وطن د جغرافیوي وېش، د سوریې او عراق د تجربو تکرار په افغانستان کې د نشه یي توکو د کرکیلي او قاچاق د زیاتوالي، د مافیایي کړیو د غښتلتیا او د حکومت له وېشلي او کمزوري حالت سره نښتې ګډل کېږي.

افغان مبارز ځوانان، روڼ اندي، سیاسي او قومي متنفذین او رسنۍ باید خپل ملي رسالت او دنده ترسره کړي، د حکومت او مخالفینو په اړه باید یو ملي دریځ ته لاره اواره شي، د جګړې

ستونزه د افغاني سوله ییزو جوړښتونو یا میکانیزمونو له لارې حل شي او جگړه پرې نښودل شي چې د ملي یووالي د سهامي شرکت د دوام، د مافیایي کړیو د پرسوب او د تور بازار د لا پیاوړتیا سبب وگڼل شي.

یا رب توفیق !

## رایه چاته ورکړو؟[۵۸]

مونږ د نړۍ د ویښو ملتونو په څېر د راتلونکو ټاکنو په اړه د تحریم اختیار نه لرو، ځکه مونږ لا هم په دې باوري نه یو چې بدلون راوستونکی ملت دی، ټاکنې د ملت د اختیار، واک او په قدرت کې د برخې اخیستو په مانا دي.

بل دا چې مونږ لا هم په دې نه یو توانېدلي چې د ملت له منځه یو مشر- یا یوه ډله (گوند) دې ټاکنو ته را وړاندې کړو او تر ټولو مهمه دا چې لا هم د افغان رایه د هغه د اختیار رایه نه ده چې که استعمال یې نه کړي نو کوم بدلون ته به لاره اواره شي او په پایله کې به د دوی اختیار، غوښتنو او فشارونو ته ځوک غاړه کېږدي.

د راتلونکو ټاکنو نوماندان، تر ډېره بریده هغه د زاړه ملا او زړو تراویحو په مانا دي، یوه ډله یې غرب ځپلي تکنوکراتان دي او بله ډله یې د افغان ملت د ورانیو، بدبختیو او دربدریو عاملین او په دربیمه کټګورۍ کې بیا د دواړو ګډوله را وړاندې شوي ده.

د پرمختللو او وروسته پاتې هېوادونو یو لوی توپیر په دې کې دی چې د پرمختللو هېوادونو حکومتونه له خلکو وېرېږي او د وروسته پاتې هېوادونو ملتونه بیا له حکومت وېرېږي. د همدې وېرې له امله چې افغان ملت یې د حکومت په وړاندې لري، نه غواړي

---

[۵۸] October ۱۲, ۲۰۱۳

ځانونـه د واک پـه جوړښـت او ویـش کـې ور شـامل کـړي، بلکـې د واک بې تاجـه ټېکـه درانـو تـه یـې پـراخ واک او اختیـار ورکـړی چـې څه یې زړه غواړي هغه دې وکړي.

له همېد کبلـه، خـو یـوازینی اختیـار چـې مونږ یـې لـرو هغـه پـه ټـاکنو کـې د ګـډون اختیـار دی. مـونږ لا هـم د خپلـې رایـې د وزن، تـوان او قدرت د تجربـې پـه لټـه کـې یـو، مـونږ لا هـم د بـد او بـدتر تـر منـځ د انتخـاب د تـوپیر پـه تکـل کـې یـو، مـونږ لا هـم ولسـواکی تـه جـوړ او ټولمنلی ملـت نـه یـو، نـو ځکـه مـونږ بایـد پـه راتلونکـو ټـاکنو کـې پـه پراخه کچه برخه واخلو او خپله رایه او اختیار تمرین او تجربه کړو.

پوښتنه دا نـه ده چـې ټـاکنو کـې برخـه واخلـو او کنـه؟ بلکـې پوښـتنه دا ده چـې چاتـه رایـه ورکـړو؟ د دې پوښـتنې ځـواب نـه یـوازې سـخت دی، بلکې لا هـم معلـوم نـه دی چـې تـر پایـه بـه کومـه ډلـه، ایـتلاف او کسان د ټاکنو د پای تر پړاوه ورسېږي.

چیرتـه چـې بـې بـاوري موجـوده وي، هلتـه تصـمیمونه، انتخابونـه او اختیارونـه ژر ژر بـدلېږي، لـه شـته نومانـدانو هـم دا تمـه کېـږي چـې ډېری بـه یـې د نـورو پـه ګټـه تېـر شي، ځینـې بـه لا هـم نـوي ایـتلافونـو جوړولـو تـه زړه ښـه کـړي او ان کېـدای شي ځینـې پـه ټـاکنو کـې لـه ګـډون څخـه لاس واخـلي او بېرتـه د غـرب ښـکلو هوټلونـو، پـارکونو او سړکونو ته د خپلو کارونو د سرته رسولو لپاره مخه کړي.

نـو راځـئ پـه اشخاصـو بـه نـه غږېـږو چـې کـوم کـس تـه رایـه ورکـړو، بلکې د دې پـر ځـای بـه پـه دې وغږېـږو چـې پـه کـوم معیـار بایـد خپلـه رایـه اسـتعمال کـړو. ټـاکنې د ولسـواکۍ یـو مهـم اصـل دی چـې پـه ترڅ کې د خلکو په خوښه د واک سالم لېږد ته لاره اوارېږي.

مونږ له بده مرغه د سالم لېږد لپاره د اختيار لرونکي نه يو، نو د بدو او بدترو تر منځ باید انتخاب وکړو، هغه لوړ معيار باید ونه ټاکو چې کوم په رښتيني توګه د هر بل ملت لکه د افغان ملت په شان يې حق دی. مونږ نشو کولای دا سې نوماند يا ايتلاف پيدا کړو چې هغوي دې د قومي، ژبنيو او مذهبي جوړ جاړيو پر ځای اهليت ته ارزښت ورکړی وي او خپل نوماند او مرستيالان دې د اهليت پر بنسټ را وړاندې کړي.

داسې کومه ډله هم نلرو چې هغه دې د تېرو بدبختيو، دربدريو لامل نه وي، يا يې دې په کې برخه نه وي اخيستي يا يې دې هم پر وړاندې غلي نه وي پاتې شوي. داسې کوم نوماند هم نلرو چې هغه دې په ټول افغان ملت باور کړی وي چې زما رايه به له افغان ملت څخه راځي، بلکې د دې پر ځای هر نوماند جنګسالار، ټوپکمار، د مذهب ټېکه دار ته ترجيح ورکړې او يا خپله نوماند له همداسې جوړښتونو څخه را وړاندې شوی دی.

نو راځئ مخکې له دې چې د نوماندانو دوه مياشتې پوره شي او خپل ټاکنيز کمپاين پيل کړي موږ ورته د فشار جوړښتونه برابر کړو، د مدني جوړښتونو، صنفي اتحاديو، د ځوانانو خوځښتونو په برابرولو سره کولای شو خپل فردي ځواک په ټولنيز ځواک بدل کړو او په دې توګه د فشار د ډلې په توګه نوماندان دې ته مجبور کړو چې ځينې شرايط مو ومني.

يو تر ټولو مهم شرط چې باید افغان ځوانان يې په خپلواکو نوماندانو کېږدي هغه د ګوندي سياستونو راوړل دي. هر نوماند

چې بریالی کېږي باید په راتلونکو پنځو کلونو کې د ګوندي سیاست جوړښت او پرمختګ ته لاره اواره کړي.

دویم دا چې ځوانانو ته باید په راتلونکي حکومت کې پراخ او کلیدي کردار ورکړي. دریم دا چې د ټولنیز عدالت د بنسټونو له مخې باید د مسوولیتونو او صلاحتیونو وېش ته پام وشي، وېش باید د اهلیت او لیاقت پر بنسټ وي، پرمختګ باید په موازي توګه د هېواد په هر ګوټ کې راشي.

په پای کې، د ناکامېدو په صورت کې باید د یو پیاوړي سیاسي اپوزیسون جوړولو ته لاره اواره کړي او میدان باید د واک موجوده ټیکه درانو ته پرې نږدي. له بده مرغه، مونږ له دې پرته نشو کولای په خیالي معیارونو د خپلې رایې لپاره کوم معیاري نوماند پیدا کړو.

## د غني او عبدالله ترمنځ نانندرۍ

د ډاکتر غني او عبدالله ترمنځ د ټاکنيزو مبارزو له پيله ستر توپير تر سترګو کېده. ډاکتر غني چې په تکنوکراسۍ راڅرخي، تر ډېره تکنوکراسۍ ته د لوېديځ د کلتور، د کار د ډول او د سياسي لوبغاړو د لوبولو لېوالتيا په کې تر سترګو کېږي.

له بل لوري ډاکتر عبدالله چې په سنتي سياست باور لري، د معاملې، د پخوانيو شيو او چپو ګوندونو او باورونو د ګډولې او په لويه کې له وخت سره سم د جوړ جاړيو او چنې وهلو په کلتور ولاړ سياسي باور سره خپل سياسي ژوند پر مخ بيايي. د غني او عبدالله تر منځ لوی توپير د سياسي تيوري په سر له اختلاف څخه سرچينه اخلي، خو د پردې تر شا ګڼې نورې معاملې هم شته چې لاندې به يې وڅېړو.

د ډاکتر غني او عبدالله تر منځ وخت ناوخته د ټاکنيزو مبارزو په اوږدو کې د تور او سپين بحثونه را ولاړېدل، خو کله چې دا دواړه د ملي يووالي د حکومت د سياسي هوکړې په سر سلا شول، له پيله داسې برېښېده چې د دوی تر منځ به د حکومت د چارو پرمختګ ناشونی او ناکام وي. خو ډاکتر غني او عبدالله به وخت نا وخت په رسنيو کې را څرګندېدل او د خپل ګډ کار ستاينه به يې کوله او د همکارۍ ټينګار به يې واهه، خو کله چې د واک د

وېش کیسه را برسیره شوه، د وزیرانو او والیانو د گومارنې، د مالي او اداري مدیریت د چارو د وېش او په پای کې د سفیرانو د گومارنې کیسه را وړاندې شوه، غني او عبدالله یو بل ته په کمین کې کېناستل، د دوو کلونو په تېرېدو دواړه جنابان په دې ونه توانېدل چې کابینه بشپړه کړي، د افغانستان ټولو ولایتونو ته والیان وگوماري او یا هم د سفیرانو د تقرر ویاړ تر لاسه کړي.

د وېش په سر نانډریو هغه وخت زور واخیست چې عبدالله په غني تور پورې کړ چې گواکي د واک انحصار، له بهرنیانو سره په پټه د قراردادونو د ترسره کېدو او د پراخ فساد شته والی په ارگ کې ورته د زغملو وړ نه دی.

د عبدالله په وړاندې د غني سلاکارانو غني ته توصیه وکړه چې غبرگون دې پخ کړي او عبدالله دې تر نیوکو لاندې نه نیسي-، ځکه د غني گڼ سلاکاران چې په پخواني حکومت کې لوړپوړې چارواکي او د ارگ د سقوط، بډو اخیستو، د غلاوو او مافیایي کړیو سرداران دي، په دې ښه پوهېږي چې غني که د عبدالله په وړاندې تند غبرگون وښيي، عبدالله به د دوی دوسیو ته لاس کړي او رسوایي به جوړه کړي.

غني هم د خپلو سلاکارانو په خوښه کله یو غر، کله بل غر وویشت، خبره د بروکسل تر کانفرانسه پاتې شوه، اوازه داسې گډه شوه چې یوولس وزیران او اته والیان به له دندو گوښه، گڼ لوړ پوړي چارواکي به خارنوالۍ ته ور وپېژندل شي او د عبدالله نیوکو ته به په عمل کې غبرگون وښودل شي.

عبدالله د غني وروستی ګومارنې بېځایه او ناکاره وګڼلې په ځانګړي توګه یې د غني د اداري اصلاحاتو د کمیسون د مشر- یادونه وکړه چې وړوکی هلک دی، په اړوندو چارو هېڅ کاري سابقه نه لري او عبدالله ته د منلو وړ نه دی.

د بروکسل د کانفرانس په تېرېدو د پراخو بدلونونو امکان احساسېده، خو له ارګ څخه د کره سرچینو په وینا چې عبدالله د غني هېڅ ګومارنه نه مني، عبدالله په هره ګومارنه کې د پنځوس سلنې ونډې غوښتونکی دی، په دې توګه ورځ تر بلې د ګومارنو، اصلاحاتو او اړونده جوړ جاړیو پروسه مخ په ځنډېدو ده.

د غني او عبدالله تر منځ اختلاف تر هر بل چا ډېر د غني لومړی مرستیال دوستم ښه را برسېره کړ. دوستم په تېرو دوو کلونو کې څو څو ځلې د ژورو اختلافاتو چیغه پورته کړه، خو په وروستي ځل یې ډېر داسې شیان رسنیو ته وویل چې که دوام وکړي خطرناک دي.

د قومي وېش (غني لوګریان پالي او عبدالله تاجک)، د غني تر څنګ یوه داسې کړۍ چې هر سپین تور او تور سپینولای شي. د امنیتي سکتور سیاسي کول، د پیسو د غلا، د تورو پیسو شتون او له دې پیسو څخه ناوړه استفاده، او په پای کې د ملي یووالي د حکومت د ناکامي نسخې یاد وشو.

د غني او عبدالله تر منځ اختلاف د افغانستان د معاصر سیاسي تاریخ په دریو مهمو برخو ډېرې ناوړه اغېزې لرلې دي:

لومړی دا چې امنیتي سکتور د ملي یووالي په حکومت کې بیخي سیاسي شو، د کورنیو چارو، دفاع او ملي امنیت جوړښتونه

چې باید بیخي له سیاسته لرې وساتل شي، قومي، ژبني او سمتي بحثونه په کې هېڅ ځای ونه لري.

له تېرو دوو کلونو راهیسې ډېر سیاسي شول چې د هېواد په امنیتي حالت یې ناوړه اغېز وښنده، د ملي اردو او پولیسو تلفات له هر بل وخت لوړ شول. د وسله والو ځواکونو له دندې تېښته، د دندې بدلېدل، د حکومت مخالفینو ته تسلیمدل، معلولیت په کې ان د میاشتې تر ۷۰۰۰ کسانو رسېږي چې د دې تشې د ډکېدلو په وړاندې د وسله والو ځواکونو لیکو ته د جلب او جذب په برخه کې یوازې ۱۷۰۰ ځوانان جذبېږي. د وسله والو ځواکونو د روزنې موده، د اسانتیاوو برابرېدل او د امنیتي ګوابښونو د زیاتېدو له امله کېدای شي د ګران وطن په راتلونکي کال کې د ملي ځواکونو له کمښت او تشې سره مخ شي.

د دې تر څنګ د ملي یووالي په حکومت کې د شته اختلافاتو دویم ناوړه اغېز د خدمتونو په کیفیت، د حکومتولۍ په ډول او د سیمه ییزې حکومتولۍ په سم سمي ناوړه اغېز ښندلی دی. له دوو کلونو تېرېدو وروسته لاهم کابینه بشپړه شوې نه ده.

د سیمه ییزې حکومتولۍ د خپلواک ریاست مشر نه دی ګومارل شوی، د ګڼو ولایتونو والیان سرپرست پاتې دي، ان د کابل ښار چې د څه له پاسه پنځه میلیونه افغانانو د اوسېدو ځای دی له ګڼو ستونزو لکه د چاپېریال ککړتیا، د ګڼې ګوڼې له زیاتېدو، د ترافیکو له ګڼې ګوڼې او د جرمونو له ډېروالي سره مخ دی او د سرپرست ښاروال له خوا اداره کېږي. په ولایتونو کې د قضا او

محاکمو حالت له هر بل وخته ناوړه او بدرنګه شوی دی، خلک په حکومت نه بلکې د حکومت په مخالفینو خپلې ستونزې حلوي.

درېیم ناوړه اغېز يې په سيمه ييز او نړيوال ديپلماتيک ډګر کې محسوس دی، په دې مانا چې په لومړي ځل د طالبانو او ايران تر منځ ديپلماتيکو اړيکو د پياوړتيا بحثونه رسنيو ته را برسېره شول.

له چين سره د طالبانو اړيکې له هر بل وخته ژورې ښودل کېږي، روسانو د ملي يووالي له حکومت زيات په طالبانو د اتکا تابيا نيولې، په منځنۍ اسيا هېوادونو کې (ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان ، قزاقستان او قرغېزېستان) کې د طالبانو له استازو سره ليده کاته، دا هر څه په دې مانا دي چې په سيمه کې افغان حکومت حاشيې ته ټېل وهل کېږي او د دوی پر ځای ګڼ امنيتي، د ټيکا او ثبات بحثونه د حکومت له مخالفينو سره کېږي.

د پورته ياد شوو دلايلو له مخې ويلای شو که د ملي يووالي د حکومت مشران د خپلمنځي اختلافونو اواری ژر تر ژره ونه کړي، کېدای شي ګران هېواد له ستر سياسي کړکېچ او د مديريت له تشې سره مخ شي، داعش په لومړي ځل په غور کې افغانان په نښه کړي، د داعش پراخېدو، شمال ته د جګړې غزېدل، د ولايتونو او ولسواليو د سقوط وېره کېدای شي راتلونکی کال افغانانو ته په اقتصادي، سياسي، ټولنيزو او ديپلماتيکو ساحو کې ستر ناورينونه را ولاړ کړي.

**د حللاري په توګه!**

د ډاکتر غني او عبدالله تر منځ هر ډول جوړ جاړی د هېواد له اوسنيو شرايطو او ګټو سره په ټکر کې دی، دوی دواړه د معاملي

او سهامي شرکت د ژوربدا په اړه فکر او غور کولای شي چې دا به په ګران وطن کې ژبنیو، قومي او سمتي توپیرونو ته لمن وهل وي او د ګڼو تعصباتو د ژوربدا سبب به وګرځي.

د ډاکتر غني اصلاحات د عبدالله په تاوان او د عبدالله د اصلاحاتو په پلمه د غني په سود نه بلل کېږي، خو د دې ناغېړیو ټول تاوان مظلوم افغان ولس ورکوي، هره ورځ په لسګونه افغان مېړني ځوانان وژل کېږي، خو په ارګ کې مېشت بېهوشه او مدهوشه مشران او کشران په دې نه دي خبر چې د هر فرد قرباني کم تر کمه پنځه افغانان د ویر پر ټغر او د غربت کندې ته ټېل وهي.

ښه به دا وي چې د ژمي له راتګ د مخه په راتلونکي کال کې د مخکې له وخت ټاکنو د ترسره کېدو مهالوېش اعلان شي، له نړیوالو مرسته وغوښتل شي چې په ګران وطن کې د مشروع حکومت د راتګ لپاره له افغانانو سره د سولې د بهیر د چټک کېدو او بریالیتوب لپاره هلې ځلې ګړندۍ کړي.

که ټاکنې ناشونې برېښي، ښه ده چې د سولې د بهیر د چټکېدا لپاره لنډمهالی حکومت جوړ شي، په دې توګه به اوربند ته زمینه برابره شي او د جنګ دواړه لوری به د نړیوال ضمانت په شتون کې د نوي حکومت جوړېدو ته زړه ښه کړي، که دا کار هم ناشونی وي، نو ښه ده چې خپل سیاسي سنت ته مخه کړو، د دودیزې لویې جرګې په رابللو روان کړکېچ ته د پای ټکی کېږدو.

د غني او عبدالله تر منځ یو ولسمشر- او بل د اپوزیسون مشر- وټاکو.

# د پای خبرې!

## د ډاکتر فیض محمد ځلاند قلم او مبارزه

محمد نبي صلاحي[۵۹]

د افغانستان قلم ټولنې، د ګران هېواد د شعري، ادبي او فرهنګي استعدادونو د لا هڅونې په لړ کې، دا ځل، (د ډاکتر فیض محمد ځلاند قلم او مبارزه) تر سرلیک لاندې، د ځوان کول د یوه ژمن لاربښود، هڅاند ژورنالیست، لیکوال او شاعر اُلپاره، د دغې ادبي ټولنې د ودانۍ په چمن کې، د ۱۳۹۳ لمریز کال، د لړم میاشتې په ۲۱مه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، په یوه نیمه بجه، یوه کامیابه ادبي غونډه جوړه کړې وه.

په نوموړې ادبي غونډه کې، د علومو اکاډمۍ او کابل پوهنتون یو شمېر څېړونکو او استادانو او په کابل سربېره، د ځینو ولایتونو، لکه پکتیا، پکتیکا، هلمند، ننګرهار او نیمروز له ولایتونو څخه هم، یو شمېر شاعرانو، لیکوالو، افغاني کلتور پالو، د مدني ټولنو استازو او د ځلاند د شعر، لیکوالۍ او څېړنو مینه والو او د ځوان کول د لومړۍ کربښې مبارزینو پکې ژوندی ګډون کړی و.

[۵۹] December ۲, ۲۰۱٤

غونډه، د دادمحمد ناوک له خوا، د قرآن کریم د یو څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه. په سرکې، محمد نواز حقیقت (سانین) له خوا، د غونډې برخه والو ته تود هرکلی او ښه راغلاست وویل شو. بیا خالد سادات، په روانه پښتنه مبارزه کې، د څلاند په غورزو پرزو باندې، لنډې، خو ښایسته خبرې وکړې او په خپله لنډه وینا کې یې، د هغه ځینو نوښتونو ته اشاره وکړه.

ورپسې خوشال روهي، د افغانستان قلم ټولنې دغه نوښت وستایه چې په یوه وړ او مستحق مدني فعال، څېړونکي، لارښود او شاعر باندې یې، یوه داسې پرتمینه ادبي غونډه جوړه کړې ده. ښاغلي روهي، په انټرنېټي او فیسبوکي فعالیتونو کې، د ښاغلي څلاند په پرله پسې او نه ستړي کېدونکي کار او په مدني فعالیتونو کې د څلاند په کردار باندې، یوه ډېره ښه معنالرونکې رڼا واچوله او په ځینو حالتونو کې یې، د زیاتې چټکۍ په برخه کې، د یو څه برېک نیولو سپارښتنه هم ورته وکړه.

ورپسې د کابل پوهنتون استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون، د ښاغلي څلاند گوتخنډنه او گوتم، دواړه وستایل او دا دواړه عکس العملونه یې، د افغانستان په کړکېچنو حالاتو کې، د یو شمېر گاونډیو هېوادونو، په ډېرې سپین سترگۍ سره د لاسوهنې او د هېوادنیو خاینینو په وړاندې، د څلاند د قلم او مبارزې په ډگر کې، بیخي روا او جایز وبلل.

ورسره یې، په الفاظو کې، د نرمښت په برخه کې، یو نوکي (لږ) ټینگار او تاکید هم وکړ. وروسته، محمد اسمعیل اړم، یو څو طنزیه ټپیزې او یو ډېر اوږد طنزیه شعر ولوست.



له هلمند ولایت څخه ښاغلي مېلمه لیکوال همدرد، د ښاغلي ځلاند په جوړوونکي استعداد، نیک احساس او پخه اراده باندې، په زړه پورې رڼا واچوله او هغه یې، یو خیر رسوونکی انسان او د ګران افغانستان رښتینی بچی وباله.

محبوب الله خان «زما د ماشومتوب ملګری ډاکتر ځلاند» تر عنوان لاندې، د ډاکتر ځلاند په ماشومتوب او د دوی تر منځ د دوستي او اشنایي، د ډېر نازک او باریک تار په برخه کې، خپله وینا واوروله. سعید زابلي، د ځلاند د شعر او شاعرۍ په یو شمېر اړخونو، خوبیو او ښکلاوو باندې خپله مقاله، د درنو اورېدونکو خدمت ته وړاندې کړه. عطاالله خان حیران، په خپله لنډه کې وینا کې، د ډاکتر ځلاند په باب غونډه، د خپل ځان په اړه یوه غونډه وبلله.

له مډیوتیک نه د راغلي مشر- عاطف جان، په خوږو خبرو سره، د ادبي غونډې د درنو ګډون والو د ذهنونو دروازې نورې هم خلاصې شوې. د ښاغلي حمدالله ارباب، هغه شعر چې ځلاند ته

یې له ننګرهار نه را استولی و، د ښاغلي تسکین له خوا ولوستل شو. د حمدالله ارباب، په وریښمینو ګوتو او د انځورګرۍ د ښکلیو رنګونو په نوښتګرۍ کښنې سره، د ډاکتر ځلاند انځور، د دغې ادبي غونډې د ګډونوالو، د شاعرانه ذهنونو پردې نڅولې او ټولو په یوه غږ سره، د هغه په هېوادپالنې، کلتورپالنې او پښتني استعدادپالنې باندې، د ده په غیاب کې افرینونه ویل او ډېر شاباس یې ورکاوه.

آغامحمد قریشي-، له هلمند څخه د راوړي پیغام په پلمه، تر دریغ پورې ځان را ورساوه او د ښاغلي ځلاند په حقداره ستاینو، پېرزوینو او صفتونو باندې یې، خوله تنګاکې شوه. ډاکتر کمال سادات، په وروستۍ غونډه کې، دغه غونډه، یوه ډېره بریالۍ غونډه وبلله او د افغانستان قلم ټولنه یې، په دغه ډول کارونو سره ښه وستایله.

د غونډې د برخه والو له ویناوو څخه داسې څرګندېده چې په ښاغلي ځلاند کې، د ګڼو بشري ځانګړتیاوو نطفه شته او د هغه په ککره کې، افغانستان د یوه اعلی کیفیت لرونکي انځور په شان، تل شین دی، نو ځکه، د غونډې مشرانو، د پښتنانه د مېړانې او پښتني کلتور د سمبول ښښه (پګړۍ)، د هغه پر سر کېښوده او دغه ککره یې، د یو شمېر منل شوو او وړ ککرو له جملې نه، یوه ښه مناسبه او له جوړوونکو فکرونو څخه ډکه، ځوانه ککره وبلله او د لاسونو په ترکا او د چکچکو په بدرګه یې، د هغه پر سر کېښوده.

هغه دي چې ښاغلي ځلاند، یو وار بیا، خپلو ملي ارمانونو ته د رسېدلو په منظور، له اوسپنې څخه جوړې شوې څپلۍ، د خپل

راتلـونکي کـړلېچن مزلـه لپـاره، د یـوه روڼ او سمســور افغانسـتان پـه هیله، رنګ کړي.

هغـه ده، پـه ډېـر بـاور او زمـري زړه سره، د غونـډې لـه تـالاره و ووت او پـه دې ډول، د دغـې ادبي غونـډې د ګـډون والـو د چکچکـو لاسـونه، د پروردګـار عـالم (ج) پـه لـوی دربـار کـې، د دعـا پـه منظـور، یـوه لپـه شـول او د برخـه والـو، «ځـه، پـه مخـه دې ښـه، لـه مخـې دې رڼـا شـه» لفظونـو، د ډاکـتر ځلانـد پـر سر، یـو اوسـپنیز چـتر جـوړ کـړ. هغـه دی روان دی، د سبا په امید!

هغه دی، روان دی!

هغه دی، مزل کوي!

هغه دی، بل ګام یې واخیست

هغه دی، هغه دی....